دافغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

د سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# دتضامني شرکت احکام دفقه او قانون له نظره

دماسترۍ رساله

محصل: احمدالله "احمدی"

لارښود استاد: وزیرمحمد "سعیدی"

کال: ۱۳۹۸ هـ لمریز - ۱۴۴۰ هـ ق

دافغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

د سلام پوهنتون
دشرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# دتضامني شرکت احکام دفقه او قانون له نظره

## دماسترۍ رساله

محصل: احمدالله "احمدی"

لارښود استاذ: وزیرمحمد "سعیدی"

کال: ۱۳۹۸ هـ لمریز ـ ۱۴۴۰ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارتمنټ

### د ماستری بورډ

# تـــصدیق نـــامـــه

ښاغلی احمدالله د عبدالله زوی د ID: SH-MSF-98-615 نمبر لرونکی، د فقه اوقانون د اوومې دورې محصـــل د ماستری مرحلې رســـاله چې عنوان يې: د تضامني شرکت احکام د فقه او قانون له نظره د دوشنبه ورځ په ۱۴۰۱/۱۲/۱۵هـ ل نېټه يې په بريالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزوني پر اساس د ۹۰ (نمرو په عدد) نوي (نمرو په حروفو) مستحق وگرځيد، له الله تعالی څخه ورته د لازياتې بريا غوښتونکي يو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور اصحاب الله اواب | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور محمد یونس ابراهیمی | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | استاد وزير محمد سعيدی | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورډ آمر.................... علمی مرستیال ....................

# ډالـــــــۍ

خپله دغه هڅه !

**ګران او زړه ته را نږدې پلار اروا ښاد مولوي عبدالله " احمدي" او خوږې مور جانې ته مې!**

چاچې د زده کړې په لاره کې تربل هرچا زيات روزلی او نازولی يم.

او خپلو استادانو ته که يو توری يې هم راښودلی وي، او هر هغه چاته چې د علم او پوهې لارې ته يې هڅولی يم.

په ډېره مينه او اخلاص ډالۍ کوم .

احمد الله "احمدي"

## مننليک

د هرڅه نه وړاندې د الله (جل جلاله) شکر اداء کونکی او مننداوی یم، چې د ماسترۍ ترکچې د رسېدلو، او د دې څېړنې د لیکلو توفیق یې را په برخه کړ، او د مور او پلار د احسان یاده ونه په ویاړ کومه، چې د دوی د مهربانۍ څخه د ډکو هڅو په پایله کې د پوهې دغه کچه هم سرته ورسېده، او د لوړو زده کړو د وزارت، د سلام پوهنتون د رهبرۍ، د ټولو استاذانو، اداري کارکونو او په ځانګړي ډول د شرعیاتو د پوهنځۍ د فقهې او قانون د ماسترۍ د د ډیپارتمنت له استادانو او اداري کارکونکو څخه مننداوی یمه، چې د علم او پوهې په ډګر کې نه ستړېدونکې هلې ځلې کړي، او په راتلونکې کې هم دوی ته د دغه ستر علمي بنسټ پرمخ بیولو کې د الله متعال څخه د بریا غوښتونکی یم، او له خپل لارښود استاد عزت مند او د قدر وړ ښاغلی وزیرمحمد "سعیدی" څخه د احسان پوروړۍ او مننداوی یم، چې د دې موضوع په ټاکلو، د تېروتنو په اصلاح کولو، دعلمي منابعو او سرچینو په پیدا کولو او زده کړې ته په هڅونه کې هېڅ را څخه نه دي سپمولي، او ټل یې د یو ملګري په څېر راسره د مشکلاتو په حل کې مرسته او همکاري کړېده.

په درنښت

احمد الله "احمدي"

# د څېړنې خلاصه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده أما بعد:

دغه څېړنه په پیلیزه او په دریو فصلونو کې وړاندې شوې چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

لومړی فصل: په دې فصل کې مې د تضامني شرکت په حقیقت او په اسلامي فقه کې د شرکتونو د مشروعیت، اوهمدا راز په اسلامي فقه کې د شرکتونو ډولونو او دغه رنګه په وضعي قانون کې د شرکتونو ډولونو په اړه بحث کړی، بیا د شرکت د تعریف او د هغې د عمومي او خصوصي رکنونو د بیان په ترڅ کې مې په اسلامي فقه کې د شرکت ځانګړتیاوې او د تضامني شرکت ځانګړتیاوې، او د تضامني شرکت د ادارې کولو په اړه مې کافي بیان کړې دی.

دویم فصل: په دې فصل کې مې د تضا مني شرکت حکم د اسلامي فقهې په رڼا کې او د هغې مطابقت داسلامي فقهې د شرکتو سره، او د تضامني شرکت په اسلامي فقه کې د ادارې احکام ، او په نوموړي شرکت کې د مدیر اجرت ا خستل همدغه راز د مدیر مسؤلیتونه، او په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت ضوابط، او د تضامني شرکت د شریکانو د برخې اغېزې، او د فصل په پای کې د شرکت د ګټو او تاوانونو ویش په هکله څېړنه کړې.

درېم فصل: په وروستي فصل کې د تضامني شرکت د پای ته رسولو لاملونه د اسلامي فقهې او د تجارتي قانون په رڼاکې مې په ګوته کړي، او د تضامني شرکت د فسخې احکام او د قراردادونو د لزوم او غیر لزوم په بنسټ ویشل، او دغه راز د نوموړي شرکت د تصفیې بیان، او د تضامنی شرکت د انحلال اغېزې، او په پای کې د اسلامي فقهې په رڼاکې د نوموړي شرکت د ختمېدو اغېزو څخه یادونه کړې ده.

د څېړنې خاتمه: چې بیا دا خاتمه د خورا مهمو پایلو او په ځینو سپارښتنو باندې ښایسته شوې ده، او د آیاتونو لړ لیک، د احادیثو لړلیک، داعلامو لړلیک او د منابعو لړلیک لره هم شامل دی.

# د موضوعات لړلیک

**پیلیزه** ........................................................................ ۱
د موضوع اهمیت: ........................................................................ ۲
د څیړنې لاملونه او ضرورت: ........................................................................ ۲
د څیړنې اصلي پوښتنې: ........................................................................ ۲
په دې موضوع کې مخکنۍ لیکنې: ........................................................................ ۳
د څیړنې کړنلاره: ........................................................................ ٤
د څیړنې اهداف: ........................................................................ ٤
څیړنې مشکلات: ........................................................................ ٥
د موضوع د جوړښت پلان: ........................................................................ ٥

**لومړی فصل: دتضامني شرکت حقیقت، ارکان، ځانګړتیاوې او اداره یې.** ........................ ۸

**لومړی مبحث: دتضامني شرکت حقیقت، مشروعیت اوډولونه یې.** ........................ ۸
لومړی مطلب: د تضامني شرکت حقیقت په فقه اوقانون کې: ........................ ۹
دویم مطلب: د شرکت مشروعیت: ........................ ۲۱
دریم مطلب: داسلامي فقهې او قانون دشرکتونو په ډولونو کې د تضامني شرکت شتون: ........................ ۲۷

**دویم مبحث:** ........................................................................ ٥۲

**د تضامني شرکت ارکان.** ........................................................................ ٥۲
لومړی مطلب: د تضامني شرکت عمومي ارکان په فقه او قانون کې: ........................ ٥۳
دویم مطلب: د تضامني شرکت خصوصي ارکان: ........................ ٦۱
دریم مطلب: د تضامني شرکت شکلي ارکان په فقه او قانون کې: ........................ ٦۷

**دریم مبحث:** ........................................................................ ۷۳

**د تضامني شرکت ځانګر تیاوې.** ........................................................................ ۷۳
لومړی مطلب: په اسلامي فقه کې دشرکتونو ځانګړتیاوې: ........................ ۷٤
دویم مطلب: د تضامني شرکت ځانګړتیاوې: ........................ ۷۷

**څلورم مبحث:** ........................................................................ ۸۰

**د تضامني شرکت اداره.** ........................................................................ ۸۰
لومړی مطلب: په تضامني شرکت کې دمدیرتاکل اوکوښه کول: ........................ ۸۱
دویم مطلب: په تضامني شرکت کې د مدیرواک او مسؤولیتونه: ........................ ۸٤

**دویم فصل:** ........................................................................ ۸٦

**د تضامني شرکت حکم، د اداري احکام او ضوابط یې.** ........................................ ۸٦

**لومړ مبحث: د تضا مني شرکت حکم په اسلامي فقه کې.** ........................ ۸٦
لومړی مطلب: د تضامني شرکت حکم په اسلامي فقه کې: ........................ ۸۷
دویم مطلب: د تضامني شرکت فقهي مطابقت: ........................ ۱۰۳

**دويم مبحث: ........................................................................................ ۱۱۱**

**په اسلامي فقه کي د تضامني شرکت د اداري احکام. ........................................ ۱۱۱**
لومړئ مطلب: په اسلامي شريعت کي د مدېر اجرت اخستل: ........................................ ۱۱۲
دويم مطلب: د مدير د چاروڅخه د شرکت مسؤليت. ........................................ ۱۱۵
دريم مطلب: د مدير مسؤليت دشرکت په وړاندې: ........................................ ۱۱۸

**دریم مبحث: ........................................................................................ ۱۲۰**

**په اسلامي فقه کي دتضامني شرکت ضوابط. ........................................ ۱۲۰**
لومړئ مطلب: په تضامني شرکت کي د ضمانت کولو مسؤليت. ........................................ ۱۲۱
دويم مطلب: په تضامني شرکت کي د شريکانو د ونډې د انتقال وړتيا: ........................................ ۱۲۳
دریم مطلب: په تضامني شرکت کي د ګټې او تاوان وېش: ........................................ ۱۲٦

**دريم فصل: ........................................................................ ۱۲۹**

**په اسلامي فقهې او قانون کي د تضامني شرکت ختميدل. ........................................ ۱۲۹**

**لومړئ مبحث: د تضامني شرکت د ختميدو لاملونه. ........................................ ۱۲۹**
لومړئ مطلب: په اسلامي فقه کي دتضامني شرکت د ختميدو لاملونه: ........................................ ۱۳۰
دويم مطلب: په قانون کي دتضامني شرکت د ختميدو لاملونه. ........................................ ۱۳۳

**دويم مبحث: ........................................................................................ ۱۳۸**

**په اسلامي فقه کي د تضامني شرکت د فسخ کولو احکام. ........................................ ۱۳۸**
لومړئ مطلب: د لغوه يافسخ کيدو د امکان له مخي د قراردادونو(عقودو) ډولونه: ........................................ ۱۳۹
دويم مطلب: د تضامني شرکت تصفيه: ........................................ ۱٤۱

**دریم مبحث: ........................................................................................ ۱٤۸**

**په اسلامي فقه کي د تضامني د شرکت د ختميدو اغيزې. ........................................ ۱٤۸**
لومړئ مطلب: د تير او راتلونکي لکبله د تړون پای ته رسيدو اغيزې: ........................................ ۱٤۹
دويم مطلب: په اسلامي فقه کي د تضامني شرکت د ختميدو اغيزې: ........................................ ۱۵۰
خاتمه ........................................ ۱۵۳
دآياتونو لړليک ........................................ ۱۵۵
داحاديثولړليک ........................................ ۱۵٦
د اعلامو لړليک ........................................ ۱۵۷
دمنابعو لړليک ........................................ ۱۵۸
The Research Summary ........................................ ۱٦٦

# پيليزه

الحمدلله رب العلمين، الذی أعزنا بالإسلام و الجهاد والدين، وهدانا إلی الصراط المستقيم، و صلی الله علی معلم الإنس والجن محمدا الأمين، وعلی آله و صحبه و تابعيهم بإحسان إلی يوم الدين.

امابعد:

د اسلام مبارک دين او اسلامي شريعت د انساني ټولنې د سمون لپاره هغه راليږل شوی دين او قانون دی، چې په بل دين کې يې هيڅ انډول نه ليدل کيږي، د انساني ټولنې څخه هر رنګه ناخوالې او بدۍ ورکوي او بېلابېلې خوش حالۍ، سوکالۍ او ارامتيا يې ور په برخه ګرځوي، هر فرد ته خپل ځانګړي حقوق ورکوي او هر يو په خپلو ځانګړو وجايبو مامور بولي، د هر چا حقوق په کې محفوظ او ساتل شوي دي.

د راکړې ورکړې موضوع زموږ په وخت کې يو له خورا جنجالي موضوعاتو څخه شميرل کيږي، ځکه چې د ورځنۍ راکړې ورکړې د يو بل سره خلط شوي او ننوتلي دي، او اسلام دغو راکړو ورکړو ته ډېره پاملرنه کړې ده، او د معاملو لپاره يې داسې سيستمونه، قوانين او تګلارې جوړې کړې دي، چې د هغو په پلي کېدو او مطلوب هدف ته د رسېدو لپاره په پوره غوره توګه د کار ډاډ ورکوي، تر څو کارونه په عادلانه او مستقيم ډول ترسره شي، او د دې لپاره چې خلک د مشروع معاملو له لارې، حلالې ګټې او ښه عايد پرته له بې عدالتۍ، انحراف او زيان څخه ترلاسه کړي.

بې له شکه، شرکتونه په ژوند کې يو مهم اقتصادي فعاليت او مهم کاروبارونه دي، په همدې اساس د وګړو تر منځ د پيوستون او همکارۍ له امله سترې سترې سوداګريزې پروژې او ستر صنعتي کارونه رامنځته کيږي، چې د دوی د تجربې، ليرې ليد، پراخ ذهنيت او ښه مديريت له امله رامنځ ته کيږي، چې هيڅوک په فردي توګه دغې کچې ته رسيدای نشي.

څوک چې غواړي د شرکت د مشروعيت ترشا په حکمتو باندې پوه شي، بايد د دې لويو ګټورو اغيزو په اړه فکر وکړي، ځکه چې دا د هغو کسانو لپاره روښانه حقيت دی، چې د دليل او استدلال په لټه کې وي، په ځانګړې توګه په دې عصر کې چې صنعتونو پرمختګ کړی او تجارت په داسې ډول وده کړې، چې په يوازې باندې انسان نشي کولی په دې کچه پرمختګ وکړي، نو د دغو اړينو فعاليتونو د اسانتيا لپاره د شرکتونو په چوکاټ کې د افرادو تر منځ د همکارۍ پرته بله چاره نشته، په همدې بنياد په دې څېړنه کې د شرکتونو له ډلې څخه د تضامني شرکت د قانوني حيثيت درلودلو سره فقهي حيثت يې څېړل شوی دی، چې د اسلامي فقهې له کومو شرکتونو سره ورته والی لري، تر څو ګرانو لوستونکو ته دا څرګنده شي، چې تضامني شرکت بنياد اينښودل په اسلام کې روا دی او که ناروا دی.

## د موضوع اهميت:

۱- زموږ په ټولنه کې د الله (تعالی) د لوی مهربانۍ له امله شرکتونه په ډیره زیاته کچه خواره شوي او متنوع شوي، او د ځمکې خزانې یې موږ باندې را خلاصې کړې دي، بیا ډیری شرکتونو نوي ایجاد شوي، چې د اسلامي فقهې د شرکتو په لړلیک کې یې نوم شتون نه لري، نو اړتیا ده چې په اسلامي فقهې کې یې د حکم بیان وشي، له دې شرکتونو د ډلې څخه یو هم د تضامني شرکت دی.

۲- دغه موضوع د مالي راکړې ورکړې په تنظیمولو کې د اسلامي شریعت د پاکیزه ګۍ او عدل څرګنده میدان، او د اسلامي شریعت د فرد او د ټولنې د مصلحتو، منافعو او ګټو حاصلولو له کبله د حریص والي ښکارندویي کوي.

۳- او دغه موضوع د خلکو او د هغوی د ورځني ژوند له واقعیتونو سره اړخ لګوي، او ډیری خلک د عباداتو له احکامو څخه ناخبره دي، نو د راکړې او ورکړې احکام خو په ځای پرېږده، بیا په ځانګړې توګه د شرکتونو احکام او هغه څه چې په شرکتو په داخل کې تیریږي.

## د څیړنې لاملونه او ضرورت:

۱- په دې کې شک نشته چې ډېر خلک غواړي چې په شرکتونو کې د الله (جل جلاله) تاکل شوي احکامو او په ډولونو باندې ځان پوه کړي، په ځانګړې توګه د شرعي علومو زده کوونکي په نوموړي احکامو باندې پوه شي، او دا د دې موضوع د غوره کولو لوی لامل و .

۲- د خلکو د ورځه نیز ژوند د ستونزو حل، او د سمو او راجحو نظرونو ښکاره کېدل په اختلافي مسئلو کې، ترڅو د ټولو مؤمنانو سره د هغه څه چې سم وي، په ټاکلو کې مرسته وشي.

۳- د تضامني شرکت د فقهې مطابقت بیان، او په دې څېړنه کې یې په آسانه توګه وړاندې کول تر څو د هغه چا لاس رسی ورته وشي چې ورته اړتیا لري، که د علم زده کوني وي، محصلین وي او یا هر هغه د شرکت شریک چې د شریعت حاکمیت غواړی په خپلو راکړو ورکړو او سوداګریزو چارو کې.

۴- زموږ په ټولنو کې د شرکتونو لوی شمیر، او له همدې امله د شرکتونو د چارو په مسئلو کې د خلکو د نظر اختلاف.

## د څیړنې اصلي پوښتنې:

۱- تضامني شرکت د اسلامي شریعت له نظره څه حکم لري؟

## د څېړنې فرعي پوښتنې:

۱- تضامني شرکت د اسلامي فقهې له کومو شرکتو سره اړخ لګوي ؟

۲- تضامني شرکت په کوم ډول تجارتي شرکتو کې شمېرل کېږي ؟

۳- تضامني شرکت کومې ځانګړتیاوې لري ؟

## په دې موضوع کې مخکنۍ لیکنې:

د دې موضوع په اړه د پخوانیو کتابونو د څېړنې او تعقیب له لارې، او د ډېرې هڅې سره په دې ونه توانېدمه چې دا سې یو کتاب ومومه، چې په ځانګړې توګه یې په پورتنۍ موضوع باندې بحث کړی وي، البته داسې کتابونو ته مو لاس رسی پیداکړ، چې په عامه توګه یې د شرکتونو څخه بحث کړی، یا د شرکتونو له یوه ځانګړي ډول څخه څېړنه کړې ده، د بېلګې په ډول:

۱- شرکات الأشخاص بین الشریعة و القانون:

د چاپ کال:۱۴۳۲هـ ۲۰۱۱م، د چاپ ځای: دارالتدمیریة، الریاض، المملکة العربیة السعودیة.

چې د دکتور محمد بن إبراهیم الموسی لیکلی دی، او چې دغه څېړنه په عامه توګه د اشخاصو په شرکتو باندې را څرخیږي، کوم چې یو ډول د معاصرو شرکتو څخه دی، او د اموالو دشرکتو یادونه په کې نه ده شوي.

۲- الشرکات في الشریعة الإسلامیة:

د چاپ کال:۱۴۱۴هـ ۱۹۹۴م، دچاپ ځای: مؤسسة الرسالة، بیروت، لبنان.

چې دکتورعبد العزیز عزت الخیاط لیکلی دی، څرنګه چې له نوم څخه یې څرګندیږي، په دغه څېړنه کې په عمومي توګه د اسلامي شرکتونو او د وضعي قوانینو له شرکتو څخه بحث شوی دی.

۳- الشرکات في الفقه الإسلامي والتشریع الوضعي:

د چاپ کال:۱۳۸۹هـ، دچاپ ځای: مکتبة المعهد العالي للقضاء، الریاض، المملکة العربیة السعودیة. چې دکتورسعود بن سعد الدریب لیکلی دی، دا هم په عمومي ډول د شرکتونو په اړه څېړنه ده، څرنګه چې د فقهاوو لخوا د شرکتو بیان شوی، لکه د شرکت تعریف، مشروعیت، ډولونه او احکام، او بیایې د هغه څه سره پرتله کول چې په وضعي قانون کې وي.

۴-دغه رنګه داسلامي فقهې کتابونو نوموړې موضوع په عامه توګه دبیلا بیلو عنوانو لاندې د بحث لاندې نولې ده.

۵- همدغه راز ځینې علمي مقالې هم په دې موضوع لیکل شوي، خو د دغې موضوع په ځینو جزئیاتو باندې را څرخیږي.

البته د دې څیړنې توپیر د مخکنیو څیړونو سره دادی، چې وړاندنیو څیړنو په عامه توګه د شرکتونو په موضوع باندې بحث او لیکنې کړي دي، یا یو ډول شرکت یې دبحث لاندې نیولی دی پرته د تضامني شرکت څخه، یا ځینو مقالو د یوه شرکت ځینې جزئیات څیړلي دي، مګر په دې څیړنه کې د تضامني شرکت هر اړخیزه څیړنه د توان موافق، د اسلامي فقهې او وضعي قانون په پرتله کولو سره کړې ده.

## د څیړنې کړنلاره:

څرنګه چې په افغانستان کې ډېرې ستونزې او کړاوونه شته دي، یو له هغو ستونزو د کتابونو نشتوالي دی، خو ما کوښښ کړی دی، چې له معتمدو کتابونو څخه اقوال رانقل کړم، او د څیړنیزو مسایلو په اړه مې هڅه کړې، چې د پوهانو ویناوې او د هغوی متنونه له خپلو اصلي سرچینو څخه را واخلم، او بیا د شواهد ترڅنګ مې ترټولو صحیح نظر ذکر کړی، او زیار مې وېستلی چې هر مصنف ته د هغه خپل قول منسوب کړم، او د علمي امانت خیال و ساتم او د ایاتونو ترجمه او ژباړه مې له تفسیرونوڅخه اخستې.

لکه څنګه چې په دې بحث کې قرآنی آیتونونه او نبوی احادیثوباندې استناد او استدلال شوی، نو دابحث مې داستنباطی او استقرائی په کړنلاره باندې لیکلی.

د دې بحث لیکل شوي مواد مو له مختلفو کتابونو څخه دملګرو په مرسته چې راته لارښودنه یې کړې را ټول او ورسته له ترتیب او تنظیم مې دخطې مطابق لیکل کړي، او کوښښ مې کړی چې لیکل ساده، سلیسه او روانه پښتو وي، تر څو لوستونکي بې له کوم مشکل څخه پرې پوه شي.

## د څیړنې اهداف:

۱- ددې بحث لومړۍ موخه او هدف د الله (جل جلاله) رضاء لاسته راوړل، او د اسلامي شریعت پلې کېدو ته د بلنې په لار کې قدم اېښودل دي.
۲- دګرانو لوستونکو پام او توجه د راکړې او ورکړې احکامو ته را اړول، بیا په ځانګړې توګه د شرکتونو احکامو او هغه څه چې په شرکتو په داخل کې تیریږي.

۳- د ګرانو لوستونکو حضور ته د هغه څه وړاندې کول، چې د شرکت د بطلان او فساد او یا د فسخ او انحلال سبب جوړیږي.

۴- د پانګې د ښې پانګونې لپاره د سمې لارې چارې لټول، او په خپل علم کې یوڅه نوښت راوستل دي.

۵- او بله دا چې د لوړو زده کړو وزارت دلایحې مطابق د خپل مسؤلیت او دندې تر سره کول.

## څیړنې مشکلات:

دا څیړنه د اسلامي فقهې په رڼاکې د تضامني شرکت د موضوع علاج کوي، دا ځکه چې زموږ په اوسني وخت او زمانه کې ډېری داسې شرکتونه رامنځته شوي، چې ځینې یې له اسلامي شریعت سره مطابقت لري او ځینې یې د اسلامي شریعت سره هیڅ سمون نه خوري، نو څیړنه د تضامني شرکت بیاکتنه کوي اود دې شرکت پورې د ځانګړو رکنونو، شرایطو او احکام او د دې شرکت د مشروعیت بیان کوي.

## د موضوع د جوړښت پلان:

دغه څېړنه جوړه شوې ده له پیلیزې، درې فصلونو او خاتمې څخه چې په لاندې ډول وېشل شوې ده:

پیلیزه: چې لاندني عنوانو لره شامل دی:

د موضوع اهمیت، د څیړنې لاملونه او ضرورت، د څیړنې اصلي پوښتنې، د څیړنې فرعي پوښتنې، په دې موضوع کې مخکنۍ لیکنې، د څیړنې کړنلاره، د څیړنې اهداف او د څیړنې مشکلات.

لومړی فصل: د تضامني شرکت حقیقت، ارکان، ځانګړتیاوې او اداره یې.

چې څلورو مبحثولره شامل دی:

لومړی مبحث: دتضامني شرکت حقیقت، مشروعیت او ډولونه یې.

چې درې مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: د تضامني شرکت حقیقت په فقه اوقانون کې.

دویم مطلب: د شرکت مشروعیت.

دریم مطلب: داسلامي فقهې او قانون د شرکتونو په ډولوکې د تضامني شرکت شتون.

دویم مبحث: دتضامني شرکت ارکان.

دغه مبحث درې مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: د تضامني شرکت عمومي ارکان په فقه او قانون کې.

دویم مطلب: د تضامني شرکت خصوصي ارکان.

درېم مطلب: د تضامني شرکت شکلي ارکان په فقه او قانون کې.

درېم مبحث: دتضامني شرکت ځانګړتیاوې.

دغه مبحث دوه مطلبولره شامل دی:

لومړی مطلب: په اسلامي فقه کې دشرکتونو ځانګړتیاوې.

دویم مطلب: د تضامني شرکت ځانګړتیاوې.

څلورم مبحث: دتضامني شرکت اداره.

دغه مبحث دوه مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په تضامني شرکت کې دمدېر ټاکل او ګوښه کول.

دویم مطلب: په تضامني شرکت کې د مدیر واک او مسؤلیتونه.

دویم فصل: د تضامني شرکت حکم، د ادارې احکام او ضوابط یې.

دغه فصل درې مبحثولره شامل دی:

لومړی مبحث: د تضا مني شرکت حکم په اسلامي فقه کې.

دغه مبحث دوه مطلبولره شامل دی:

لومړی مطلب: د تضامني شرکت حکم په اسلامي فقه کې.

دویم مطلب: د تضامني شرکت فقهی مطابقت.

دویم مبحث: په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت د ادارې احکام.

دغه مبحث درې مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په اسلامی شریعت کې د مدیر اجرت اخستل.

دویم مطلب: د مدیر د چاروڅخه د شرکت مسؤلیت.

درېم مطلب: د مدیر مسؤلیت دشرکت په وړاندې.

درېيم مبحث: په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت ضوابط.

دغه مبحث درې مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په تضامني شرکت کې د ضمانت کولو مسؤليت.

دويم مطلب: په تضامني  شرکت کې د شريکانو د ونډې د انتقال وړتيا.

درېيم مطلب: په تضامني شرکت کې د ګټې او تاوان وېش.

درېيم فصل: په اسلامي فقهې او قانون کې د تضامني شرکت ختميدل.

چې درې مبحثو لره شامل دی:

لومړی مبحث: د تضامني شرکت د ختميدو لاملونه.

دغه مبحث دوه مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په اسلامي فقه کې دتضامني شرکت د ختميدو لاملونه.

دويم مطلب: په قانون کې دتضامني شرکت د ختميدو لاملونه.

دويم مبحث: په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت د فسخ کولو احکام.

دغه مبحث دوه مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: د لغوه يافسخ کيدو د امکان له مخې د قراردادونو (عقودو) ډولونه.

دويم مطلب: د تضامني شرکت تصفيه.

درېيم مبحث: په اسلامي فقه کې د تضامني د شرکت د ختميدو اغيزې.

دغه مبحث دوه مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: د تير او راتلونکي لکبله د تړون پای ته رسيدو اغيزې.

دويم مطلب: په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت د ختميدو اغيزې.

خاتمه: چې ځينو مهمو پايلو او ځينو سپارښتنو، او د آياتونو لړ ليک، د احاديثو لړليک، داعلامو لړليک او د منابعو لړليک لره شامل دی.

## لومړی فصل: دتضامني شرکت حقیقت، ارکان، ځانګړتیاوې او اداره یې.

چې څلورو مبحثولره شامل دی:

لومړی مبحث: د تضامني شرکت حقیقت، مشروعیت او ډولونه یې.

دویم مبحث: د تضامني شرکت ارکان.

دریم مبحث: د تضامني شرکت ځانګړتیاوې.

څلورم مبحث: د تضامني شرکت اداره.

### لومړی مبحث: دتضامني شرکت حقیقت، مشروعیت اوډولونه یې.

چې درې مطلبو لره شامل دی: لومړی مطلب: د تضامني شرکت حقیقت په فقه اوقانون کې.

دویم مطلب: د شرکت مشروعیت.

دریم مطلب: دشرکت ډولونه په فقه اوقانون کې.

#### لومړی مطلب: د تضامني شرکت حقیقت په فقه اوقانون کې:

الف: د شرکت پیژندنه دفقهې په رڼاکې.

ب: د شرکت پیژندنه د قانون په رڼا کې.

ج: د تضامني شرکت پیژندنه.

#### دویم مطلب: د شرکت مشروعیت:

الف: نقلي دلایل.

ب: عقلي دلایل.

#### دریم مطلب: د اسلامي فقهې او قانون د شرکتونو په ډولو کې دتضامني شرکت شتون:

الف: د اسلامي فقهې په درېګونو شرکتو کې د تضامني شرکت شتون.

ب: د عقد شرکت په ډولو کې د تضامني شرکت شتون.

ج: د شرکت ډولونه په تجارتي قانون کې.

## لومړۍ مطلب: د تضامني شرکت حقیقت په فقه اوقانون کې:

تضـامني شـرکت دشـرکتونو لـه ډلـي څخـه یـو ډول دی، چـې دتضـامني شـرکت څخـه وړانـدې بایـد دشرکت پېژندنـه وشـي، نوضـروري مـو وګڼلـه چـې لـومړۍ دشـرکت حقیقت، اوبیـا تضـامني شـرکت و څېړل شي.

**الف: د شرکت پیژندنه دفقهې په رڼاکې:**

**د شرکت لغوي پیژندنه:** الشرکة په لغت کې: الخلطة ای مخالطة الشریکین، والشرکة ان تکون بـین اثنین لاینفرد احدهما عن الآخر. [1]

ژباړه: شرکت ګډولو ته وایې، یعنې د شریکانو ګډ والی، او دې دوو کسـانو پـه منځ کـې د یـو څېـز داسې کېدل چې د یوه کس له بل څخه بیل نه وي، دغه رنګه یوځای والی شرکت بلل کېږي.

لکه عرب وایې: شارکت فلانا في الشيء ای صرت شریکه. [2]

ژباړه: دفلان سرې سره شریک شوم په یوه شي کې یعنـي ورسـره یوځـای شـوم پـه هغـه شـي کـې. دغه رنګه الله (جل جلاله) فرمایلې: { وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي }[3]

ژباړه: او (هم) زماورور (هارون) زماپه کار (پیغمبري دعوت) کې (راسره) شریک کړې.

دشرکت دلغوي پېژندنې څخه داڅرګندیږي، چې دشرکت اطلاق پـه ډېـرو معنـاو بانـدې کېـږي، چـې له مهمو معناو څخه یې د مالونو یوله بل سره ځای والی، دشریکانو دکاراوعمل یوځـای والـی اوپـه عقد (تړون) دشرکت باندې هم اطلاق کېږي، ځکه چې دیوځای والي سبب شرکت دی.

**شرکت په اصطلاح کې:**

په اسلامي فقه کې شرکت پرڅو ډولونو باندې وېشل شوی دی، اوهریو یـې ځـانګړی تعریـف لـري، فقهاء دشرکت د اصطلاحي تعریف په هکله پر دوه ډلو بانـدې تقسیم شوي، لـومړۍ ډلـه دفقهـاو پـه دې نظردي، چې دشرکت دپاره داسې یو جامع اصـطلاحي تعریـف نـه مونـدل کېـږي، چـې دشـرکت ټـول اقسام خپل سیوري لاندې راغونډ کړي، ځکه چې شرکت مختلف ډولونـو او احکـام لـري، چـې د یـوه

[1]-ابن فارس،ابی الحسین احمد بن فارس،معجم مقاییس اللغة،مادة: شرک،ټوک ګڼه :۳،پاڼي ګڼه :۲۶۵، لومړۍ چاپ، دچاپ کال: ۱۴۱۵هـ۱۹۹۴م، دچاپ ځای:دارالفکربیروت لبنان.ابن منظور، محمد بن مکرم بن علی،لسان العرب، مادة:(شرک) ټوک ګڼه: ۱۰ پاڼي ګڼه: ۴۴۸، دریم چاپ، دچاپ کال: ۱۴۱۴هـ ق، دچاپ ځای: دارصادر بیروت.
[2]- ابن فارس،ابی الحسین احمد بن فارس،معجم مقاییس اللغة،مادة: شرک،ټوک ګڼه :۳،پاڼي ګڼه :۲۶۵.
[3]- د طه د سورت ۳۲ آیت.

تعریف لاندې را وستل یې ستونزمن دی، نوله همدې کبله یې دشرکت دپاره اصطلاحي تعریف نه دی ذکر کړی.

مګر ځینې نوروفقهاو د شرکت دپاره بیلابیل اصطلاحي تعریفونه په لاندې ډول یادکړي:

الزَبِیدي[1] داحنافو د فقهاو څخه دشرکت اصطلاحي تعریف داسې بیانوي:

عبارة عن عقد بین المتشارکین فی الأصل والربح.[2]

ژباړه:

شرکت د شریکانو تر منځ د هغه تړون څخه عبارت دی، چې دواړه شریکان په پانګه او ګټه کې سره ګډ وي.

دپورتني تعریف څخه دا څرګندیږي، چې په شرکت کې پانګونه باید د شریکانو لخوا تر سره شوې وي، بیابه ګټه هم دشریکانو په منځ کې وېشل کیږي، نو د دې تعریف په رڼا کې مضاربت ته شرکت نه ویل کیږي، ځکه دمضاربت په شرکت کې رب المال اومضارب یواځې په ګټه کې سره شریک وي، او پانګونه یواځې د رب المال د جانبه وي.

الخلیل[3] د مالکیانو د فقهاو څخه دشرکت اصطلاحي تعریف داسې بیانوي:

إذن في التصرف لهما مع أنفسهما. [4]

ژباړه:

شرکت د تصرف کولو له اجازې څخه عبارت دی، د دواړو شریکانو لپاره او یا هم ځان ځانته تصرف کول.

---

[1] الزبیدي،أبوبکربن علي بن محمدالحداد، دا د یمن دهیواد د حنفي مذهب مفسر او فقیه دی، او په حنفي فقه کې ډېر ګټور آثار لیکلي، چې شمیر یې ۲۰ ته رسیږي، لکه: (السراج الوهاج) اته ټوکه او (الجوهرة النیرة) دوه ټوکه چې دواړه د مختصر القدري شرحې دي، او یو تفسیر چې په تفسیر حداد باندې شهرت لري، او په ۸۰۰هـ کال کې وفات شوی. الزرکلي، خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۲، دپاڼې ګڼه: ٦٧، دچاپ کال: ۲۰۰۲م، د چاپ ځای: دار العلم للملایین.

[2] -الزبیدي،أبوبکربن علي بن محمدالحداد،الجوهرة النیرة شرح مختصرالقدري،ټوک ګڼه: ۱، دپاڼې ګڼه:۶۱۶،لومړیچاپ دچاپ کال: ۱۴۲۷ هـ ۲۰۰۶م، دچاپ ځای: دارالکتب العلمیة بیروت لبنان.

[3] خلیل بن اسحاق الجندي: دا د مصر دهیواد د مالکي مذهب فقیه دی، زده کړې یې په قاهرة کړي، دمالکي مذهب افتاء یې هم په غاړه وه، د معسکر یونوفرم به یې په تن وو، او په مالکي مذهب کې خورا مهم آثار لري، لکه: (مختصر الخلیل) چې ډېر شروح ورباندې لیکل شوي دي، او فرانسوي ژبې ته هم ژباړل شوی دی، او (التوضیح) او (المناسک) او (مخدرات الفهوم فیما یتعلق بالتراجم والعلوم) په ۷۷۶هـ ۱۳۷۴م کې وفات شوی. الزرکلي، خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۲، دپاڼې ګڼه: ٦٧.

[4] - خلیل، خلیل بن اسحاق الجندي، مختصرالخلیل، دټوک ګڼه:۱، دپاڼې ګڼه : ۱۸۵، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۱۶هـ ۱۹۹۵م، دچاپ ځای:دارالکتب العلمیة بیروت.

خطیب الشربیني[1] دشوافعو د فقهاو څخه دشرکت اصطلاحي تعریف داسې بیانوي:

ثبوت الحق في شيء لاثنین فأکثر علی جهة الشیوع. [2]

ژباړه: په یوڅیز کې د حق ثابتېدل د دوو یا ډېرو کسانو لپاره د شمول په توګه باندې، دېته شرکت ویل کیږي.

دپورتني تعریف ښه والی دادی، چې د ملکیت او دعقد دواړو شرکتو لره شاملیږي.

ابن قدامه[3] دحنبلي فقهاوڅخه دشرکت اصطلاحي تعریف داسې بیانوي:

الإجتماع في استحاق أوتصرف.[4]

ژباړه: یو کېدل د مستحق ګرځېدو (د عین اونفعې ) اوتصرف ته شرکت ویل کیږي.

د پورتني تعریف څخه دا څرګندیږي، چې شرکت د دوه و څیزو څخه جوړ دی:

لومړی استحقاق: یعني دحق درلودلو په اعتبار د دوه یا د ډېرو کسانو ترمنځ د یو څه شریک والي.

دبیلګي په ډول: یو کور چې په میراث پاتې وي دمیت څخه، نو وارثان یې په میراثي کور کې ګډ حق لري، بدون له کوم تړون اوعقد څخه.

همدغه رنګه غازیان مجاهدین دغنیمت په مال کې سره ګډ حق لري.

اوکله یواځې په ګټه کې سره شریک حق لري بدون دعین څخه لکه: چې یو کور دوه تنو ته ګډ ورکړل شي، ترڅو یواځې د استوګنې دپاره ورڅخه ګټه واخلي.

دویم تصرف: یعني د یوه تړون پر بنیاد د دوه یا ډېرو کسانو ترمنځ په یو څه کې تصرف کول ګډ او شریک وي.

[1] شمس الدین محمد بن احمد الشربیني: دا د مصر د هیواد د شافعي مذهب فقیه، مفسر، متکلم او نحوي عالم دي، چې ډېر لیکلي آثار ورڅخه په ځای پاتې دي، لکه: په علم التفسیر کې (السراج المنیر ۴ ټوکه) او په علم الفقه کې (الاقناع في حل الفاظ ابي شجاع ۲ ټوکه ) او (مغني المحتاج ۴ ټوکه) او په علم البلاغة کې (تقریرات علی المطول ) او په ۹۷۷هـ ۱۵۷۰م کال د مصر دقاهرې په ښار کې ومړ. الزرکلي، خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۶، دپاڼې ګڼه: ۶.

[2]-الشربیني، شمس الدین محمد بن احمد، مغني المحتاج الی معرفة الفاظ المنهاج، دټوک ګڼه : ۵، دپاڼې ګڼه : ۴۸، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۱۵هـ ۱۹۹۴م، دچاپ ځای: دارالکتب العلمیة بیروت.

[3]ابن قدامة: د فلسطین هیواد د حنبلي مذهب ستر فقیه امام دی، چې د جماعیل په کلي په ۵۴۱هـ کال کې سترګې دنیاته غړولي، او په فلسطین باندې د صلیبیانو د تېري څخه وروسته دمشق ته مهاجر، او د سلطان صلاح الدین ایوبي سره فلسطین ته په فاتحانه توګه ور داخل شو، او مهم آثار ورڅخه په ځای پاتې، لکه: (المغني ۱۰ ټوکه) ، (الکافي ۴ ټوکه)، (المقنع)، (العمدة) او داسې نور. او دکوچني اختر په ورځ په ۶۲۰هـ په دمشق کې ومړ. الزرکلي، خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۴، دپاڼې ګڼه: ۶۷.

[4]-ابن قدامة، أبي محمدعبدالله بن أحمد بن محمد، المغني لابن قدامة، دټوک ګڼه: ۵، دپاڼې ګڼه : ۱۰۹، دچاپ کال: ۱۳۸۸هـ ۱۹۶۸م، دچاپ ځای: مکتبة القاهرة.

معاصرعالم الخفيف[۱] شرکت داسې تعريفوي: عقد بين اثنين أو أکثر على الاشتراک فى المال، وربحه أوعلى الاشتراک فى ربحه دون الاشتراک فيما يباع ويشتري دون أن يکون هناک رأس مال يتجر فيه. [۲]

ژباړه: شرکت عبارت دهغه تړون څخه دی، چې د دوه یاډېرو کسانو ترمنځ چې په پانګه اوګټه کې سره شريک وي، يا يواځې په ګټه کې شريک وي، پرته دهغه څه نه چې پېري يا پلوري او پرته د شتون دمال او پانګې څخه چې تجارت وګړي.

دشرکت په اړه مو يواځې د پورتني معاصر عالم په نظر باندې اکتفا وکړه، او دنورو معاصروعلماو تعريفونه مو را نقل نه کړه، ځکه چې دهغوی تعريفونه دعقد په شرکت باندې را څرخېږي، د عقد شرکت ګڼ ډولونه لري، اودځانګړيو تعريفو څخه برخمن دي، د اوسني عنوان لاندې يې ځايول ناشوني دي، نو دڅېړنې په ترڅ کې به ورڅخه يادونه وکړم.

دشرکت ترټولوغوره اصطلاحي تعريف:

دشرکت په اړه د فقهاو د پورتنيو تعريفو څخه دا جوتېږي، چې ترټولو غوره اوجامع د احنافو تعريف دی، چې په لنډو ټکو کې شرکت داسې را پېژني: عبارة عن عقد بين المتشارکين فى الاصل والربح .

ژباړه: شرکت عبارت د شريکانو تر منځ د هغه تړون څخه دی، چې دواړه شريکان په پانګه او ګټه کې سره ګډ وي.

دغوره والي اسباب يې:

حنفي فقهاو دشرکت کوم تعريف چې ياد کړی دی، دلاندېني اسبابو له کبله غوره تعريف دی:

۱-که دحنبليانو تعريف ته نظر وکړوچې: الإجتماع في استحاق أوتصرف.

نو دا عام تعريف دی، چې د شرکت اغېزې او پايلې ته په کې ډيره پاملرنه شوي ، او د شرکت حقيقت پيژندلو ته په کې کومه ځانګړې کتنه نه ده شوې.

---

[۱] علي الخفيف: دا د مصر د هيواد جيد عالم او قاضي دی،چې په معاصرو علماو کې ستر شخصيت ګڼل کېږي،چې قاهرې په پوهنتون کې د حقوقو د پوهنځی استاد،او دقاهرې د مجمع اللغة العربية او د الازهر د مجمع البحوث الاسلامي غړی پاتې شوی، او ډېر علمي آثار ورڅخه په ځای پاتې دي، لکه: (احکام المعاملات الشرعية، احکام الوصية، اسباب اختلاف الفقهاء، التأمين وحکمه على هدى الشريعة الاسلامية، الشرکات فى الفقه الاسلامي) او داسې نور، چې په ۱۳۰۹هـ ۱۸۹۱م کال کې پيدا او په ۱۳۹۸هـ ۱۹۷۸م کال کې ومړ، شبير، الدکتور محمدعثمان، علماء ومفکرون معاصرون الشيخ علي الخفيف، دپاڼې ګڼه: ۱۷، ۲۹، ۱۱۳، دچاپ کال:۱۴۲۳هـ۲۰۰۲م، دچاپ ځای: دارالقلم دمشق.

[۲]- الخفيف، علي الخفيف، الشرکات فى الفقه الاسلامى، دپاڼې ګڼه: ۲۶، دچاپ کال: ۱۴۳۰هـ ۲۰۰۹م، دچاپ ځای: دارالفکر العربى القاهرة.

۲- که دمالکیانو دشرکت تعریف ته نظر وکړو چې: إذن في التصرف لهما مع أنفسهما.

نو د مضاربت شرکت ته نه شاملیږي، ځکه چې دمضاربت په شرکت کې پانګه اوکار دواړه دشریکانو تر منځ ګډ نوي، پانګه د یوجانب لخوا او کار دبل جانب لخوا څخه وي.

۳- که دشوافعوتعریف ته سترګي وغړه وو چې: ثبوت الحق في شيء لاثنين فأكثر على جهة الشيوع.

نو دمضاربت شرکت ورڅخه خارجیږي، ځکه چې دمضاربت په شرکت کې د تړون په لومړي سر کې ثابت حق یواځې د رب المال وي، چې پانګه ده او دویم شریک یعني عامل په پانګه کې هیڅ ډول ثابت حق نه لري، د همدې کبله دا تعریف دقوت څخه خالي دی.

۴- که دمعاصرعالم الخفیف تعریف ته غوراوفکر وکړو چې: عقد بين اثنين أو أكثر على الاشتراک فی المال، وربحه أوعلى الاشتراک فی ربحه دون الاشتراک فیما یباع ویشتري دون أن یکون هناک رأس مال یتجر فیه.

نو دغه تعریف څخه د ملک شرکت خارجیږي، او یواځې دعقد په شرکت باندې را څرخیږي، له همدې کبله د قوت څخه برخمن نه دی.

۵-او د احنافو دشرکت تعریف واضح، روښانه، په لنډو ټکو کې اوجامع تعریف دی چې: عبارة عن عقد بین المتشارکین فی الاصل والربح.

د ټولو پورتنیو تعریفو څخه غوره تعریف دی، ځکه چې په دې تعریف کې د شرکت له حقیقت څخه پرده پورته شوې، چې شرکت عبارت د عقد څخه دی، او نورو علماو د شرکت په تعریف کې ځینو یې د شرکت موخې او ځینو یې د شرکت اغېز او ځینو نورو یې بیا د شرکت پایلې ته په کتو سره شرکت را پېژندلی دی.[1]

**ب: دشرکت پېژندنه دقانون په رڼاکې:**

په وضعي قوانینو کې دشرکت لپاره د یوه عام تعریف یادونه نه ده شوې، چې دشرکت ټولو ډولونوته شامل شي، البته دشرکت تعریف په وضعي قوانینو کې د فقهي دعقد په شرکت باندې را څرخیږي، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کیږي:

دافغانستان مدني قانون دعقد شرکت داسې را پیژني:

[1]- الزحیلي، وهبة بن مصطفي، موسوعة الفقه الاسلامي والقضایا المعاصرة، د ټوک ګڼه: ۴، د پاڼې ګڼه: ۵۸۸، دچاپ کال: ۲۰۱۰م، دچاپ ځای: دارالفکر دمشق.

شرکت د داسې عقد څخه عبارت دی چې دهغه په موجب دوه یاد دوو څخه زیات اشخاص تعهد کوي، چې دیومالي فعالیت په کار اچولو دپاره دیوې اندازې مال په ورکولو یا د کار د سرته رسولو یا په بل اعتبار، په داسې توګه سره شریک شي، چې ګټه او خساره به یې ترمنځ د هغې موافقې په اساس چې د دوی ترمنځ شوی وي وېشل کیږي.[١]

دافغانستان دتضامني شرکتونو قانون چې د تقنیني فرمان لـه مخې پـه (١٣٨٥) لمریز کـال کې نافذ شوی، په دوهمه ماده کې عقد شرکت داسې راپیژني:

شرکت د دوو یا لـه دوو څخه دزیاتو اشخاصـو یو والـي دی، چې دشراکت دعقد پربنسټ دګډو مالکانو په توګه، دګټې دلاسته راوړلوپه منظورجوړ او فعالیت کوي.[٢]

دافغانستان دتجارت اصولنامه تجارتي شرکتونه داسې راپیژني:

تجارتي شرکتونه عبارت دځو کسانو له اشتراک څخه دي، چې په یوه یا متعددو موضـوع ګـانو کې دتجارتي معاملاتو داجراء په مقصد پیداکیږي.[٣]

دفرانسې مدني قانون شرکت داسې راپیژني:

شرکت عبارت دهغه تړون څخه دی، چې دوه یادېرکسان داسې توافق وکړي، چې یوځېز داحتمالي ګټې په موخه په شرکت کې یوځای کړي.[٤]

شرکت دعربوپه مدني قوانینوکې:

دسوریې مـدني قـانون، د مصـر مـدني قـانون او د اردن مـدني قـانون عقد شـرکت داسـې راپېژنـي: شرکت عبارت دهغه تړون څخه دی ، چې دوه یادېرکسان چې دخپلې مالي یا کاري برخې پـه وړانـدې کولوسره په شرکت کې به د حصې درلودونکي وې، ګټه اوخساره به ترمنځ وېشل کیږي.[٥]

په عربي نظام کې د مدني قانون د شرکت تعریف، د مجلة الاحکام العدلیة د شرکت تعریف پرمـټ را څرخیږي.

---

[١]- دافغانستان مدني قانون، (١٢١۶) ماده، دټوک ګڼه : ٣، دپاڼې ګڼه: ۶۴، لومړی چاپ، دچاپ کال: ١٣٩٠لمریز، دچاپ ځای: مطبعه طباعتی احمد.

[٢]- رسمي جریده، دافغانستان دتضامني شرکتونوقانون، (٢) ماده، دپاڼې ګڼه: ١، دخپرېدو نېټه: ١٣٨۵لمریز کال.

[٣]- رسمي جریده، دتجارت اصولنامه، (١١۶) ماده، ټوک ګڼه: ١، دپاڼې ګڼه: ۴٧، دخپرېدو نېټه: ١٣٣۶لمریز کال، دچاپ کال: ١٣٨۶لمریز.

[٤]- دفرانسې دمدني قانون (١٨٣٢) ماده.

[٥]- دسوریې دمدني قانون (۴٧٣) ماده. د مصر د مدني قانون (۵٠۵) ماده. د اردن د مدني قانون (۵٨٢) ماده.

مجلة الاحکام العدلیة شرکت داسې راپېژني:

شرکة العقد عبارة عن عقد شرکة بین اثنین أو أکثر علی کون رأس المال والربح مشترکا بینهم.[۱]

ژباړه: عقد شرکت عبارت دهغه تړون څخه دی چې دوه یا ډېرکسان په پانګه اوګټه کې سره شریک اوګډ وي.

دپورتنیو قوانینو دعقد شرکت له تعریفولوڅخه دا جوته شوه چې وضعي قوانینو دشرکت دپاره یو قانوني حد اومرز ټاکلی، چې د عقد څخه عبارت دی، یعنې که په شرکت کې تړون اوعقد نوي هغه ته شرکت نه ویل کېږي، خو دغه عقد باید د دوو یا د ډېرو ارادو د یوځای کېدو په اساس او بنیاد، په یوه مشروع کار کې د ګټې لپولو په موخه باید منځته راغلی وي، لنده دا چې دعقد شرکت دهغه تړونو له ډلې څخه دی، چې جانبین د پوره آزادۍ او رضایت څښتنان دي، دیاده ونې وړ ده، چې دشرکت کوم تعریف چې مدني قوانینو ذکر کړی دی، داسلامي شریعت دشرکت له تعریف سره په تضاد کې نه دی، البته داسلامي شریعت د شرکت تعریف عام دی، چې دشرکت ځینې نورو ډولو ته هم شاملېږي، او دمدني قوانینو دشرکت تعریف خاص دی، چې یوازې دعقد شرکت ته شامل دی.

**ج: د تضامني شرکت پېژندنه:**

تضامني شرکت د وګړودشرکت یعني د شرکة الاشخاص د ډلې څخه مهم ډول شمېرل کېږي، د دې شرکت د ځانګړنو څخه یوه ځانګړنه داده، چې عام وګړې پر یوبل باندې داعتماد، باور، اطمینان او وثوق درلودلو پر بنیاداو بنسټ دځان دپاره دشریک په توګه غوره کوي، د دې شرکت د ډېر پراخه کېدو او خپرېدو یوازنۍ دلیل همدادی چې کوچني او واړه شرکتونه هم ورنه جوړېدای شي، او نوموړي شرکت ډېرۍ دهغه کسانوڅخه جوړېږي، چې د دوی ترمنځ د دوستۍ رشته موجوده وي، لکه دخپلولي، نسب یا د ملګري والي علاقه وي، او کله دا شرکت دکورنۍ دغړو څخه هم جوړېږي، چې د ګټې په موخه په خپل منځ کې سره پانګونه کوي.

تضامن په لغت کې:

تضامن د (ضمن) څخه اخستل شوی، چې د پټ ساتلو او د ژمنتیا په معنی دی، په همدې اساس په عربي اصطلاح کې به یې (ضمنت الشیء) ویل ( اذا جعلته في وعائه ) کله به یې چې هغه څېز

---

[۱]- لجنة مکونة من عدة علماء و فقهاء فی الخلافة العثمانیة، مجلة الاحکام العدلیة، د مادې ګڼه: ۱۳۲۹، دچاپ ځای: نورمحمد کتاب خانه آرام باغ کراتشي.

کڅوړې ته واچوی او پټ به يې کړ، او په کسرې د ميم سره (ضَمِنَ) په معنی د ژمني سره ده لکه په عربي ژبه کې ويل کېږي: (ضَمِنَ الشیء) دهغه څېز دپاره کفيل او ژمن دی.[١]

اورسول الله (صلی الله عليه و سلم) په يوحديث کې فرمايلي: الامام ضامن. [٢]

ژباړه: امام دلمانځه پروړاندې ژمن دی.

د تضامني شرکت اصطلاحي پيژنده:

د تضامني شرکت دپاره معاصرو فقهاو ګڼ شمېر تعريفونه کړې دي، چې دتضامني شرکت د ښه پېژندو لپاره د ځينو معاصرو فقهاو تعريفو په را نقلولو باندې په لاندې توګه اکتفا کوو :

الخياط[٣] تضامني شرکت داسې تعريفوي:

هی ان يعقد اثنان أو اکثر شرکة بقصد الإتجار علی وجه الشرکة بعنوان مخصوص يکون اسما لها ويکون کل الشرکاء مسؤلين بوجه التضامن والتکافل عن التزامات الشرکة و کل اتفاق يخالف ذلك لاينفذ فی حق الغير.[٤]

ژباړه: تضامن شرکت هغه شرکت دی، چې د تجارت په موخه د شرکت په بڼه دوه يا ډېرکسان دمشخص نوم لاندې داسې تړون وکړي، چې ټول شريکان مسؤليت درلودونکي وي، د شرکت د ټولو التزاماتوته او هر هغه اتفاق چې مخالف د تړون سره وي د بل چا په حق کې نافذ نه دی.

الزحيلي تضامني شرکت داسې تعريفوي:

هی الشرکة التي يعقدها اثنان اواکثربقصد الاتجار في جميع انواع التجارات او في بعضها، ويکون الشرکاء فيها مسؤلين بالتضامن عن جميع التزامات الشرکة، ليس فی حدود رأس المال فقط بل قد يتعدی ذلك الی الاموال الخاصة لکل شريک.[٥]

---

[١]-ابن منظور،محمد بن مکرم بن علی،لسان العرب،مادة:(ضمن) ټوک ګڼه: ١٣،دپاڼي ګڼه: ٢٥٧. الرازي: زين الدين محمدبن ابی بکربن عبدالقادر، مختارالصحاح، ماده(ض م ن)،دټوک ګڼه:١،دپاڼي ګڼه:٣٧٩،پنځم چاپ،دچاپ کال:١٤٢٠هـ ق ١٩٩٩م،المکتبة العصرية الدارالنموذجية بيروت. ابن فارس،ابی الحسين احمد بن فارس، معجم مقاييس اللغة،مادة:(شرک)،دټوک ګڼه:٣،دپاڼي ګڼه:٢٦٥.

[٢]- صحيح مسلم ، باب ماجاء فيه ان الامام ضامن، دټوک ګڼه: ١، دپاڼي ګڼه: ٤٠٢، دحديث شمېره : ٢٠٧.

[٣]الخياط ،عبدالعزيز عزت: دا د فلسطين د نابلس په ښار په ١٨٩١م کال کې دنياته سترګې غړولي، نوموړی فلسطيني فقيه او داعي دی، چې د تدريس ترڅنګ د بيلا بيلو دندو سره د اردن د اوقافو او اسلامی مقدساتو وزير دنده هم ترسره کړې، او تر ٤٧ پورې مخطوط او مطبوع آثار هم لري، لکه:
مير بصري، اعلام السياسة فی العراق الحديث، د پاڼي ګڼه: ٥٧٣، د چاپ کال: ٢٠٠٤، د چاپ ځای: دارالحکمة لندن.

[٤]- الخياط، عبدالعزيز عزت،الشرکات فی الشريعة الاسلامية والقانون الوضعي،ټوک ګڼه:٢، پاڼي ګڼه: ٧١، څلورم چاپ، دچاپ کال: ١٤١٤هـ ١٩٩٤م، دچاپ ځای: دارالبشير عمان.

[٥]- الزحيلي، وهبة بن مصطفی، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ٥، دپاڼي ګڼه: ٦١٢، څلورم چاپ، دچاپ ځای: دارالفکر دمشق سورية.

ژباړه: تضامني شرکت هغه شرکت دی، چې دتجارت په ټولو څانگو کې یا ځېنو څانگو کې دوه یا ډېرکسان دتجارت په موخه داسي تړون وکړي، چې ټول شریکان مسؤلیت لرونکي وي د ضمانت په طریقې سره د شرکت د ټولو التزاماتو څخه، او دغه التزامات یوائې د پانگونې ترکچې نه بلکه کله کله د شریکانو شخصي پانگې ته هم تجاوز کوي.

تضامني شرکت په قوانینوکې:

تضامني شرکت وضعي قوانینو ته په کتو سره په لاندې ټکو کې در پیژنو:

السامي[1] تضامني شرکت داسي تعریفوي:

انها شركة تتألف من عدد من الاشخاص الطبيعيين لايقل عددهم عن اثنين ولايزيد على عشرين، لها عنوان تجاري، يكتسب فيها الشركاء صفة التاجر، و يسألون عن ديونها مسؤلية تضامنية غيرمحدودة.[2]

ژباړه: تضامني شرکت عبارت دهغه شرکت څخه دی، چې دیوشمېر طبعي کسانو څخه جوړېږي، چې شمېر یې د دوو څخه کم او د شلو څخه نه زیاتیږي، او دځانگړې تجارتي عنوان در لودونکی وي، شریکان یې د سوداگر د صفت خاوندان گرځي، او د دوی څخه دشرکت دپورونو غوښتنه او دهغه پر وړاندې ضامنان اودغیر محدود مسؤلیت در لودونکې وي.

دافغانستان دتضامني شرکتونو قانون تضامني شرکت داسي راپېژني:

دافغانستان دتضامني شرکتونو قانون دتضامني شرکت لپاره یوتاکلی او مشخص تعریف ندی یاد کړی، البته تضامني شرکت یې په څو ډولو وېشلی او هرډول دپاره یې ځان ځانته تعریف ذکرکړی دی، چې د دوو ډولو د تضامني شرکت په تعریف باندې بسنه کوو:

۱- عام تضامني شرکت:

عام تضامني شرکت هغه شرکت دی، چې په تضامني مسؤولیت سره د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصوترمنځ د اقتصادي او سوداگریزو معاملو دسرته رسولو لپاره جوړېږي، په هغه صورت کې چې دعام تضامني شرکت شتمنی دشرکت دټولو پورونو د ورکولو لپاره کافي نوي، له شریکانو څخه هریو دعام تضامني شرکت د ټولو پورونو د ورکولو مسؤل دی، اوهغه شریک یا شریکان چې دغسې

[1] فوزي محمد السامي: دا د عراق د هیواد قانون پوه دی، چې په سویس، امارات ، اردن او فرنسا هیوادو کې د اقامې حق هم لري، او د اردن د عمان پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې د استازي ترڅنګ د قانون په ډګر کې په زړه پورې او ګټور آثار هم لري، لکه: (الشركات التجارية لاحكام العامة والخاصة، شرح القانون التجاري، شرح قانون التجارة العراقي الجديد فى الاوراق التجارية، مبادي القانون التجاري وفق المناهج الجديد لجامعة البلقاء التطبيقية)، فوزي محمدالسامي، التحكيم التجاري الدولي، د پاڼې ګڼه: ۴۷۱، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۲۰۰۶م.

[2] - سامي، فوزي محمد، الشركات التجارية لاحكام العامة والخاصة، دپاڼې ګڼه: ۷۵ ، لومړی چاپ، دچاپ کال، ۱۴۳۰هـ ق ۲۰۰۹م، دچاپ ځای: دارالثقافة للنشر والتوزيع.

پورونـه ورکـوي، حـق لـري لـه خپلـې ونـډې څخـه زيـات ورکـړل شـوي مبـالغ لـه نـورو شـريکانوڅخه وغواړي.[۱]

دغه شرکت لږ تر لږه د دوو شريکانو څخه جوړيږي، چې عام شريک (ضامن) بلل کيږي، د دغو شريکانو دتعهد او ژمنتيا ځانګړنه داده، چې د پورورکوونکو دټول پـور د ورکولـو مقابـل کـي هريـو د دوی مسؤل دی، لـه همدې کبلـه دشـريکانو مسؤليت ترخپلـې برخـې او سـهم پـورې محـدود نـه دی، کـه چېرته پورورکونکي خپل پور دشرکت څخه ترلاسه نه کړي، کولای شي د شرکت لـه منځـه تللـو څخـه وروسته شريک ته مراجعه وکړي، اوشريک بايد دخپل شخصـي مال او پانګې څخـه د پـور ورکوونکـو پور اداء کړي.

۲- خاص تضامني شرکت:

خـاص تضـامنـي شـرکت هغـه شـرکت دی، چـې تـر مشـخص نامـه لانـدې د تضـامنـي شـرکتونوقانون د حکمونـو مطـابق داقتصـادي او سـوداګريزو معـاملو د سـرتـه رسـولو لپـاره جوړيږي، اوپـه هغـه کـې يـو شريک يا له يوه زيات دغيرمحدود مسؤليت لرونکـي (عـام شـريکان) او پـاتې شـريکان پـه يـوې ټـاکلې پانګې سره (خاص شريکان) محدود مسؤليت لري، دهغو شريکانوپانګه چې محدود مسؤليت لـري، پـه ونډو وېشل کېدای شي.[۲]

خاص تضامني شرکت چې د تجارت په اصول نامه کې د (مختلط تضـامني شـرکت) ترنامـه لانـدې يـاد شـوی، دعـام اوخـاص شـريکانوڅخه ګډ جوړدی، چـې عـام شـريکان لکـه عـام تضـامني شـرکت د ضامن او نامحدوده مسؤليت در لودونکي دي، اوخاص شريکان (غيرضـامن) لکـه د محـدود المسـؤليت د شرکت شريکان، چې مسؤليت يې تر خپلې برخې او سهم پورې محدود دی، غير ضـامن شـريکان پـه دي شـرکت کـې دشـريک تـر نامـه لانـدې نـه د شـرکت د اداري کولوحـق لـري او نـه د شـرکت د چـارو سمبالول د دوی د وظائفو څخه شمېرل کيږي.[۳]

تضامن په مدني قانون کې:

د تضـامني کلمې په پای کې د (ی) توری دنسبت دپاره دی، چې نسبت يـې تضـامن طـرف تـه شـوی دی، اوتضامن په مدني قانون کې په ايجابي اوسلبي باندې وېشل شوی دی.

[۱]- دافغانستان دتضامني شرکتونو قانون (۲۱ ) ماده.
[۲]- پورتنی اخيستځای (۲۲ ) ماده.
[۳]- ميرزايي، د کترعلی محمد، حقوق تجارت افغانستان، دپاڼې ګڼه: ۶۹، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ ش، د چاپ ځای: مؤسسه نشر واژه کابل.

لومړی ایجابي تضامن:

ایجابي تضامن هغه دی، چې دپور ورکوونکو لپاره داستفادې وړ وي، لکه چې مدني قانون یې داسې بیانوي: (پور ورکوونکي دتضامن په اساس کولای شي چې ټول یوځای یا په ځانګړي توګه د پوروړي څخه ټول پور وغواړي......). [1]

دویم سلبي تضامن:

سلبي تضامن هغه دی، چې دپوروړیو لپاره داستفادې وړوي، لکه چې مدني قانون یې داسې بیانوي: که تضامن د پوروړو ترمنځ وو، نو پورورکوونکي کولی شي ټول پور دټولوڅخه یا دهر یوه څخه یې چې زړه وي وغواړي، د یو متضامن پوره وړې څخه د پور غوښتنه د نورومتضامنو پوروړو څخه دپور دغوښتنې مانع نه ګرځي.[2]

نو په سلبي تضامن کې پورورکوونکي کولی شي چې خپل پور دهریوه پوروړي څخه وغواړي، او په تضامني شرکت کې تضامن په معنی د سلبي تضامن سره دی، د شرکت دائن د شرکت دپور غوښتنه دهریوه شریک څخه کولي شي.

غوره تعریف:

دپورتنیو تعریفوڅخه جوتیږي، چې د الخیاط تعریف غوره تعریف دی، چې په لاندې ټکو سره یې کړی: هی ان یعقد اثنان أو اکثر شرکة بقصد الاتجار علی وجه الشرکة بعنوان مخصوص یکون اسما لها ویکون کل الشرکاء مسؤلین بوجه التضامن والتکافل عن التزامات الشرکة و کل اتفاق یخالف ذلك لاینفذ فی حق الغیر. [3]

ژباړه: تضامن شرکت هغه شرکت دی، چې د تجارت په موخه د شرکت په بڼه دوه یا ډیرکسان دمشخص نوم لاندې داسې تړون وکړي، چې ټول شریکان مسؤلیت درلودونکي وي، د شرکت د ټولو التزاماتوته او هر هغه اتفاق چې مخالف د تړون سره وي د بل چا په حق کې نافذ نه دی، دتضامني شرکت د تعریفو په قطار کې غوره تعریف دی.

[1]- دافغانستان دمدني قانون دویم ټوک (۸۷۴) ماده.

[2]- پورتنی اخیستځای (۸۷۸) ماده.

[3]الخیاط، عبدالعزیز عزت،الشرکات فی الشریعة الاسلامیة والقانون الوضعي،ټوک ګڼه:۲، پاڼې ګڼه: ۷۱.

دغوره والي سبب:

ځکه چې د الخياط تعريف دتضامني شرکت ټولوډولوته شامل دی، او دپور ورکونکو ټولو هغه حقوقوته چې د تضامني شرکت سره تړاولري ژمن دی، په ځانګړي ډول په هغه صورت کې چې شرکت دپورورکونکو دحق څخه انکار وکړي، د دغه تعريف په رڼاکې نوموړی شرکت پرته د بهانې لټونې څخه مکلف دی، چې دپورورکونکو حق ورکړي، اودغه ځانګړتيا دتعريف په دې جملو کې رانغښتې ده، چې (کل اتفاق يخالف ذلك لاينفذ فی حق الغير) اوهرداسې اتفاق چې مخالف دتړون سره وي د بل چاپه حق کې نافذ نه دی، يعنې دپورورکونکو حق دپورتني تعريف په رڼاکې همیشه ثابت دی، او هیڅکله له منځه نه ځي.

د تضامني شرکت د نورو شرکتو څخه دشهرت د ترلاسه کولو اسباب:

۱- دغه شرکت جوړ دهغه کسانوڅخه وي، چې يو تر بله نږدې اړيکې ولري، لکه ورونه، ملګري اويا د دوی ترمنځ دخپلولۍ رشته قائمه وي، ځکه ترډېره دغه شرکت داعتماد او باور په اساس ولاړ وي، ترڅو دشرکت چارې ښه پرمختګ وکړي.

۲- دغه شرکت ډېرې پانګونې ته اړتيا نلري، په کمې پانګونې باندې هم جوړېدای شي.

۳- نوموړی شرکت دشريکانو دپانګې، استعداد او تجربو ديوځای کولو لپاره باعث ګرځي.

۴-په دی شرکت کې دنورو شرکتوسره دښه رقابت کولو د وسيلې شتون، چې دشريکانو ترمنځ د تضامني مسؤوليت څخه عبارت دی.

۵-د دغه شرکت دپاره د قانوني آسانتياو شتون، ځکه تضامني شرکت دجوړونې دپاره هيڅ قانوني جواز ته اړتيا نشته، کله چې دوه کسان يوتجارتي بنسټ کيږدي، همدا خپله يو تضامني شرکت دی.

۶- دتضامني په شرکت کې دپورورکوونکو ضامن خپله شريک يا شريکان دي، که شرکت شتون لري اوکه نه يې لري، پورورکوونکي کولای شي د هريوه شريک څخه او حتی دشخصي مال څخه يې دخپل پور غوښتنه وکړي.[1]

[1]- ميرزايي، د کترعلی محمد، حقوق تجارت افغانستان، دپاڼې ګڼه: ۷۷.

## دویم مطلب: د شرکت مشروعیت:

په دې مطلب کې د شرکت مشروعیت اوثبوت یې د سپېڅلي شریعت په رڼا کې څېړل کېږي، د شرکت په مشروعیت باندې نقلي او عقلي دلایل دواړه دلالت کوي، چې لومړی به نقلي اوبیابه عقلي دلایل په ترتیب سره بیان کړم:

**الف: نقلي دلایل:**

لومړی دکتاب الله څخه:

(۱) الله (عز وجل) فرمايي: {ضَرَبَ لَكُمْ مَثَلًا مِنْ أَنْفُسِكُمْ هَلْ لَكُمْ مِنْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ مِنْ شُرَكَاءَ فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ فَأَنْتُمْ فِيهِ سَوَاءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنْفُسَكُمْ كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ }.[۱]

ژباړه : الله (جل جلاله) ستاسو دپاره (ای مشرکانو) دخپلونفسونوڅخه (دتوحید داثبات په ارتباط یو) مثال وهي (بیانوي، نوغوږ ورته کېږدئ هغه داچې) آیاتاسو دهغو (غلامانو) څخه شریکان شته کوم چې ستاسوښي لاسونه یې مالکان شوي دي (البته) په هغه مال کې کوم چې مونږتاسوته روزي کړي دي (اوتاسویې حقیقي مالکان او پیداکونکي نه یاست) ، داسې شریکان چې تاسو (اوهغوی د) مال (په تصرف) کې یوبرابریاست (حتی چې) تاسو دهغوی څخه داسې ډاربږئ لکه څنګه چې دخپلو ځانونو (سیالانو) څخه ډاربږئ (اوبدون داجازې یې تصرف نشي کولی) ؟ (پوره واضحه ده چې دلته ستاسوجواب منفي دی، نوپه کوم دلیل دالله (جل جلاله) سره په عبادت کې دبوتانوپه اشتراک قائل یاست حال داچې خپلوځانونوته ورباندې قول نشئ کولی) (ای پیغمبره!) مونږ د داسې قوم دپاره (دتوحید) دلایل دغه ډول (تفصیلوار) بیانوو کوم چې دعقل څخه کار اخلي.

د دلالت وجه:

امام قرطبي (رحمه الله) د دې آیت لاندې داسې لیکلي:

هذه الآیة أصل في الشرکة بین المخلوقین لافتقار بعضهم إلى بعض ونفیها عن الله سبحانه.[۲]

ژباړه: دغه آیت د مخلوق تر منځ د شرکت د جواز لپاره یو بنیاد دی، ځکه چې بنده ګان ځیني یې ځیني نورو ته اړ دي، او همدغه راز د الله (جل جلاله) څخه د شریک د نفی کولو دپاره یو اصل او اساس دی.

[۱]- د الروم د سورت (۲۸) آیت.
[۲]- القرطبي، أبوعبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرج الأنصاري الخزرجي، الجامع لأحكام القرآن، دټوک ګڼه: ۱۴، دپاڼی ګڼه: ۲۳، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۲۴هـ ق ۲۰۰۳م: دچاپ ځای: دارالفکر بیروت لبنان.

الله (جل جلاله) په پورتني آيت کې دخپل ځان څخه د شريک نفی کړېده، په بيانولو ديومثال سره، چې غلامان د بادارنو سره شريکېدلی شي؟ په داسې حال کې چې پانګونه او مال دبادارانو وي، ښکاره ده چې دغه رنګه شرکت باطل دی، اومخلوق ټول د الله (جل جلاله) عبيد اوغلامان دي، دنړۍ هيڅ څيزد الله (جل جلاله) سره شريکېدلای نشي، او انسانان ډېرکمزوري، ناتوانه اوعاجزه دي نشي کولای چې په يواځې ځان خپل ټول ضروريات پوره کړي، ځکه خلک د ژوندانه په ډېرو چارو کې د يوبل لاس نوی اومرستې ته اړ دي، او د دغه لاس نوي لپاره د ښې تګلارې ميدان شرکتونه دي، نوڅرګنده شوه چې شرکت مشروع عمل دی.

(۲) الله ( عز وجل ) فرمايي: {قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَى نِعَاجِهِ وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَا هُمْ }. [۱]

ژباړه: داود عليه السلام وويلې چې: يقينا په تا باندې خپل ورور ستا ديوې ګډې په غوښتلو سره ظلم کړی دی، چې دخپلوګډو سره يې (يوځای) کړي.اودمالي او حقوقي شريکانوڅخه ډېر کسان هرو مرو ځيني په ځينو نورو باندې بغاوت (اوتېری) کوي، مګرهغه کسان کومو چې ايمان راوړی وي اونيک عملونه کوي، او دا (ډله) ډېرلږ (کسان) دي (نواکثريت ظلم کونکي دي).

د دلالت وجه:

په پورتني آيت کې (الخلطاء) کلمه د شريکانو په معنا سره ده، يعنې ډېری دشريکانو څخه يو پر بل باندې تېری کوونکي وي، او يوشريک له خپل بل شريک سره ظلم کوي، آن تر دې پورې چې شريک دبل شريک په مال او حق باندې خېټه اچوي او سترګې ور باندې پټوي، مګر هغه کسان کومو چې ايمان راوړی وي اونيک عملونه کوي، نو په ډېر څرګند ډول دغه آيت دلالت کوي دشرکت په مشروعيت باندې.[۲]

(۳) الله (سبحانه وتعالی ) فرمايي : {وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ }. [۳]

ژباړه: او که يو سړی يا يوه ښځه په داسې حال کې ميراث شوه چې نه يې پلار درلود او نه زوی، حال داچې هغه لره (مورنی) ورور يا خور وه، نو د دغو دواړو څخه هر يوه ته شپږمه برخه ده،

[۱]- د ص سورت (۲۴) آيت.

[۲]الجصاص، الامام ابي بکر احمد الرازي، احکام القرآن، دټوک ګڼه: ۸ دپاڼې ګڼه: ۴۴۱ ، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۲۱هـ ق، دچاپ ځای:دارالفکربيرت لبنان.القرطبي، أبوعبد الله محمد بن أحمد بن أبي بکر بن فرج الأنصاري الخزرجي، الجامع لأحکام القرآن، دټوک ګڼه: ۱۴، دپاڼی ګڼه: ۲۳.

[۳]- د النساء د سورت (۱۲) آيت.

نوکه چېرې دوی (مورني ورونه یا خویندې) د ذکرشوي معیار (یوه) څخه زیات وه، نو دوی ټول درېمه برخه کې سره (یوبرابر) شریک دي (نارینه یې په زنانه وو باندې څه بهتري نه لري).

د دلالت وجه:

که چېرې د یو سړي یا یوې ښځې په داسې حال کې میراث یووړل شي، چې هغه کلاله وي، چې نه یې پلار ژوندی وي او نه اولاد ولري زوی وي او که لور، او د دوی دپاره اخیافي یعنی مورني خویندې او ورونه وي، که یوتن اخیافي ورور یا خور وي دمیراث شپږمه برخه اخلي، او که دوه یا د دې څخه اضافه اخیافي خویندې او ورونه وي ټول د ترکې په درېمه برخه کې سره یو برابر شریک دي، دغه آیت دلالت کوي داخیافي ورونو په منځ کې دبرخې د شرکت په مشروعیت باندې، او په میراث کې شرکت یوډول دشرکتو د اقسامو څخه ده، نوله دې څخه په عامه بڼه دشرکت مشروعیت څرګندیږي.[1]

دویم احادیث:

(۱) عَنْ أَبِی هُرَیْرَة رَفَعَهُ الی النبی (صلی الله علیه وسلم) قَالَ: إِنَّ اللَّهَ یَقُولُ أَنَا ثَالِثُ الشَّرِیکَیْنِ مَا لَمْ یَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ بَیْنِهِمَا.[2]

ژباړه: ابوهریرة (رضی الله عنه) چې حدیث یې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ته رسولی دی، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه روایت کوي چې وې فرمایل: الله (جل جلاله) فرمايي زه د دوو شریکانو درېیمه ترڅو چې یوشریک له خپل ملګري سره خیانت ونه نکړې، کله چې شریک له ملګري سره خیانت پیل کړي زه ورڅخه وزمه.

د دلالت وجه:

الله (جل جلاله) د شریکوکسانوملګری وي، دهغوی د مرستې لپاره او د هغوی په تجارت کې د برکت کېښودو لپاره، خو ترڅو چې د دوی په منځ کې له یو بل سره صداقت موجود وي، اوکله چې رېښتنولي له منځه لاړه شي، اوترمنځ یې خیانت اودوکه څرګنده شي، الله (جل جلاله) خپل برکت ورڅخه

[1] الشنقیطی، محمد الامي بن محمدالمحتار، اضواء البیان في ایضاح احکام القرآن با القرآن، دټوک ګڼه: ۳ دپاڼې ګڼه: ۲۳۲، دچاپ کال: ۱۴۰۸هـ ق ۱۹۸۸م، دچاپ ځای: مکتبه ابن تیمیة.
[2]- سنن ابی داود، کتاب البیوع، باب الشرکة، ټوک ګڼه : ۳، پاڼې ګڼه : ۲۴۷ ، حدیث شمېره : ۳۳۸۳، دې حدیث ته حاکم صحیح الاسناد ویلي، وګورئ: الحاکم، محمد بن عبدالله النیسابوري، المستدرک بتعلیق الذهبي، د ټوک ګڼه: ۲، د پاڼې ګڼه:۳۱۲، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۱۱هـ ۱۹۹۰م، د چاپ ځای: دارالکتب العلمیة بیروت.

پورته او دمرستي لاس ورځېني واخلي، په سبب دهغه خيانت چې د دوی څخه صورت مونډلی دی، نو پورتنی حدیث روښانه دلیل دشرکت په مشروعیت باندې دی.[1]

(۲) عن جابر (رضی الله عنه) قال قال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) : الشفعة في كل شرک في ارض أوربع اوحائط لا يصلح أن يبع حتى يعرض على شريكه فيأخذ أو يدع فان أبى فشريكه أحق به حتى يؤذنه. [2]

ژباړه: جابر (رضی الله عنه) روایت کوي، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي چې: شفعه په هر شریک ځېز کې که زمکه وي اویا باغ وي شتون لري، نوشریکانوته د ورمخکې کولو او خبرولو څخه وړاندې د خرڅولو صلاحیت یې نلري، بیا به یې شریک وپېري اویابه یې پرېږدي، نوشریک یې په اخستلوکه حقداره دی له نورو څخه، مګر ترڅو چې اجازه وکړي.

د دلالت وجه:

د یوشریک د برخې انتقال بل شریک ته د یوه معلوم عوض په مقابل کې، داسې ده لکه چې انتقال اجنبي کس ته شوی وي، اود زمکې د شفعې په ثبوت باندې دغه حدیث دلالت کوي ترهغه چې زمکه وېشل شوي نه وي [3]، نودا خبره څرګنده شوه چې دشریکانو په منځ کې حتی شفعه هم جائزه ده، نو شرکت خو به په طریقه اولی سره روا دی ، او بل دا چې شرکت له ځای یو مشروع او جائز عمل دی.

(۳) حَدِيثُ السَّائِبِ بْنِ أَبِي السَّائِبِ لْمَخْزُومِيِّ، أَنَّهُ كَانَ شَرِيكَ النَّبِيِّ فِي أَوَّل الإِسْلاَمِ فِي التِّجَارَةِ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الْفَتْحِ، قَال النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَرْحَبًا بِأَخِي وَشَرِيكِي، لاَ يُدَارِي وَلاَ يُمَارِي.[4]

ژباړه: سائب (رضی الله عنه) چې د ابي سائب المخزومي ځوی دی، د اسلام په ړومبنی ورځو کې دپیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د تجارت شریک وو، کله چې د مکې د فتح ورځ وه پیغمبرصلی الله علیه وسلم سائب بن ابی سائب ته وفرمایل: ښه راغلاست ځما داسې ورور اوشریک چې نه دوکه کونکی اونه مخالفت کونکی دی.

---

[1] -العباد، عبدالمحسن بن حمد، شرح سنن ابی داود، دټوک ګڼه: ۱، دپاڼې ګڼه: ۲.

[2] - صحیح مسلم ، کتاب المساقاة، باب الشفعة، دټوک ګڼه: ۵، دپاڼې ګڼه: ۵۷، دحدیث ګڼه : ۴۲۱۴.

[3] - النووي، ابوذکریا محیي الدین یحي بن شرف، صحیح مسلم بشرح النووي، دټوک ګڼه: ۳، دپاڼې ګڼه: ۴۹، دچاپ کال: ۱۴۰۷هـ ق ۱۹۸۷م، دچاپ ځای: دارالکتاب العربي بیروت. ابن حجر، الحافظ شهاب الدین ابن حجر العسقلاني، فتح الباري شرح صحیح البخاري، دټوک ګڼه: ۱۶، دپاڼې ګڼه: ۲۱۸، دویم چاپ، دچاپ ځای دارالمعرفه بیروت لبنان.
[4] -الحاکم، محمدبن عبدالله الحاکم النیسابوري، المستدرک بتعلیق الذهبي، او دې حدیث ته یې صحیح الاسناد ویلی، دټوک ګڼه:۲، دپاڼې ګڼه:۶۱.

(۴) حَدِيثُ أَبِي الْمِنْهَال: أَنَّ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ، وَالْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ (رضی الله عنهم)، كَانَا شَرِيكَيْنِ، فَاشْتَرَيَا فِضَّةً بِنَقْدٍ وَنَسِيئَةٍ، فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهُمَا أَنَّ مَا كَانَ بِنَقْدٍ فَأَجِيزُوهُ، وَمَا كَانَ بِنَسِيئَةٍ فَرُدُّوهُ. [1]

ژباړه: ابی المنهال رضی الله عنه فرمايي: چې زيد بن أرقم اوبراء بن عازب (رضی الله عنهما) دواړه شريکان وو، نو يوځه سپين زريې په نغدو او قرض باندې وپېرل، کله چې پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) خبر کړی شو نو دواړو ته يې امر وکړ: چې د نغدو معامله موسمه ده، او دقرض معامله را وګرځوي او رد يې کړی.

د دلالت وجه:

د پورتنيو دواړو احاديثو څخه دشرکت مشروعيت صراحة جوتيږي، چې داسلام د ړومبنيو ورځو څخه شرکت په تجارتي معاملاتوکې دود او رواج درلوده، يعني د پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) د زماني څخه نولی تر نن زما نې پورې تعامل په شرکت باندې را روان دی.

دريم د امت اجماع:

د اسلامي ټولنې د وګړو د ځانګړو او عامو مصلحتو په اساس او بنياد، په هرې زماني اوهرځای کې ټول امت مسلمه تل خپلې تجارتي معاملې د شرکت پر بنسټ سرته رسولي دي، او دښارونو فقهاء ورباندې ګواهان دي، تر نن عصر پورې، چې د انکار غږ ورباندې نه ده پورته شوي، نوځرګنده شوه چې د شرکت په مشروعيت اوجواز باندې ټول مسلمانان اجماع او اتفاق لري، البته د شرکت ځيني اقسامو په صحت کې د نظراختلاف لري. [2]

**ب: عقلي دلايل:**

له يوې خوا د اسلام سپېڅلی دين داسلامي ټولنې وګړې هڅوي چې د يو بل سره دتعاون، مرستې اوهمکارئ په سرته رسولوکې پوره ونډه واخلي، ځکه د اړو کسانو دلاس نوی دپاره، دا يوه ډېره ښه وسيله اوتګلاره ده، اوله بلې خوا په ټولنه کې ډېری داسې کسان دي، چې مال او پانګه لري مګر کار او تجارت ته مخه نه ويني، يا دکار او تجارت توانايي او طاقت لري مګر مال اوپانګې ته لاس رسی

---

[1] - احمد بن حنبل، أبوعبدالله الشيباني، مسند، د ټوک ګڼه: ۱۴، دپاڼې ګڼه: ۳۷۱ دحديث شميره: ۱۹۳۰۷، دچاپ ځای: مؤسسة القرطبه القاهرة.
دا حديث صحيح الاسناد دی، وګورئ: ابن الملقن، عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري، البدر المنير في تخريج الأحاديث والأثار الواقعة في الشرح الكبير، تحقيق کوونکي: مصطفى أبو الغيط و عبدالله بن سليمان وياسر بن كمال، د ټوک ګڼه:۶، د پاڼې ګڼه:۷۲۶، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م، د چاپ ځای: دار الهجرة الرياض السعودية.

[2] - الشيباني، ابوالمظفر يحيى بن محمدبن هبيرة، اختلاف أئمة العلماء، دټوک ګڼه: ۱، دپاڼې ګڼه: ۴۴۸، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۲۳هـ ق ۲۰۰۲م، دچاپ ځای: دارالکتب العلمية لبنان بيروت.

نه لري، یا لږ مال لري او هغه اندازه مال چې د ده دکار اوتجارت دپاره بسنه او کفایت وکړي او پرې روان شي په لاس کې یې نه لرید، یا داچې په خپل مسلک، رشته او فن کې ښه پوره مهارت لري خو مال ورسره شتون نه لري، چې کاروبار وربانديې پیل کړي، نو آیا انسان دحلال رزق د لاسته راوړلو دپاره د دې ټولو خنډونو په مقابل کې ساکت، عاجزه، آرامه او لاس ترزنې کښېني او که دځان دپاره د یوو مسلمان با انصافه شریک په لټه کې شي، ترڅو د ده سره د کار او تجارت په پیلېدو کې مرسته وکړي؟

نودا ښکاره شوه چې شرکت دخلکو دیو بل سره دتعاون او مرستې کولو او د مال په زیات والي او ښې ګټې وټې کې پوره ونډه در لو دلی شي، آن تردې چې د ستر تجارتي کاربار اوغټو فابریکو چې په پښو درولو باندې او ټولو چارو ته یې درسېدلو او سمبالولو توان یې یوکس نلري، خو د شرکت د لارې کېدای شي چې دغه رنګه دلویو کمپنیو او د سترو پروژو دتطبیق چارې په ښه توګه پر مخ ولاړې شي.

نوعقل دا غوښتنه کوي چې شرکت دي جائز او مشروع وي، ځکه دشرکت سره دعامو او خاصو خلکو دپاره د کار کولو او د ګټې وټې ساحه پراخه وي، او په ټوله کې د نفعې او ګټې څخه یې ډېرې وګړي دټولنې مستفید کېږي، او الله (جل جلاله) د معاملاتو تړونونه (عقود) دخپلو بنده ګانو د مصلحت او د اړتیا وو د پوره کېدو له کبله مشروع اوجائز ګرځولي دي، بدون له شکه د شرکت شتون له مصلحتو څخه ډک دی، ځکه چې همدا شرکت دی چې مال، پانګه، کاراومهارتونو لره په یو میدان کې سره یو ځای ازمايي، او د دې ټولو د یوځای کېدو سره د ټولنې اکثره وګړو ته یې خیر رسیږي، او شرکت دی چې په ننې عصرکې داسلامې ټولنې د وګړو دمخ پر وړاندې تګ دپاره لاره برابره وي، او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د مسلمانانو د ښې هوساینې اوډاډمن ژوندانه تضمین کولی شي.[1]

[1]- الزحيلي،وهبة بن مصطفى،الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ۵، دپاڼې ګڼه: ۵۲۳.

## دريم مطلب: داسلامي فقهې او قانون دشرکتونو په ډولونو کې د تضامني شرکت شتون:

**الف: د اسلامي فقهې په درې ګونو شرکتونو کې دتضامني شرکت شتون.**

شرکت په خپل ذات کې دمفهوم پربنیاد دېره درنه کلمه ده، چې د دې عنوان لاندې به دشرکت د ډولونو د پېژندلوترڅنګ دهریوه تعریف روښانه بیان کړل شي، او د درې ګونو شرکتونو له پېژندنې څخه وروسته به تضامني شرکت شتون په ډاګه شي، البته په لومړې سر کې په اسلامي فقه کې شرکت په درې ډولونو باندې وېشل شوې دی.

لومړی د ملکیتونو شرکت سره د تضامني شرکت ورته والی:

لومړی دا اړینه ده، چې د ملکیتونو شرکت و پېژنو، او د ملکیتونو د شرکت له معرفت او پېژندنې څخه وروسته به د تضامني شرکت د ملکیتونو له شرکت سره ورته والی په ډاګه شي.

د ملکیتونو د شرکت تعریف:

وهی ان یتملک شخصان فأکثر عینا من غیرعقدالشرکة.[1]

ژباړه: چې دوه یا ډېر کسان د یوڅه مالکان شي پرته له کوم تړون څخه.

څرنګه چې په تعریف کې یا دونه وشوه په ملکیتونوکې دشرکت صورت داسې دی، چې دوه کسان په ګډه یومال واخلي، اویایې په میراث یوسي، دوی ډواړه یو دبل په برخه کې دپردي په څېر دي، او د ملګري له اجازې پرته دهغه په برخه کې تصرف نه شي کولاي او په وضعي قوانینوکي د ملکیتونو شرکت ته اجباري شرکت ویل کیږي.

د ملکیتونو د شرکت ډولونه:

د ملکیتونو شرکت په دوه ډوله باندې وېشل شوی دی، یووته اختیاري شرکت دویم ته اجباري شرکت ویل کیږي، چې په لاندې ډول یې درپېژندل کیږي:

۱- اختیاری شرکت:

وهبة الزحيلي اختیاری شرکت داسې راپېژني:

[1] -الخفیف،علی الخفیف،الشرکات فی الفقه الاسلامی، دپاڼې ګڼه: ۷.

هی ان یتملک شخصان فأكثر عینامن غیرعقد الشرکة وتنشأ بفعل الشرکین.[1]

ژباړه: چې دوه یا ډیرکسان د یو جنس مالکان شي ، په خپلو ارادو او فعل سره پرته له کوم تړون څخه.

موسوعة الفقهیةالکویتیة اختیاري شرکت داسې را پیژني:

هی التی تکون بإرادة الشرکین اوالشرکاء سواء بواسطة عقد ام بدونه، وسواء وقع العقد مشترکا منذ بدایته، أم طرأعلیه اشتراکهما، أم طرأ الاشتراک فی المال بعد العقد.[2]

ژباړه: اختیاري شرکت هغه دی، چې د دوه یا ډېرولوشریکانو په ارادي سره وي، برابره ده چې په منځ کې تړون وي اوکه نه وي، یا داچې دشرکت د پیل څخه تړون شتون ولري یاوروسته شرکت منځ ته راشي یا د تړون څخه وروسته په مال کې سره شریک شي.

د اختیاري شرکت بیلګې:

۱- کله چې د معاملې له پیل څخه د شرکت تړون شوی وي: لکه چې دوه کسان یوه سورلی دسپریدو لپاره واخلي یا یوڅه توکي د سوداګرۍ دپاره واخلی.

۲- چې د تړون څخه وروسته شرکت منځ ته راغلی وي: لکه چې یوکس یوڅه واخلي یایې دبل چا هبه قبوله کړي وي، یا وصیت ورته شوی وي بیا له بل کس سره شریک شي پرته له کوم مقابل عوض څخه یا دعوض په مقابل کې.

۳-چې پرته له کوم تړون څخه سره شریک وي: لکه چې دوه کسان پرته له کوم تړون څخه خپل مالونه سره ګډ کړي، یا هغه ښکار چې دوو کسانو ښکارکړی وي، او په هغه لومه باندې چې دواړو دښکار دپاره چمتو کړی وي، یا دوه کسانو شاړه او توره زمکه د کښت د پاره چمتو کړې چې حاصل کې به یې دواړه سره شریک وي.

پدې ځای کې مونږته د موسوعة الفقهیة الکویتیة تعریف غوره ښکاري، ځکه چې د الزحیلي تعریف د اختیاري شرکت یوه صورت ته شاملیږي، چې پرته دعقد څخه وي او پاتې نورصورتونه ور څخه خارجیږي، او دالموسوعة الفقهیة الکویتیة تعریف جامع دی، ځکه داختیاري شرکت ټولو صورتونو ته شاملیږي.

---

[1]- الزحیلی وهبة بن مصطفی، العقود المسماة فی قانون المعاملات،دپاڼې ګڼه :۱۸۱،لومړی چاپ،دچاپ کال: ۱۴۰۷هـ ق ۱۹۸۷م، دچاپ ځای:دارالفکر.
[2]هیئت کبارعلماءالاسلام، الموسوعة الفقهیة الکوتیة، دپاڼې ګڼه: ۲۱دټوک ګڼه : ۲۶، دچاپ ځاي: مکتبه رشیدیه.

۲- اجباري شرکت:

هـی ان یتملـک شخصـان فأکثرعینـا مـن غیرعقـد الشـرکة بینهمـا و تثبـت لشخصـین او اکثـر بغیـر فعلهما.[۱]

ژباړه: چې دوه یا ډېر کسان د یوه جنس مالکان شي پرته لـه کوم تړون څخه، اوبـدون لـه ارادی او فعل د دوی څخه.

د اجباري شرکت بېلګې:

۱- چـې دوه یاډېروکسـانوته یوڅـه پـه میـراث کـې پـاتې شـي، نـومیراثي مـال د دواړو پـه مـنځ کـې شریک دی د ملکیتونو په شرکت سره.

۲-چې دپیسو څوکڅوړې په خپله وشلیږي او دهرې کڅوړې د پیسوتوپیر کول ستونزمن وي.

۳- یا دځینو غَلُو دانو کڅوړې بدون دلاس وروړلو څخه وشلیږي او دهرې کڅوړې د غَلـې او دانـو جدا کول یې ستونزمن وي.

د ملکیتونـو د شـرکت لـه پېژنـدنې څخـه وروسـته دا جوتـه شـوه، چـې د ملکیـت پـه شـرکت کـې دوه خبري دي، یو داچې په نوموړي شرکت کې شریکان د یوڅېز مالـک ګرځـي، دویـم داچـې پرتـه د عقد څخه ملکیت حاصلیږي، او تضامني شرکت د عقد څخه وروسته منځ تـه راځـي، او بـل داچـې تضـامني شرکت د سوداګری په موخه جوړیږي، اود تضامني شرکت شریکان یواځې دګټې مالکـان ګرځـي، نـو تضامني شرکت د ملکیتو له شرکت سره ورته والی نلري.

دویم دمباحوشیانو د رانیولوشرکت سره د تضامني شرکت ورته والی:

لومړی دا اړینه ده چې دمباحوشیانو د رانیولوشرکت و پېژنـو، او دمباحوشـیانو د رانیولوشـرکت لـه معرفت او پېژندنې څخه وروسته به د تضامني شـرکت دمباحوشـیانو د رانیولوشـرکت سـره ورتـه والـی په ډاګه شي.

پـه اسلامي فقـه کـې دشرکت د ډولونـو څخـه بـل ډول دمبـاحو شـیانو د رانیولـو شـرکت دی، چـې پـه لاندې توګه یې درپېژندل کېږي:

[۱]- شیخي زاده، عبدالرحمن بن محمد بن سلیمان، مجمع الانهر فی شرح ملتقی الابحر.دټوک ګڼه: ۲ د پاڼې ګڼه: ۵۴۳، دچاپ کال: ۱۴۱۹م، د چاپ ځای، دارالکتب العلمیة بیروت لبنان.

دمباحوشیانو د شرکت تعریف:

تکون فیما أبیح لناس الانتقاع به جمیعا.[1]

ژباړه: د اباحت شرکت هغه دی، چې په هغه سره ګټه اخستل روا وي ټولو خلکو ته.

یعني د اباحت په شرکت کې ټول خلک دیو بل سره شریک وي، او هر څوک پکې دملکیت حق لري، اوپه اصل کې داباحت شرکت دهیڅا د شخصي ملکیت څخه نه شمېرل کېږي، لکه عبدالله ابن عباس (رضی الله عنهما) فرمایی چې د الله (جل جلاله) استازي (صلی الله علیه و سلم) وفرمایل: المسلمون شرکاء فی الثلاث: فی الماء و الکلا و النار.[2]

ژباړه: عبدالله ابن عباس (رضی الله عنهما) څخه روایت دی، هغه وایي چې د الله (جل جلاله) استازي وفرمایل: چې په ابو، وښو او اور کې ټول مسلمانان سره ګډ دي.

دمباحوشیانو د رانیولوشرکت له پېژندلو څخه وروسته دا په ډاګه شوه، چې د مباحو شیانو په شرکت کې ټول خلک د هغه شي په ګټه کې سره شریک دي، چې پرته له پانګوني او د عقد څخه لاسته را ځي، او تضامني شرکت دا سې نه دی، بلکې تضامني شرکت د عقد څخه وروسته منځ ته راځي، او بل داچې تضامني شرکت د سوداګرۍ په موخه جوړېږي، او د تضامني شرکت شریکان محدود او معلوم وي، نو تضامني شرکت د مباحو شیانو له شرکت سره ورته والی نلري.

درېیم د عقد شرکت سره د تضامني شرکت ورته والی:

لومړی دا اړینه بولم، چې د عقد شرکت و پېژنو، او د عقد د شرکت له معرفت او پېژندنې څخه وروسته به د تضامني شرکت د عقد له شرکت سره ورته والی په ډاګه شي، په اسلامي فقه کې د شرکت د ډولونو څخه بل ډول د عقد شرکت دی، چې په لاندې توګه یې در پېژندل کېږي:

د عقد شرکت تعریف:

هی اجتماع اثنین فأکثر فی التصرف.[3]

---

[1]- السرخسی، محمد بن احمد ابن ابی سهل، المبسوط، دټوک ګڼه: ۱۷ ، دپاڼې ګڼه: ۳۳۵ ، دچاپ کال ۱۴۱۴هـ ق ۱۹۱۹م، دچاپ ځای دالرالمعرفه بیروت. الخفیف، علی الخفیف، شرکات فی الفقه الاسلامی، دپاڼی ګڼه ۷.
[2]- سنن ابن ماجه، کتاب الرهون، باب المسلمون شرکاء فی الثلاث، د ټوک ګڼه، ۳د پاڼي ګڼه: ۱۰۶: د حدیث شمیره: ۲۴۷۲. دا حدیث په مختلفو طریقو باندې روایت شوی، (ورجاله ثقات) البته راویان یې ثقه دي، وګورئ: العسقلاني ، أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر، الدراية في تخريج أحاديث الهداية، تحقیق کونکی : السيد عبد الله هاشم اليماني المدني ،دټوک ګڼه : ۲، د پاڼې ګڼه : ۲۴۶، د چاپ ځای:دارالمعرفة بیروت.
[3]- الجزیری، عبدالرحمن بن محمد عوض، الفقه علی مذهب الاربعة، د ټوک ګڼه : ۳ د پاڼي ګڼه: ۳۹، دچاپ کال: ۱۴۲۴ ه ق ۲۲۰۰۳، دچاپ ځاي: دار الكتب العلمية بیروت لبنان.

ژباړه: دعقد شرکت هغه شرکت دی، چې سره ګډ او یوځای شي دوه یا ډېر کسان د تصرف کولو په موخه.

په ټوله کې داسې ویلای شو چې عقد شرکت عبارت دی، له هغه تړون څخه چې دوه یا ډېر کسان په مال یا کار یا هم ضمانت کولوکې د یوبل سره داسې توافق وکړي، چې تصرف او واکداري په دواړه کولای شي، اوګټه به د توافق په بنسټ وي، اوتاوان اوزیان به د شریکانود پانګونې په اندازه به محاسبه کېږي، نو د پورتني تعریف په رڼا کې ویلای شو چې دغه تعریف د عقد شرکت ترډېره هغه ټولو ډولونو د شرکتونو ته شاملېږي، چې داسلامي فقهي په کتابونو کې ورڅخه یاده ونه شوې ده.

کله چې فقهاء د شرکت اصطلاح مطلق ذکر کړي، نو دهغوي موخه ورڅخه عقد شرکت وي، او په وضعي قوانینوکې عقد شرکت په اختیاري شرکت باندې یاده وي.

د عقد د شرکت له پېژندنې څخه وروسته دا جوته شوه، چې دعقد شرکت له تضامني شرکت سره اړخ لګوي، څکه چې تضامني شرکت د عقد په پایله کې منځ ته راځي، البته توپیر یې دادی چې، عقد شرکت عام او ټول شموله دی، چې ټول عقود یې احاطه کړي، او تضامني شرکت بیا خاص دی، چې د عقد شرکت د یوه ډول څخه شمېرل کېږي.

**ب: د عقد شرکت په ډولونو کې د تضامني شرکت شتون:**

لومړۍ دا اړینه بولم، چې د عقد شرکت ډولونه و پېژنو، او د عقد شرکت د ډولونو له معرفت او پېژندنې څخه وروسته به د تضامني شرکت د عقد شرکت له ډولونو سره ورته والی په ډاګه شي، فقهاء د عقد شرکت د ډولو په هکله په یوه نظر باندې نه دي، حنبلی فقهاو عقد شرکت په پنځو ډولو باندې وېشلي، دوی وایې چې دعقد شرکت ډولونه دادي: دعنان شرکت، د مفاوضې شرکت، د کار شرکت ( شرکة ابدان)، د اعتبار شرکت ( شرکت الوجوه) او د مضاربت شرکت، او حنفي فقهاو عقد شرکت په شپږو ډولو باندې وېشلي، چې په لاندې توګه یې یاده وي: د اموالو شرکت، د کار شرکت (شرکة الاعمال)، د اعتبار شرکت ( شرکة وجوه)، بیا هریو ددې درېواړو په دوه ډوله باندې وېشي یعني په مفاوضې او عنان باندې، او د مالکي او شافعي فقهاو د تړون شرکت په څلورو ډولو باندې وېشلي، او داسې یې شمېرلي دي: د عنان شرکت، د مفاوضې شرکت، د کار شرکت (شرکة الابدان) اود اعتبار شرکت (شرکة الوجوه).[1]

فقهاء دعنان شرکت په جواز باندې اتفاق نظر لري، او په پاتې نورو ډولو دعقد شرکت په جواز کې اختلاف دنظر لري، چې په لاندې توګه ور ته اشاره کېږي:

شافعي، ظاهري او امامیة علماء پرته د عنان شرکت څخه پاتې نورو ټولو اقسامو د عقد شرکت ته د بطلان نسبت کوي، اوحنبلي علماء د عقد شرکت ټول ډولونه روا اوجائز بولي، پرته د مفاوضې د

[1]- الزحیلي، وهبة بن مصطفی، موسوعة الفقه الاسلامي والقضایاالمعاصره، دټوک ګڼه ۴، د پاڼې ګڼه: ۵۸۹.

شرکت څخه، اومالکي فقهاء بدون د مفاوضې شرکت او د وجوه دشرکت څخه ټولو اقسامو د عقد شرکت ته د جوازنسبت کوي، او حنفي او زیدیة علماء په نظر باندې، د عقد شرکت ټول ډولونه جائز او روادي، مګر هغه شرکتونه چې د شرکت د جواز شرطونه په کې ونه موندل شي.[1]

د عقد شرکت د ډولونو پیژندنه:

لومړی: د اموالوشرکت سره د تضامني شرکت ورته والی:

د اموالو د شرکت تعریف (شرکت الاموال):

عقد بین اثنین فأکثر علی ان یتجروا فی رأس مال لهم و یکون الربح بینهم بنسبة معلومة.[2]

ژباړه: داموالو شرکت عبارت له هغه تړون څخه دی، چې دوه یادېرکسان دسوداګری په موخه پانګونه و کړي، چې ګټه به یې د دوي ترمنځ نوه ټاکلې برخه وي.

دعقد شرکت د ډولونو څخه لومړی ډول چې د اموالو شرکت دی، په دوه ډولو باندې وېشل شوې دی، یو یې دعنان شرکت او دویم یې دمفاوضې شرکت دی، چې په لاندې توګه یې در پېژنو:

د اموالو د شرکت ډولونه:

۱- دعنان شرکت :

دعنان شرکت دپاره دفقه علماوڅخه بیلا بیل تعریفونه نقل شوي چې په لاندې توګه یې ستاسو حضور ته وړاندې کوم:

د حنفي علماو څخه السرخسي دعنان شرکت داسې را پېژني:

هی مأخوذة من عنان الدابة علی معنی أن راکب الدابة یمسک العنان باحدی یدیه ویعمل بالاخری و کل واحد من الشریکین یجعل عنان التصرف فی بعض المال الی صاحبه دون البعض او علی معنی أن للدابة عنانین احدهما اطول و الاخر اقصر فیجوز فی هذه الشرکة ان یتساویا فی رأس المال و الربح او یتفاوتا فسمیت عنانا.[3]

ژباړه: عنان اخیستل شوي د (عنان الدابة) د خاروي د قیضې څخه دی، یعنې د خاروي سپرېدونکی په یوه لاس باندې د سپرلۍ قیضه نولې وي او په بل لاس باندې فعالیت کوي، له همدې

[1]- الزحیلي، وهبة بن مصطفی، موسوعة الفقه الاسلامي والقضایاالمعاصره، دټوک ګڼه ۴، د پاڼې ګڼه: ۵۹۰.
[2]- هیئة کبار علماءالاسلام، موسوعة الفقهیة الکویتیة، د ټوک ګڼه : ۲۶: دپاڼې ګڼه: ۳۶.
[3]- السر خسي، محمد بن احمد بن ابی السهل، المبسوط، دټوک ګڼه: ۱۱، د پاڼې ګڼه، ۲۷۵.

کبله هريو شريک په  مال کې د تصرف کولو قيضه په ځيني مال کې خپل ملګرې ته خوشي کوي او په ځيني کي يې ورته نه خوشي کوي، او يا په دې معنا چې د سورلۍ (څاروي) لپاره دوه قيضې (لجام) وي، چې يوې اوږد او بل يې لنډوي، نو د عنان په شرکت کې داهم روا دي، چې په پانګونه اوګټه کې شريکان سره برابر وي، او  يا توپير ولري، له همدې کبله دا شرکت د عنان په شرکت باندې نومول شوی هم دی.

د مالکي علماو څخه المغربي[1] د عنان شرکت داسې را پيژني:

کل واحد من الشرکين يجوز تصرفه فی مال الشرکة فی حضرة صاحبه و مع غيبته.[2]

ژباړه: هريو شريک کولای شي چې دشرکت په مال کې تصرف وکړي، که شريک يې ورسره حاضر وي او يا غائب وي.

دشافعي علماو څخه الشربيني دعنان شرکت داسې راپيژني:

هی ان يشترک اثنان اواکثر في مال لهما على ان يتجرا فيه.[3]

ژباړه: چې دوه ياډېر کسان د يو دبل مال کې سره شريک اوګډ شي د سوداګرۍ په موخه.

دحنبلي علماو څخه ابن قدامة د عنان شرکت داسې را پيژني: هی ان يشترکا فی مال ليتجرا فيه.[4]

ژباړه: دعنان شرکت دې ته وايي چې دوکسان سره په مال کې شريک شي، تر څو چې سودا ګري پرې و کړي.

معاصرو علماء څخه الزحيلي د عنان شرکت  داسې را پيژني:

هی ان يشترک اثنان او اکثر فی مال لهما على ان يتجرا فيه وان يکون الربح بينهما، اما الخسارة فتکون على حسب رأس المال.[5]

[1] محمد بن محمد بن عبدالرحمن المغربي: چې په حطابي هم مشهور دی، د مالکي مذهب فقيه او د تصوف د علماو څخه دی، چې اصلا د مغربي دی، خو په مکي مکرمې کې په ۹۰۲ هجري کال کې پيدا اوهمدلته شهرت ته ورسيد، او ډېر آثار ور څخه په ځای پاتې دي، لکه: په مالکي فقه کې (مواهب الجليل فی شرح مختصر الشيخ خليل ۶ ټوکه) او په اصولو کې (قرة العين بشرح ورقات إمام الحرمين ) او د حج په مناسکو کې (هداية السالك المحتاج) او (تحرير الكلام في مسائل الالتزام )او داسې نور،او په مغربي طرابلس کې په ۹۵۴هجري کال کې ومړ، الزرکلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۷، دپاڼې ګڼه: ۵۸.

[2] - المغربي، محمد بن محمد بن عبدالرحمن ، مواهب الجليل فی شرح مختصر الشيخ خليل، دټوک ګڼه : ۷ ، د پاڼې ګڼه : ۹۰، د چاپ کال: ۱۴۱۵ هـ ق ۱۹۹۴م د چاپ ځاي: دارالکتب العلمية.

[3] -الشربيني، شمس الدين محمدبن احمد، مغني المحتاج الى معرفة الفاظ المنهاج، دټوک ګڼه: ۵ ، دپاڼې ګڼه: ۵۰.

[4] -ابن قدامة، عبدالله بن احمد بن محمد، الکافی فی فقه الامام المبجل احمد بن حنبل، د ټوک ګڼه: ۸ ، د پاڼې ګڼه : ۱۵۰، لومړۍ چاپ، دچاپ کال: ۱۴۱۴هـ ۱۹۹۴م، دچاپ ځای: دارالکتب العلمية بيروت لبنان.

[5] - الزحيلي، وهبة بن مصطفی، الفقه الاسلامي وادلته، دټوک ګڼه:۵، دپاڼې ګڼه: ۵۲۷.

ژباړه: چې دوه یا ډېر کسان په مال کې پدې بڼه سره شریک شي چې سودا ګري وکړي، او ګټه د دوی تر منځ ګډوي، او خساره به د پانګونې موافق محاسبه کېږي.

دعنان شرکت مشروعیت:

دعنان شرکت د جائزو شرکتو له ډلې څخه دی، او په جواز باندې یې کتاب الله، احادیث د رسول الله (صلی الله علیه و سلم)، او اجماع دامت دلالت کوي.[1]

۲- د مفاوضې شرکت:

داموالو د شرکت څخه دویم ډول دمفاوضې شرکت دی، دمفاوضې شرکت دپاره هم دفقهاو لخوا ګڼ تعریفونه شوي، چې په لاندې توګه وړاندې کېږي:

دحنفي فقهاوڅخه الزبیدي دمفاوضې شرکت داسې را پېژني:

هي ان یشترک الرجلان و یتساویا فی تصرفهما و دینهما.[2]

ژباړه: د مفاوضې شرکت هغه شرکت دی ، چې دوه کسان په داسې ډول سره شریک شي چې په تصرف اودین (پور) کې سره برابر وي.

دمالکي فقهاو څخه ابن رشد د مفاوضې شرکت داسې را پېژني:

هی ان یفوض کل واحد من الشرکین صاحبه التصرف فی ماله مع غیبته و حضوره وذلك واقع عندهم فی جمیع الممتلکات.[3]

ژباړه: د مفاوضې شرکت دادی ، چې وسپاري هریو د شریکانو څخه خپل ملګرې ته تصرف کول په مال کې د هغه دغیاب او حضور په وخت کې، اودغه رنګه تصرف ورکول په ټول هغه څه کې چې دوی یې مالکان وي تر سره کېږي.

دشافعي فقهاو څخه النووي د مفاوضې شرکت داسې را پېژني:

---

[1]- الزیلعی، عثمان بن علی بن محجن البارعی، تبین الحقایق شرح کنزالدقایق: دټوک ګڼه: ۱۰: د پاڼې ګڼه: ۱۲۷، دچاپ کال: ۱۳۱۳هـ ق د چاپ ځاي: مطبعة الکبری الامیریة، القاهرة.ابن رشد، ابو الولید محمد بن احمد بن محمد بن رشد، بدایة المجتهد و نهایة المقتصد، د ټوک ګڼه: ۱: دپاڼې ګڼه: ۶۰۰،دچاپ ځاي:مکتبه رشیدیه - الشربیني، شمس الدین محمد بن احمد، مغنی المحتاج الی معرفة الفاظ المنهاج، دټوک ګڼه: ۵،د پاڼې ګڼه: ۴۹. ابن قدامة،عبدالله بن احمد بن محمد، مغنی لابن قدامة،دټوک ګڼه:۵،دپاڼې ګڼه: ۱۰۹.

[2]- الزبیدي، ابوبکر بن علی بن محمد الحداد، الجوهرة النیرة شرح مختصرالقدري، دټوک ګڼه: ۳: دپاڼې ګڼه: ۱۰۹.

[3]-ابن رشد، ابوالولید محمد بن احمد بن محمد،بدایة المجتهد ونهایة المقتصد،دټوک ګڼه:۵،دپاڼې ګڼه:۲۵.

هی ان یشترکا لیکون بینهما ما یکسبان و یربحان و یلزمان من غرم ویحصل من غنم.[۱]

ژباړه: د مفاوضې شرکت دادی ، چې دوه کسان شریکان شي ترڅو کار اوکړه د دوي ترمنځ ګډ وي، اودواړه د شرکت د پورونو ذمه واران او دګټې حاصلونکي وي.

د حنبلي فقهاو څخه ابن قدامة د مفاوضې شرکت داسې را پېژني:

هي ان یشترکا فی کل شئ یملکانه و مایلزم کل واحد منهما من ضمان غصب او جنایة او تفریط و في مایجدان من رکاز اولقطة.[۲]

ژباړه: چې دوه کسان په هرهغه څه کې سره شریک شي، چې دوی یې مالکان وي، او په هغه څه کې چې په دوی باندې لازمیږي د تاوان څخه د غصب، دجنایت، تفریط ترسره کولو او په هغه څه کې چې دوي یې مومي د معد نیاتو او په لارو کې پراته څیزونو په پایله کې.

او د معاصروعلماوڅخه الزحیلي د مفاوضې شرکت داسې را پېژني:

هي ان یتعاقد اثنان او اکثر علی ان یشترکا فی مال او عمل او ضمان و یشترط ان یکونا متساویین في رأس مالهما و تصرفهما و ربحهما و خسارتهما و دینهما ویکون کل واحد منهما کفیلا عن الاخر فیما یجب علیه من التزامات بسبب بیع او شراء.[۳]

ژباړه: چې دوه یاډېرکسان سره تړون وکړي، چې په مال او کار او تضمین کولوکې به شریک وي، او شرط کېږدي، چې په پانګونه، تصرف کولو، ګټه، تاوان یا خساره او دین کې به سره برابر وي، د پېرلو او پېردلو په پایله کې کومه ذمه واري چې راځي هر یو شریک به دبل څخه ضامن وي.

د مفاوضې دشرکت مشروعیت:

دمفاوضې شرکت دصحت د پاره فقهاوګڼ شمېر شرائط وړاندې کړي دي، او د دوي شرائط یوتر بله سره توپېر لري، نو یواځې د حنفي فقهاودشرائطو په ذکر کولو باندې اکتفاکوم.

احنافو د مفاوضې د صحت د پاره پنځه شرائط یاد کړي دي:

۱- د شریکانو شتمنی په شرکت کې باید سره برابر او مساوي وي.

---

[۱]- النووي،ابو ذکریا محی الدین یحي بن شرف، روضة الطالبین وعمدة المفتین، دټوک ګڼه : ۶ : دپاڼې ګڼه ۱۱: د چاپ ځاي : دارالکتب العلمیة.
[۲]- ابن قدامة، ابی محمد عبدالله بن احمد بن محمد، الکافي فی فقه الامام المبجل احمد بن حنبل. د ټوک ګڼه: ۱۲ د پاڼې ګڼه: ۱۶۵.
[۳]- الزحیلي، وهبة بن مصطفی، الفقه الاسلامي و ادلته، د ټوک ګڼه: ۵: د پاڼي ګڼه: ۵۲۷.

۲- ټول شریکان دشرکت په تصرف کولو کې برابر وي.

۳- ټولوشریکانو د شرکت په ګټه کې سره برابر وي.

۴- ټول شریکان د شرکت د پورونو په ذمه واری کې سره برابر وي.

۵- ټول شریکان دتصرف کولو په اهلیت کې سره برابر وي.[۱]

د عقد شرکت او د عقد شرکت د ډولونو له پېژندنې څخه وروسته دا جوته شوه، چې تضامني شرکت ډېر ورته والی د اموالو له شرکت سره لري، البته د اموالو د شرکت له دواړو ډولو سره، که د عنان شرکت دی او که د مفاوضې شرکت دی، چې بشپړ تفصیل یې د تضامني شرکت د فقهي مطابقت تر عنوان لاندې راروان دی.

دویم: د وجوهو شرکت سره د تضامني شرکت ورته والی:

لومړی دا اړینه ده، چې د وجوهو شرکت و پېژنو، او د وجوهو د شرکت له معرفت او پېژندنې څخه وروسته به د تضامني شرکت د وجوهو له شرکت سره ورته والی په ډاګه شي، دعقد شرکت داقساموڅخه دویم ډول د وجوهوشرکت دی، چې د دې شرکت په تعریف کې دفقهاوڅخه بیلابیل تعریفونه نقل شوي، چې په لاندې توګه ورڅخه یاده ونه کوو:

د حنفي فقهاوڅخه الکاساني د وجوهو شرکت داسې را پېژني:

هي ان یشترکا ولیس لهما مال، لکن لهما و جاهة عندالناس فیقولا: اشترکنا على ان نشتري

بالنسیئة، ونبیع بالنقدعلى ان ما رزق الله سبحانه وتعالى من ربح فهو بیننا على شرط کذا.[۲]

ژباړه: چې دوه کسان د مال د نه شتون په حالت کې سره شریک شي، مګر دوي د خلکو په منځ کې د ښه اعتبار خاوندان وي، نو په دې وینا سره شریک شي، چې مونږ به په پور باندې پېر او په نغدو به پلورل کوو، او هغه ګټه چې مونږته یې الله (جل جلاله) را پېرزو کوي مونږ به پکې شریک یو خو په دا دا شرطو باندې.

---

۱- هیئة کبار علماء الاسلام، الموسوعة الفقهیة الکویتیة، د ټوک ګڼه: ۲۶: د پاڼي ګڼه: ۳۸.

۲- الکاساني، علاءالدین ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۸، د پاڼي ګڼه: ۱۶۵، دویم چاپ، د چاپ کال: ۱۴۰۶ هـ ق۱۹۸۶م ، د چاپ ځای: دارالکتب العلمیة.

د مالکي فقهاوځخه الصاوي[1] د وجوهو شرکت داسې راپېژني:

هي بيع وجيه في مال شخص خامل بجزء من ربحه.[2]

ژباړه: د با اعتبار شخص پېر او پلور کول دي، د داسې کس په مال کې چې د پېژندګلو او د اعتبار څېښتن نوي، د ګټې د يوې برخې په مقابل کې.

د شافعي فقهاو ځخه النووي د وجوهوشرکت داسې را پېژني:

ان يعقدا الشركة علي ان يشارک کل واحد منهما صاحبه في ربح مايشتريه بوجهه.[3]

ژباړه: دوه کسان د شرکت جوړولو په پار داسې تړون وکړي، چې هر يو شريک به د ملګرى سره په هغه ګټه کې سره ګډ وي، چې په اعتبار باندې يې ترلاسه کوي.

د حنبلي فقهاو ځخه ابن قدامة د وجوهوشرکت داسې را پېژني: هي ان يشترک اثنان فيما يشتريان بجاههما و ثقة التجار بهما من غير ان يکون لهما رأس مال على ان ما اشتريا بينهما نصفين او اثلاثا او ارباعا او نحو ذلك و يبيعان ذلك فما قسم الله تعالي فهو بينهما.[4]

ژباړه: چې دوه کسان سره شريک شي هغه څه کې چې دوى يې په اعتبار سره پېرې او تجار ورباندې اعتبار کوي، پرته له کومې پانګې، په پدې توګه چې اخستلي شوي شيان به د دوى په منځ کې نيمايي، دربمه يا ځلورمه وي، او د پلورلو ځخه وروسته څه چې الله تعالى ور پېرزوکړې وي د دوى په منځ کې به ګډ وي.

د وجوهو شرکت مشروعيت:

د وجوهو شرکت په مشروعيت کې د فقهاو نظريات مختلف دي، حنفي او حنبلي فقهاء د وجوهو دشرکت په جواز باندې قائل دي، او د دوى کوم دليل چې وړاندې کوي، د خلکو په منځ کې د تعارف او تعامل په بنسټ باندې را څرخيږي .[5]

---

[1] احمدبن محمد الخلوتي، چې مشهور په الصاوي باندې دی ، د مالکي مذهب د فقهي ، تصوف او لغت ستر عالم دی، ، او د مصرهيواد په (صا الحجر کلي) کې په ۱۱۷۵ هـ ۱۷۶۱م کال کې نړۍ ته سترګې غړه ولي، او ډېر آثار هم ورځخه په ځای پاتي دي، لکه: (حاشية على تفسير الجلالين، حاشية الصاوي على الشرح الصغير، او داسې نور)، او په مديني منورې کې په ۱۲۴۱هـ ۱۸۲۵م کال کې ومړ. الزرکلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۱، دپاڼې ګڼه: ۲۴۶.

[2] الصاوي، احمد بن محمد الصاوي المالکي، حاشية الصاوِي علي الشرح الصغير، د ټوک ګڼه: ۸، د پاڼې ګڼه: ۲۲، المکتبة الشاملة دکتاب شمېره: ۲۱۶۰۷.

[3]- النووي، ابوذکريا محی الدين يحی بن شرف، المجموع شرح المهذب، د ټوک ګڼه : ۱۴، د پاڼې ګڼه: ۷۵، دچاپ کال: ۱۴۰۷هـ ق ۱۹۸۷م، دچاپ ځای: دارالکتاب العربي بيروت.

[4]- ابن قدامة، ابي محمد عبدالله بن احمد بن محمد، المغني لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼي ګڼة: ۱۳۷.

[5]- الکاساني، علاء الدين ابوبکر بن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۸، د پاڼي ګڼه: ۱۶۵.ابن قد امة، ابي محمد عبدالله بن احمد بن محمد، المغني لابن قدامة، د ټوک ګڼه. ۱۲.دپاڼي ګڼه: ۱۳۷.

مالکي او شافعي فقهاو دوجوهود شرکت په بطلان باندې قول کړی دی، او دا ځکه چې د دوی په نظر د شرکت مهم عنصر چې مال دی، په نوموړي شرکت کې شتون نلري.[۱]

د وجوهو د شرکت له پېژندنې څخه وروسته دا جوته شوه، چې د وجوهو په شرکت کې یواځې باور او اعتبار کارول کېږي، او په تضامني شرکت کې د شریکانو لخوا مال او پانګه باندې کار کېږي، نو له همدې کبله تضامني شرکت د وجوهو له شرکت سره کوم ځانګړی ورته والی نلري.

درېیم: د کار، صنایعو او ابدانو شرکت سره د تضامني شرکت ورته والی:

لومړی دا اړینه ده، چې د کار، صنایعو او ابدانو شرکت و پېژنو، او د کار، صنایعو او ابدانو د شرکت له معرفت او پېژندنې څخه وروسته به د تضامني شرکت د ملکیتونو له شرکت سره ورته والی په ډاګه شي، دعقد شرکت داقسامو څخه درېیم ډول د کار، صنایعو او ابدانو شرکت دی، چې د دې شرکت په تعریف کې دفقهاوڅخه بیلابیل تعریفونه بیان شوي چې په لاندې توګه د وجه تسمیې سره سم ورڅخه یاده ونه کوم:

لومړی: وجه تسمیة د نوموړي شرکت په کار، صنایع اوابدانو باندې:

دې شرکت ته ځکه د کار شرکت ویل کېږي: چې پانګه په نوموړي شرکت کې د شریکانو کار کول وي، او دې شرکت ته ځکه د صنایعو شرکت وایي: چې کسب کار اوصنعت د نوموړي شرکت پانګه ګڼل کېږي، او دې شرکت ته ځکه د ابدانو شرکت وایې: چې شریکان په نوموړي شرکت کې په خپلو بدنو او جسدو باندې عمل او کار کوي.

دویم: د کار، صنایعو او ابدانو شرکت پېژندنه:

د حنفي فقهاو څخه السرخسي د کار، صنایعو او ابدانو شرکت داسي را پېژني:

ان یشترک صانعان في تقبل الاعمال کالخیاطة والقصارة او نحو ذلك.[۲]

ژباړه: چې دوه کسب ګر د کارو په رانیولوکې سره شریک شي، لکه خیاطي او خشکه شویې (د کالیو وینځل) او داسي نور.

---

[۱]- الصاوي، احمد بن محمد الصاوي المالکي، حاشیة الصاوي علی الشرح الصغیر، دټوک ګڼه: ۸، دپاڼې ګڼه: ۲۲.النووي، ابوذکریا محی الدین یحی بن شرف، المجموع شرح المهذب، د ټوک ګڼه. ۱۴، د پاڼي ګڼه: ۷۵.
[۲]- السرخسي، محمد بن احمد بن ابی سهل، المبسوط، د ټوک ګڼه: ۱۱، د پاڼې ګڼه: ۲۷۷.

د مالکي فقهاو څخه ابن عبدالبر[1] د کار، صنايعو او ابدانو شرکت داسې راپيژني:

هي کالمعلمين و الطببين و الخياطين و الصباغين و الحدادين و الغواصين في البحر والصيادين، اذا کان کل واحد منهما يعمل فی مثل عمل صاحبه و فی موضع واحد فان لم يکونا فی موضع واحد لم يجز و کذلك ان لم يعمل عملا واحد لم يجز. [2]

ژباړه: نوموړی شرکت داسې شرکت دی لکه چې دوه معلمان، دوه ډاکتران، دوه خياطان، دوه د جامو رنګونکي، دوه آهنګران، دوه د ابو لامبو و هونکي او دوه ښکاريان سره شريکان شي، پدې شرط چې د ټولوشريکانو يو کار وي او په يو ځاي کې وي، که چېرې د کارکولو ځای يو نوي او يا د شريکانو بيل بيل کاروي، کارېې يو نوي پدې دواړو صورتونو کې نوموړی شرکت روا نه دي.

د شافعي فقهاو څخه النووي کار، صنايعو او ابدانو شرکت داسې را پيژني:

هي الشرکة على ما يکتسبان بابدانهما.[3]

ژباړه: نوموړی شرکت عبارت د هغه شرکت څخه دی، چې دوه کسان شريک وي په هغه څه کې چې په خپلو ځانو او بدنو باندې کسب او کار کوي.

د حنبلي فقهاو څخه المِرْداوي[4] د کار، صنايعو او ابدانو شرکت داسې را پيژني:

هي ان يشترکا فيما يکتسبان بابدانهما.[5]

ژباړه: هغه شرکت دی چې شريکان په هغه څه کې چې دوی يې کسب کار کوې په خپلو ځانو او بدنو باندې سره ګډ او شريک وي.

د معاصرو فقهاو څخه الزحيلي د کار، صنايعو او ابدانو شرکت داسې را پيژني:

وهي ان يشترک اثنان على ان يستقبلا فی ذمتهما عملا من الاعمال، ويکون الکسب بينهما کالخياطة

[1] ابوعمريوسف بن عبدالله بن عبد البر: د اندلس د هيواد د مالکي مذهب امام، فقيه، محدث اومؤرخ دی، چې د مغرب په حافظ باندې شهرت درلوده، او ډېرى آثار ورڅخه په ځای پاتې دي، لکه: ( الدرر في اختصار المغازي والسير، العقل والعقلاء، الاستيعاب في تراجم الصحابة دوه ټوکه، الکافي في الفقه)، چې په ۳۶۸هـ ۹۷۸م کال د قرطبة په ښار کې نړۍ ته سترګې غړو ولي، او په ۴۶۳هـ ۱۰۷۱م کال د شاطبه په ښار ومړ. الزرکلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۸، دپاڼې ګڼه: ۲۴۰.

[2]- ابن عبدالبر، ابوعمريوسف بن عبدالله، الکافي فی فقه اهل المدينة، د ټوک ګڼه:۲، د پاڼې ګڼه: ۷۸۴، دويم چاپ، د چاپ کال: ۱۴۰۰هـ ق ۱۹۸۰م، د چاپ ځاي: مکتبة الرياض الحديثة السعودية.

[3]- النووي، ابو ذکريا محى الدين يحى بن شرف، المجموع شرح المهذب، د ټوک ګڼه: ۱۴: د پاڼې ګڼه: ۷۲.

[4] على بن سليمان المِرْداوي ثم الدمشقي : دا د سوريې دهيواد دحنبلي مذهب امام، شيخ اوفقيه دی، او قول يې حجت وو په مذهب کې، او دحنبلي مذهب رياست په ده سره پای ته رسېدلی دی، او ډېر آثار ورڅخه په ځای پاتې دي، لکه: (الانصاف في معرفة الراجح من الخلاف، چې لومړۍ په ۱۲ ټوکه وو، بيا يې په يوه ټوک کې را مختصر کړ، التنقيح المشبع في تحرير أحكام المقنع، تحرير المنقول، التحبير في شرح التحرير، دوه ټوکه، چې د ۸۱۷هـ ۱۴۱۴م کال د مِرْدا په ښار کې سترګې دنيا ته غړولي، او د ۸۸۵هـ ۱۴۸۰م کال په دمشق کې د جمعې په شپه ومړ. الزرکلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۴، دپاڼې ګڼه: ۲۹۲.

[5]- المرداوي، ابوالحسن علي بن سليمان، الانصاف فی معرفة الراجح من الخلاف، د ټوک ګڼه: ۱، د پاڼې ګڼه: ۹۷۰، دچاپ کال: ۲۰۰۴م، دچاپ ځای: شرکة بيت الافکار الدولية لبنان.

والحدادة و الصباغة ونحوها.[1]

ژباړه: دوه کسان پدې ډول سره شریک شي، چې دیوه کار دسرته رسولو ذمه واري پرغاړه واخلي، او څه چې لاسته راوړي په هغه سره کې شریک وي، لکه خیاطي، آهنګري او د کالیو رنګول او داسي نور.

د کار، صنایعو او ابدانو شرکت مشروعیت:

د دې شرکت په مشروعیت کې د فقهاو په منځ کې اختلاف د نظر موجود دی، چې دځینو فقهاو په آند باندې روا او دځینو فقهاو په آند باندې ناجائز او ناروا دی، چې د ښه وضاحت لپاره په لاندې توګه ورته اشاره کوو:

دحنفي او حنبلي او مالکي فقهاو په نزد باندې د کار، صنایعو او ابدانو شرکت روا دی، البته په دې شرط باندې چې کار او صنعت سره یو وي، اوهمدارنګه دکار دځای اتحاد اویو والي وي.

او دشافعي فقهاو په نزد باندې د کار، صنایعو او ابدانو شرکت باطل دی، ځکه چې په نوموړې شرکت کې مال او پانګه شتون نه لري، او دویم دغرر( دوکې) ډېر احتمال ورکې موجود دی.[2]

د کار، صنایعو او ابدانو شرکت له پېژندني څخه وروسته دا جوته شوه، چې د کار، صنایعو او ابدانو په شرکت کې یوازې کسب، کار، مهارت او تخصص کارول کېږي، او په تضامني شرکت کې د شریکانو لخوا مال او پانګه باندې کار سرته رسیږي، نو له همدې کبله تضامني شرکت د کار، صنایعو او ابدانو له شرکت سره کوم ځانګړی ورته والی نلري.

څلورم: د مضاربت شرکت سره د تضامني شرکت ورته والی:

لومړی دا اړینه ده، چې د مضاربت شرکت و پیژنو، او د مضاربت د شرکت له معرفت او پېژندني څخه وروسته به د تضامني شرکت د د مضاربت له شرکت سره ورته والی په ډاګه شي، د عقد شرکت د ډولونو څخه څلورم ډول دمضاربت شرکت دی، چې د نوموړې شرکت دښه پېژندلو په پار د ګڼ شمېر فقهاو تعریفونه په لاندې ډول ستاسو حضور ته وړاندې کوم:

د حنفي فقهاو څخه ابن عابدین د مضاربت شرکت داسي را پېژني:

---

[1]- الزحیلي، وهبة بن مصطفي، موسوعة الفقه الاسلامي والقضایا المعاصرة، د ټوک ګڼه: ۴، د پاڼې ګڼه: ۵۹۷.
[2]- هیئة کبار العلماء، الموسوعة الفقهیة الکویتیة، د ټوک ګڼه: ۲۶ ، د پاڼې ګڼه: ۳۵.

هي عقد شركة فى الربح بمال من جانب ( رب المال) و عمل من جانب ( المضارب).[١]

ژباړه: د مضاربت شرکت عبارت د هغه تړون څخه دی چې د ګټې په پار ترسره کېږي، چې د یوجانب څخه مال وي چې په رب المال باندې نومول کېږي، او د بل طرف څخه کار او عمل وي چې په مضارب باندې نومول کېږي.

د مالکي فقهاو څخه ابن رشد د مضاربت شرکت داسې را پېژني:

ان يعطي الرجل الرجل المال على ان يتجر به على جزء معلوم يأخذه العامل من ربح المال، اى جزء كان مما يتفقان عليه ثلثا او ربعا او نصفا.[٢]

ژباړه: چې یو کس بل کس ته مال ورکړي، ترڅو د کار کونکي له پلوه د یوې ټاکلې برخې د ګټې څخه د اخستلو په مقابل کې سودا ګري پرې وکړي، اوټاکلې برخه هغه ده چې دوی ور باندې اتفاق کړی وي، لکه دریمه، څلورمه یا نیمایي برخه.

د شافعي فقهاو څخه النووي د مضاربت شرکت داسې را پېژني:

ان يدفع اليه مالا ليتجر فيه والربح مشترک.[٣]

ژباړه: چې هغه سړي ته مال ورکړي د سوداګرۍ په پار، چې ګټه یې د دوي تر منځ شریک او ګډ وي.

د حنبلي فقهاو څخه ابن قدامة دمضاربت شرکت داسې را پېژني:

هي ان يشترک بدن و مال، وهذه المضاربة تسمى قراضا ومعناها ان يدفع رجل ماله الى آخر يتجر له فيه على ان ما حصل من الربح بينهما حسب ما يشترطانه.[٤]

ژباړه: د مضاربت شرکت هغه دی، چې بدن او شتمنی سره شریک شي، او مضاربت ته قراض هم وایي، یعنی یوکس بل کس ته مال ور کړي دسودا ګری لپاره، او هغه ګټه چې منځ ته راځي د دوی دشرطو موافق به وېشل کیږي.

د معاصرو فقهاو څخه الزحيلي د مضاربت شرکت داسې را پېژني:

---

[١]-ابن عابدين، محمد امين بن عمر بن عبدالعزير،رد المحتارعلى در المختار،د ټوک ګڼه: ٢٣،د پاڼې ګڼه:٣۴٣،دویم چاپ،د چاپ کال:١۴١٢هـ ق ١٩٩٢م،د چاپ ځاي:دارالفكر بيروت.
[٢]- ابن رشد، ابو الوليد محمد بن احمد بن محمد، بداية المجتهد و نهاية المقتصد، دټوک ګڼه: ٢، د پاڼې ګڼه: ١٩١.
[٣]- النووي، ابو ذكريا محى الدين يحى بن شرف، المجموع شرح المهذب، دټوک ګڼه: ١۴ د پاڼې ګڼه: ٣۵٨.
[۴]- ابن قدامة، ابى محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنى لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۵، د پاڼې ګڼه: ١٩.

هي ان يدفع المالک العامل مالا ليتجر فيه و يکون الربح مشترکا بينهما بحسب ما شرطا والخسارة فهی علی رب المال وحده ولا يتحمل العامل المضارب من الخسران شيئا وانما هو يخسر عمله وجهده.[۱]

ژباړه: د مضاربت شرکت دې ته وايي، چې د شتمنۍ مالک د سوداګرۍ لپاره کار کونکي ته مال ورکړي، او د دوی د توافق په اساس به ګټه د دوی تر منځ شریکه وي، او د زیان او خسارې پېټی به د شتمنۍ مالک پرغاړه وي، او دغه خساره به د کارکونکي پرسرنوي، ځکه چې د کار کونکي کار او زیار لمنځه تللی دی.

د مضاربت شرکت داسې یو شرکت دی، چې یوطرف څخه مال او بل طرف څخه کار اوزیار وېستل دي، که چېرې شرکت ګټه وکړه، نو په خپل منځ کې به يې دتړون په اساس وېشي ، اوکه شرکت له تاوان او زیان سره مخامخ شي پدې حالت کې د مال څېښتن مالي زیان به ګالي، او کار کونکی به د کار او زحمت او وخت تاوان او زیان ګالي.

د مضاربت دشرکت ارکان:

د مضاربت شرکت څلورارکان لري، چې د دې رکنونو دیوه په نه شتون سره دمضاربت شرکت له منځه ځي، چې په لاندې توګه يې یاده ونه کوم:

لومړی: مال.

دویم: کار.

دریم: د تړون دواړه جانبین.

څلورم: د مضاربت د پاره ځانګړي الفاظ.[۲]

د مضاربت د شرکت شرطونه:

دمضاربت شرکت درې شرطونه لري، چې پرته له دې شرطو څخه دمضاربت شرکت سم نه دی، چې په لاندې توګه ورته اشاره کوم:

---

[۱]-الزحيلي، وهبة بن مصطفی، الفقه الاسلامی وادلته، د ټوک ګنه: ۵ د پاڼې ګڼه: ۵۶۷.

[۲]- الکاسانی، علاء الدين ابوبکر بن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع، دټوک ګڼه: ۱۳، د پاڼې ګڼه: ۱۵۸. النووي، ابو ذکريا محی الدين يحی بن شرف، مغنی المحتاج شرح المهذب، د ټوک ګڼه:۹، دپاڼې ګڼه: ۲۷۶، دچاپ کال: ۱۴۰۷هـ ق ۱۹۸۷م، دچاپ ځای: دارالکتاب العربي بيروت.

لومړۍ: چې رأس المال باید درهم او د نانیر وي، او یا هغه څه چې د دراهمو او دنانیرو په حکم کې قایم وي.

دویم: چې د تړون پروخت رأس المال باید مضارب ته تسلیم کړلی شي، ځکه چې مضاربت په داسي رأس المال باندې چې پور یارهن یعنی ګرو وي سم نه دي.

دریم: کومه ګټه چې دوی په خپل منځ کې ویشي اندازه یې که ټاکلي نوي، خو نسبت یې معلوم او ټاکلي وي لکه څلورمه یا پنځمه برخه، او دغه ګټه باید د رأس المال څخه لاسته راغلي وي.[1]

د مضاربت د شرکت مشروعیت:

د مضاربت شرکت د ټولو ارکانو اوشرائطو په مراعاتولو سره، پرته د کوم مخالفت څخه د ټول امت په اجماع اوتوافق سره روا او جائز دی.

د مضاربت د شرکت له پېژندني څخه وروسته دا جوته شوه، چې تضامني شرکت له مضاربت له شرکت سره هم له یوه اړخه ورته والی لري، چې بشپړ بیان به یې د تضامني شرکت فقهي مطابقت تر عنوان لاندې راروان دی.

**ج: د شرکت ډولونه په تجارتي قانون کې:**

شرکت د هغه موخي له کبله چې منځ ته راځي او کارول کېږي، په دوه برخو باندې و بشل شوی دی:

لومړۍ: مدني شرکتونه.

دویم: تجارتي شرکتونه.

دغه پورتني دوه ډوله شرکتونه دقانون په رڼا کې په بشپړه توګه په لاندې ډول در پېژندل کېږي:

دمدني شرکتونو پېژندنه:

دمدني شرکتونو اطلاق په هغه شرکتو باندې کېږي، چې دهغه موضوع مدني اعمال او معاملې جوړوي، او د شرکت د جوړښت موخه د ګټې لاسة راوړل وي.[2]

چې د مدني شرکت معاملې عبارت دي:

[1]- الکاساني، علاء الدین ابوبکربن مسعودبن احمد، بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع، دټوک ګڼه: ۱۳د پاڼې ګڼه: ۱۵۲. النووي، ابو ذکریا محی الدین یحی بن شرف، مغنی المحتاج شرح المهذب، د ټوک کڼه: ۹، د پاڼې ګڼه: ۲۶۲.ابن قدامة، ابی محمد عبدالله بن احمد بن محمد، الکافی فی فقه الامام المبجل احمد بن حنبل ، د ټوک کڼه: ۲، پاڼې ګڼه: ۱۵۱.

[2]- میرزایي، د کترعلی محمد، حقوق تجارت افغانستان، دپاڼې ګڼه: ۳۷.

د زمکي اړونده معاملې، زراعتي محصولات، معادن، فني، علمی او ورزشي فعالیتونه څخه دي، چې په افغانستان کې مدني شرکتونه په ډېره پراخه بڼه شتون لري، لکه یوه هټۍ ( دوکان) کې څو کسان شریک وي، او دغه شرکت د دوي معمولا پرته له کوم لیکل شوی قرار داد څخه منځ ته راځي.[۱]

دتجارتي شرکتونو پېژندنه:

د افغانستان د تجارت اصولنامه تجارتي شرکتونه داسې را پېژني:

تجارتی شرکتونه عبارت دځو کسانو له شریکېدو څخه دي، چې په یوه یا متعددو موضوع کې د تجارتي معاملاتو د اجراء په مقصد پیدا کېږي.[۲]

تجارتي معاملات څه ته وایي:

تجارتي معاملات عبارت دي له کمیشن کارۍ، دلالۍ، د صرافۍ معاملې، د بانکونو معاملې او داسې نورو څخه.[۳]

د تجارتي شرکتو ډولونه:

په لاندېني لیکلو کې دتجارتي شرکتو ډولونه په دوه بڼو باندې څېړو، یو د تجارتي شرکت ډولونه دحقوق پوهانو له آنده، دویم دتجارتي شرکت ډولونه د افغانستان دتجارت داصول نامې له مخې، چې پوره تفصیل یې لاندې ټکوکې ذکر کوم:

د حقوق پوهانو له آنده د تجارتي شرکتو ډولونه:

د حقوقو حقوق پوهان تجارتي شرکتونه په درې ډو لونو باندې و یشلي دي[٤]، چې په لاندې توګه ورڅخه یاده ونه کوم:

لومړۍ: د اموالو شرکتونه:

چې په لاندې ټکو کې داموالو د شرکتونو پېژندنه ستاسو حضور ته وړاندې کوم:

د اموالو شرکتونه دهغو شرکتونو څخه عبارت دی، چې د شخصي اعتبار په اساس منځ ته نه راځي بلکه د شتمنۍ د اعتبار په بنیاد منځته راځي، په داسې ډول چې هر یو کس کولای شي د

[۱]- میرزایي، د کترعلی محمد، حقوق تجارت افغانستان، دپاڼې ګڼه: ۳۶.
[۲]- د افغانستان د تجارت د اصولنامې ( ۱۱۶ ) ماده.
[۳]- پورتنۍ اخیستځای ( ۱۴ تر ۱۹ ) مادې پورې.
[٤]- میرزایي، د کتور علی محمد، حقوق تجارت افغانستان، د پاڼې ګڼه: ۳۸-۳۹.

شرکت په پانګوني که برخه واخلي، یا په بل عبارت د شرکت ټوله هڅه د شتمنۍ په راغونډولو باندې وي بدون د نظر کولو د شریکانو شخصیت ته.

د اموالو د شرکتو ځانګړني:

د دې شرکت د ځانګړونو څخه ځینې ځانګړني دادي، چې برخې پکې د انتقال وړ وي، او بل داچې د برخه وال د مړینې سره د بر خې اړونده سندنونه وارث ته منتقل کېږي، او همدارنګه سهامي شرکتونه داموالو د شرکتوڅخه شمېرل کېږي.

دویم: د اشخاصو شرکتونه:

چې په لاندې ټکو کې د اشخاصو شرکتو پېژندنه د ګرانو لوستونکو حضور ته وړاندې کوم:

د اشخاصو شرکتونه د شریکانو د شخصیت په اساس او د شریکانو ترمنځ د اعتماد او باور له کبله شتون مومي، چې د دوه یاډېرو کسانو څخه منځ ته راځي، پداسې ډول چې دغه اشخاص یو له بل سره د خپلولۍ، ربښتون ولۍ او د ښه کار اوهمکارۍ په بنیاد یوله بل سره اړېکې پیداکړې وي.

د اشخاصو د شرکتونو ځانګړني:

د دې شرکت د ځانګړونو څخه ځینې ځانګړني دادي، چې پدې ډول شرکتونو کې د شریکانو شخصیت اواړېکې یې د نورو سره ځانګړې ارزښت لري، اومسئولیت د هر یوه د ضامنو شریکانو د دریم کس په مقابل کې نامحدوده اوتضامني وي، اودریم کس کولای شي چې د خپل پور د لاسته راوړلو لپاره د شریکانو هر فرد فرد ته مراجعه او دخپل پور غوښتنه ورڅخه وکړي، او په ضامن شریک باندې ضروري ده چې د پور ورکونکي پور اداء کړي، او داشخاصو په شرکتونو کې د شریک برخه د ژوند یا مړینې څخه وروسته د انتقال وړنده، مګرد شریکانو په رضایت سره، اوعام تضامني شرکت د اشخاصو دشرکتونو له ډلې څخه دی.

دریم: مختلط شرکتونه:

چې په لاندې ټکو کې د مختلط شرکتو پېژندنه ستاسو حضور ته وړاندې کوم:

دتجارتي شرکتو له ډولو څخه دریم ډول مختلط شرکت دی، او دې شرکت ته ځکه مختلط شرکت ویل کېږي، چې خپل ځینې احکام یې د اموالو شرکتوڅخه او ځینې نور احکام یې د اشخاصو د شرکتو څخه اخیستي وي، او دمختلط شرکت نوم یې ورباندې ایښی دی، د محدود المسئولیت شرکتونه او دخاص سهامي تضامني شرکتونه د مختلط شرکتونو له ډلې څخه شمېرل کېږي.

د تجارتي شرکتو ډولونه دتجارت داصول نامي له مخې:

د تجارت اصولنامې له مخې تجارتي شرکتونه په لاندې ډولو باندې وېشل شوي دي:

۱- تضامني (کولکتیف) شرکت.

۲- مختلط تضامني (کوماندیت) شرکت.

۳- محدودالمسؤلیت (لیمتد) شرکت.

۴- سهامي (آنونیم) شرکت.

۵- تعاوني ( کوپراتیف) شرکت.[۱]

د تجارتي شرکتو لنډه پېژندنه:

لومړی: تضامني شرکتونه:

د تجارت اصولنامه تضامني شرکتونه داسې را پېژني:

تضامني شرکت هغه شرکت دی، چې تر ټاکلي عنوان لاندې د تجارت د پاره د دوو یاڅوتنوپه منځ کي په تضامني مسؤلیت سره منځ ته راځي، که د شرکت ټول شته د ټولو پورونو د پاره کافي نوي نو د شرکت د ټولو پورونو ورکولو مسئول هریو شریک دی.[۲]

د تضامني شرکت ډولونه:

تضامني شرکتونه په بیلا بیلو ډولو باندې ویشل شوي دي، چې په لاندې توګه یې ګرانو لوستونکو حضور ته وړاندې کوو:

۱- عام تضامني شرکت:

عام تضامني شرکت هغه شرکت دی، چې په تضامني مسئولیت سره د دوو یاله دوو څخه د زیاتو اشخاصو ترمنځ د اقتصادي، او دسوداګرېزو معاملو د سرته رسولو لپاره، جوړېږي، په هغه صورت کې چې د عام تضامني سرکت شتمنۍ د شرکت د ټولو دیونو د ورکولو لپاره کافي نوي، له شریکانو څخه هر یو د عام تضامني شرکت د ټولو دیونو د ورکولو مسئول دي، او هغه شریک یا شریکان چې

---

[۱]- دافغانستان د تجارت د اصول نامي ۱۱۷ ماده.
[۲]- پورتنی اخیستځای ۱۳۵ ماده.

دغسي پورونه ور کوي حق لري له خپلې ونډې څخه زيات ورکړل شوي مبالغ له نورو شريکانو څخه وغواړي.[1]

عام تضامني شرکت لږ تر لږه د دوو شريکانو څخه جوړيږي، چې دعام تضامني شرکت شريک ته (ضامن) ويل کيږي، د دغو شريکانو د تعهد او ژمنتيا ځانګړنه داده، چې د پورد ورکولو مقابل کې هر يو د دوی مسئول دی، له همدې کبله د شريکانو مسئوليت ترخپلې برخې او سهم پورې محدود نه دی، که چيرته پور ورکونکي خپل پور د شرکت نه ترلاسه نکړي، کولای شي د شرکت له منځه تللو څخه وروسته شريک ته مراجعه و کړي، او شريک بايد د خپل شخصي مال او پانګې څخه د پور ورکونکو پور اداء کړي.

۲- خاص تضامني شرکت:

خاص تضامني شرکت د افغانستان د تضامني شرکتونوقانون يې داسې را پيژني:

خاص تضامني شرکت هغه شرکت دی، چې ترمشخص او ټاکلي نامه لاندې، د دې قانون د حکمونو مطابق د اقتصادي او سوداګريزو معاملو د سرته ر سولو لپاره جوړيږي، او په هغه کې يو شريک يا له يوه زيات د غير محدود المسئوليت لرونکي (عام شريکان) او پاتې شريکان په يوې ټاکلي پانګې سره (خاص شريکان) محدود مسئوليت لري، د هغو شريکانو پانګه چې محدود مسئوليت لري په و نډو وېشل کېدای شي.[2]

خاص تضامني شرکت چې د تجارت په اصول نامه کې د (مختلط تضامني شرکت) ترنامه لاندې ياد شوي، دعام او خاص شريکانو څخه مرکب شوی وي، چې عام شريکان لکه په عام تضامني شرکت کې د ضامن او نامحدوده مسئوليت در لودونکي دي، او خاص شريکان لکه د محدود المسئوليت د شرکت شريکان، چې غيرضامن او مسئوليت يې تر خپلې برخې او ونډې پورې محدود دی، غير ضامن شريکان پدې شرکت کې د شريک ترنامه لاندې نه دشرکت د ادارې حق لري او نه د شرکت د چارو سمبالول د دوی د وظائفو څخه شمېرل کيږي.

---

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۲۱ ماده.
[2]- پورتنی اخيستځای ۲۲ ماده.

۳- د کار تضامني شرکت:

د کار تضامني شرکت، د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصو یوکېدل دي، چې د بل شخص لپاره کار سرته ورسوي یا ژمنه ترسره کړي، اود شرکت د کار ګټه د دوی ترمنځ د شریکانو د موافقې مطابق ووېشل شي.[1]

د کار تضامني شرکت د دوو یا د ډېرو کسانو یو ځایوالی ته وایي چې بل کس ته کار یا کومه ژمنه یي چې کړې وي سرته ورسوي، او دشرکت د کار ګټه د دوی ترمنځ د شوې موافقې په اساس وېشل کېږي، د کار په تضامني شرکت کې هر شریک د کار په اخستلو یا نیولو کې د کار د تضامني شرکت په نماینده ګۍ باندې نوموړی د نورو شریکانو وکیل ګڼل کېږي، د کار ځېښتن د هر یوه شریک څخه د کار غوښتنه کولای شي بالمقابل هر یو د شریکانو د کار د اجرت غوښتنه د کار دځېښتن څخه کولای شي، او کله چې د کار ځېښتن د کار اجرت یو د شریکانو ته ورکړ، داسې ګڼل کېږي، چې ټولو شریکانوته یې د کار اجرت اداء کړی وي، د کار تضامني شرکت په اسلامي فقه کې د صنایعو شرکت، د ابدانو شرکت او داعمالو په شرکت نامه باندې یاد شوی دی، د حنفي، حنبلي اومالکي فقهاو په نظر باندې نوموړی شرکت مشروع او روا دی، او مونږ کولای شو چې د کار تضامني شرکت د ننی زمانې شرکتو د پاره و کاروو لکه د طبابت ، معلوماتي تکنالوژی او معماري ځانګو کې.

۴- په اعتبار شرکت:

په اعتبار شرکت هغه شرکت دی، چې په هغه کې دوه یاله دوو څخه زیات اشخاص د اعتبار پربنسټ په پور (نسیئه) توګه د مال په پېرودلو داسې موافقه و کړي، چې مال به پلوري او د شرکت په ګټه او زیان کې به شریک وي او شریکان هر یو د خپلې ټاکلې برخې په اندازه مسئول دی.[2]

په اعتبار شرکت کې شریکان د شتمنۍ سره نه یوځای کېږي، چې ترڅو شرکت وربانديې پرمخ وچلوي بلکه له یوبل سره موافقه کوي چې د هغه اعتبار په اساس چې په ښار، بازار اومارکیټ کې لری مال په پور پېري بیایي پر نورو وپلوري، او د پور د ورکولو څخه وروسته به یې ګټه په خپل منځ کې سره وېشي او که د ګټې پرځای زیان وکړي نو ټول شریکان به یې ګالي.

په اسلامي فقه کې نوموړې شرکت ته د وجوهو او د مفالیسو شرکت ویل کېږي چې د حنفي او حنبلي فقهاو په آند باندې مشروع او روا شرکت دی.

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۲۳ ماده.
[2]- پورتنی اخیستځای ۲۴ ماده.

دویم: مختلط تضامني شرکت:

د تجارتي شرکتو د ډولوڅخه دویم ډول مختلط تضامني شرکت دی، چې په لاندې توګه بیانیږي:

مختلط تضامني شرکت هغه شرکت دی، چې ترتاکلي عنوان لاندې دتجارت داجراء په مقصد جوړیږي، او دشرکت د پوروالو په مقابل کې د هغه د یوه یا څو تنو شریکانو مسؤلیت غیر محدود او د یوه یا نورو شریکانو مسؤلیت یې په یوه ټاکلي پانګه کې محدود وي، اوداشرکت کوماندیت (مختلط تضامني) شرکت بلل کیږی، دهغو شریکانو پانګه چې د محدود مسؤلیت تابع وي ممکن ده چې په برخو وویشل شي.[1]

د خاص تضامني شرکت دشریکانو په هکله قانون اجازه ورکړې چې محدودالمسؤلیت یا خاص شریکان کولای شي چې په ونډو یا برخو وویشل شي.[2]

او دغه رنګې شرکت د تجارت د اصولنامې له مخې په (سهامي مختلط تضامني شرکتونو) په نامه باندې یاد او داسې یې راپیژني:

سهامي مختلط تضامني شرکتونه عبارت له هغه شرکتونو څخه دي، چې په هغوکې یو یا زیات شمېر شریکان د شرکت د پورونو په مقابل کې تضامني اوغیر محدود مسؤلیت لري پدې حال کې چې بل شمېر شریکان فقط د هغو اسهامو په اندازه چې په شرکت کې یې لري مسؤل دي.[3] او دخاصو شریکانو وېشل په برخو  په اړه یې څه اشاره نه ده کړې.

دریم: محدودالمسؤلیت شرکت:

د تجارتي شرکتو د ډولوڅخه دریم ډول محدودالمسؤلیت شرکت دی، چې په لاندې توګه یې درپیژنو:

محدودالمسؤلیت شرکت هغه تجارتي شرکت دی، چې پانګه یې په سهمونو نه وي وېشل شوي او د هرشریک مسؤلیت په شرکت کې د ده د متعهده پانګې په اندازه وي، محدودالمسؤلیت شرکت (لمیتد) بلل کیږي.[4]

د محدودالمسؤلیت شرکت پانګه په مستقیم ډول نه بلکې په غیر مستقیم ډول په اسهامو باندې وېشل شوې وي، او د هریو شریک مسؤلیت محدود په اندازې د پانګونې په شرکت کې وي، او د محدود

---

[1]- د افغانستان د تجارت داصولنامې ۲۴۳ ماده.
[2]- د افغانستان د تضامنی دشرکتونو د قانون ۲۲  ماده
[3]- د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۴۴۷ ماده.
[4]- پورتنی اخیستځای ۴۵۶  ماده.

المسؤلیت شرکت لږ ترلږه له دوو شریکانو څخه جوړ وي، د بېلګې په ډول د محدودالمسؤلیت شرکت که ټوله پانګه یې (۹۰۰۰۰۰) افغانۍ وي، د هریو درې شریکانو برخه او سهم به (۳۰۰۰۰۰) افغانۍ وي، او دشرکت پور (۱۲۰۰۰۰۰) افغانۍ وي، پور ورکوونکي کولای شي تر (۹۰۰۰۰۰) افغانیو پورې د شرکت څخه د پور غوښتنه وکړې، او د شرکت د مالو څخه خپل پور لاسته راوړي او دپاتې (۳۰۰۰۰۰) پور له کبله پور ورکوونکي نشي کولای چې د شریکانو شخصي پانګې ته رجوع او غوښتنه یې وکړي.

څلورم: سهامي شرکت:

سهامي شرکت د هغه شرکت نوم دی، چې تریوه ټاکلي عنوان لاندې د تجارتي معاملو د پاره تشکیل شوی وي، او پانګه یې ټاکلې او په برخو وېشلې شوې وي، او دهرشریک د مسؤلیت اندازه د هغه د برخې په اندازې پورې محدوده وي.[١]

د یوه سهامي شرکت لپاره لږ تر لږه د پنځو تنو مؤسسانو وجود شرط دی، او د دی شرکت پانګه ټاکلې او په برخو وېشل شوې وي، او د هریوه شریک مسؤلیت د هغه د برخې او ونډې په اندازه محدوده وي، د نوموړي شرکت له مشهورو ځانګړنو څخه داده، چې د پانګونې د څېښتنانو څخه په (ونډه لرونکو یا برخه والو) سره تعبیر کېږي، او د برخې د پانې درلودونکی وي یعنې برخه وال هغه کس دی، چې دسهامی شرکت په دفترکې یوه برخه دده په نوم ثبت وي، په همدې بنیاد د دې شرکت برخه وال په شرکت کې ونډه نلري، او یواځې د برخې د پانې خاوند وي، په داسې حال کې چې د نورو شرکتونو شریکان په شرکت کې د ونډې خاوندان وي، په سهامي شرکت کې ټوله پانګه په مساوي توګه په برخو باندې وېشل شوې وي، او هرشریک د یوشمېر برخو مالک وي، دبېلکې په ډول داسې به فرض کړو چې د یوه سهامي شرکت پانګه د درې برخو لرونکو لخوا جوړه شوې وي، چې ټوله پانګه یې (۹۰۰۰۰۰) وي، او هریوه د شریکانو (۳/۱) دریمه برخه شرکت ته راوړې وي ، او دشرکت ټوله پانګه په (۹۰۰۰) برخو د (۱۰۰) افغانیو په قیمت تقسیم شوې وي، په دغه صورت کې هریو دشریکانو څخه د (۳۰۰۰) برخو مالکان دي، کولای شي چې د خپلو برخوڅخه یو شمېر یې کوموکسانوته یې چې غواړي ولېږدوي، د اصولو په اساس په سهامي شرکتونوکې د برخولېږد آزاده دی، او دغه دبرخو دلېږد آزادي یواځې دسهامي شرکتونو دځانګړنوڅخه دی.

---

[١]- د افغانستان د تجارت داصولنامي ۲۶۶ ماده.

پنځم: تعاوني شرکت:

د تجارتي شرکتونو د ډولوڅخه پنځم ډول دی، چې په لنډ ډول پېژندنه نه يې داده:

تعاوني شرکت هغه شرکت دی، چې ځينې کسان د ګډو او مشترکو اړتياوو دلمنځه وړلو په موخه، او د اقتصادي وضعيت، او دټولنی د پرمختګ لپاره ديوبل سره دکومک او همکاری پر بنسټ نوموړی شرکت جوړوي، لکه د کېمياوي کود کوپراتيفي شرکت، او دغه شرکت د کوپراتيفو د (۱۳۸۷) قانون تابع دی.

## دویم مبحث:

## د تضامني شرکت ارکان.

د دې څېړنې په دویم مبحث کې دتضامني شرکت ارکان ترڅېړنې لاندې نیول کېږي، او دغه مبحث په درې مطلبونو باندې وېشل شوی دی.

لومړی مطلب: د تضامني شرکت عمومي ارکان په فقه او قانون کې.

دویم مطلب: د تضامني شرکت خصوصي ارکان.

دریم مطلب: د تضامني شرکت شکلي ارکان په فقه او قانون کې.

### لومړی مطلب:

د تضامني شرکت عمومي ارکان په فقه او قانون کې.

الف: د تضامني شرکت عمومي ارکان په اسلامي فقه کې.

ب: د تضامني شرکت عمومي ارکان په قانون کې.

ج: د رضاء عیبونه داسلامي شریعت له آنده.

### دویم مطلب:

د تضامني شرکت خصوصي ارکان:

الف: د شرکت شریکان.

ب: د شریک پانګه او شریکان په ګټه او زیان کې شریکېدل.

ج: د شرکت نوم او موضوع.

### دریم مطلب:

د تضامني شرکت شکلي ارکان په فقه او قانون کې.

الف: په اسلامي فقه کې د شرکت دعقد لیکنه.

ب: د شرکت د عقد لیکنه په قانون کې.

ج: د شرکت دعقد ثبتول.

## لومړی مطلب: د تضامني شرکت عمومي ارکان په فقه او قانون کې:

تضامني شرکت د معاملاتو د عقدونو څخه یو عقد او تړون دی، او د تړون صحت دپاره ځینې ارکانو ته اړتیا لیدل کیږي، چې ترڅو دعقد یاتړون څخه سمه موخه او هدف لاسته را شي، له همدې کبله په فقه او قانون کې دتضامني شرکت لپاره ارکان وضعه شوي دي، چې ځینې ارکان عام ارکان دي، چې ټول عقدونه یې د تضامني شرکت په شمول سره ترسیوري لاندې راځي، او دغه رنګه ارکان د عمومي ارکانو په نامه یادیږي، اوځینې ارکان په ځانګړي ډول یوه عقد اوتړون ته شامل وي، چې دا بیا د خصوصي ارکانو په نامه یادیږي، او ځینې داسې ارکان دي، چې قانون د عقد اود شرکت د ظاهري څېرې او خارجي بڼې لپاره وضعه کړي دي، چې د شکلي ارکانو په نامه نومول شوي دي، اوپه دې مطلب کې یواځې دتضامني شرکت عمومي ارکان ترڅېړنې لاندې نیول کیږي.

**الف: د تضامني شرکت عمومي ارکان په اسلامي فقه کې:**

زمونږ موخه او هدف دعمومي ارکانو څخه هغه ارکان دي، چې د ټولو عقدونو او تړونو نوته شاملیږي، بیا د دغه عقدونو له ډلې څخه په ځانګړې ډول د تضامني شرکت عقد او تړون ته شامل وي، چې داسلامي فقهي په رڼاکې دتضامني شرکت عمومي ارکانو ته په لاندې ډول کتنه کیږي:

پدې هکله څرګند حقیقت دا دی، چې ټول فقهاء پدې باندې اتفاق دنظر لري چې شرکت به هغه وخت کې منځ ته راځي، چې هلته عاقدان، صیغه او محل دعقد موجود وي.[1]

مګردفقهاو ترمنځ د نظر اختلاف پدې ځای کې دی، چې درې واړه یې د عقد رکنونه دي اوکه ځینې یې دعقد رکنونه دي او ځینې یې دعقد لوازم دي، چې په لاندې ټکو کې یې وضاحت کیږي:

د حنفي فقهاؤ نظر:

حنفي فقهاء په دې نظر دي، چې عقد یواځې یو رکن لري، چې صیغه ده، او صیغه له ایجاب او قبول څخه عبارت دی، پاتې شو عاقدین او معقودعلیه (محل د عقد) دوی وایي:

چې دا د عقد دلوازمو څخه شمېرل کیږي، او دعقد رکن یې نشو بللی.[2]

د جمهور فقهاؤ نظر:

---

[1]- البابرتي، محمدبن محمد بن محمود اکمل الدین بن شیخ شمس الدین، العنایة شرح الهدایة، د ټوک ګڼه: ۸ ، دپاڼې ګڼه: ۲۴۶، http://www.al-islam.com.الخرشي، ابوعبدالله محمدبن عبدالله، شرح مختصرخلیل، دټوک ګڼه: ۱۷ ، دپاڼې ګڼه: ۳۹۲ ، النووي، ابوذکریامحی الدین یحی بن شرف، المجموع شرح المهذب، دټوک ګڼه:۹، دپاڼې ګڼه: ۱۴۹.هیئة کبارالعلماءالاسلام، الموسوعة الفقهیة الکویتیة، دټوک ګڼه: ۳۰، دپاڼې ګڼه ۲۰۰.

[2]- البابرتي، محمدبن محمدبن محمود اکمل الدین بن شیخ شمس الدین، العنایة شرح الهدایة، دټوک ګڼه: ۸، دپاڼې ګڼه: ۲۴۶.

جمهور فقهاء يعني مالكيان شافعيان او حنبليان په دې نظر باندې دي، چې د عقد لپاره درې رکنونه دي، چې عبارت د عاقدانو صيغه او محل د عقد څخه دي.[١]

د عقد د درېګونو رکنو وضاحت:

١- عاقدان:

د تړون دواړه جانبه (پلورونکی او پېرودونکی)، او په عاقدانوکې داشرط دی، چې بالغ، د اختيار خاوند، بينا (ليدونکی) او غيرمحجور وي (پخپل مال کې دتصرف څخه منعه شوی نه وي).[٢]

٢- صيغه:

هغه الفاظ چې تړون ورباندې سرته رسيږي، چې عبارت د ايجاب اوقبول څخه دی، او په صيغه کې شرط دادی، چې د ماضي (تېرمهال) يا دحال (اوس مهال) په الفاظوسره وي.[٣]

٣- محل:

هغه څيز چې تړون اوعقد ورباندې سرته رسيږي، او دعقد په اختلاف او بدلون سره په محل کې هم اختلاف منځته راځي او محل عبارت د معقود عليه څخه دی.[٤]

غوره رأی اونظر:

حنفي فقها وايي چې دعقد دپاره يو رکن دی، چې عبارت دصيغې څخه دی، او مالکي، شافعي او حنبلي فقهاء وايي، چې عقد درې رکنونه لري، چې د صيغې، عاقدان او محل دعقد څخه عبارت دي، مصطفی الزرقاء پدې ځای کې ارزښتمنه وينا کړې ده، چې دفقهاؤ او اصوليونو په اصطلاح کې رکن دې ته وايې چې د يوه شي قوام او وجود يې په هغه باندې ولاړ وي په داسې بڼه چې رکن دهغه څيز دحقيقت د داخلي اجزاو څخه شېمرل کيږي، نو دلته د داخلي اجزاو دعقد څخه ايجاب اوقبول دی، محل اوعاقدين دعقد د حقيقت د داخلي اجزاو څخه نه دی، اګر که هيڅ فعل بدون له فاعل څخه نوی، نو دا جوته شوه چې غوره نظر د حنفي فقهاو دی.[٥]

---

[١]- الخرشي، ابوعبدالله محمدبن عبدالله، شرح مختصرالخليل، دټوک ګڼه: ١٧، دپاڼې ګڼه: ٣٩٢.النووي، ابوذکريامحی الدين يحی بن شرف، المجموع شرح المهذب، دټوک ګڼه: ٩، دپاڼې ګڼه: ١۴٩.

[٢]- شيخي زاده، عبدالرحمن بن محمدبن سليمان مجمع الانهرفی شرح ملتقی الابحر، دټوک ګڼه: ۵، دپاڼې ګڼه: ٩٣.

[٣]- الکا ساني، علاءالدين ابوبکرمسعود بن احمد، بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع، دټوک ګڼه: ١١، دپاڼې ګڼه: ۴٨، دويم چاپ، د چاپ کال: ١۴٠۶ هـ ق١٩٨۶م ، د چاپ ځاي: دارالکتب العلمية. شيخي زاده، عبدالرحمن بن محمدبن سليمان، مجمع الانهرفی شرح ملتقی الابحر، دټوک ګڼه: ۵، دپاڼې ګڼه: ٩۴.

[٤]- شيخي زاده، عبدالرحمن بن محمد بن سليمان، مجمع الانهرفی شرح ملتفی الابحر، دټوک ګڼه: ۵، دپاڼې ګڼه: ٩۴.

[٥] -الزرقاء، مصطفی احمد، المدخل الفقهی العام، دټوک ګڼه: ١، دپاڼې ګڼه: ٣٨٩-٣٩٠، لومړی چاپ، دچاپ کال: ١۴١٨هـ ١٩٩٨م، دچاپ ځای: دارالقلم دمشق.

**ب: د تضامني شرکت عمومي ارکان په قانون کې:**

تضامني شرکت د نورو عقودو په څېر يو عقد او تړون دی، دتضامني شرکت عمومي رکنونه هماغه د عقودو عمومي رکنونه دي، چې عمومي رکنونه په هر عقد او تړون کې عبارت دي له رضاء، موضوع او سبب دعقد څخه، چې په لاندی توګه يې درېواړه در پېژونو:

لومړی - رضاء د شرکت په عقد کې:

د تضامني شرکت عمومي ارکانو څخه لومړی رکن د جانبينو رضاء ده، او دا رکن ډېر اهم رکن دی چې د عقد صحت ور پورې تړلی دی.

مدني قانون رضاء د عقد د صحت لپاره شرط کرځولی دی:

دعقد د صحت شرط عبارت دی، دعقد کوونکو د رضايت څخه بې له زور او جبر څخه.[1]

او د شرکت په عقد کې د شريک رضاء بايد هر اړخيز او کامل رضايت وي، يعنی د هر ډول تدليس، غلطی، اکراه او جبر او سوء استفادې څخه خالي وي.

درضاء عيوب عبارت د هماغه قواعدو څخه دی، چې د قرار داد په عمومي قواعدو کې يا دشوې وي.

د اشخاصو په شرکتونو کې، غلطي د شريکانو په شخصيت کې ستره تېروتنه بلل کېږي، چې کولی شي د شرکت عقد له بطلان سره مخامخ کړي، ځکه د شرکت عقد دهغو عقودو له ډلې څخه دی، چې د شريکانو شخصيت پکې ډېر مهم دی، او اشخاص د شريکانو د شخصيت پربنياد شرکت ته ور داخليږي.

د قرار داد د صحت د پاره يوازې د شريکانو رضايت کفايت نه کوي، بلکې دغه رضايت بايد د داسې اشخاصو لخوا صادر شي چې د اهليت څښتنان وي، داهليت څخه مو مقصد پدې ځای کې هماغه کامل اهليت د حقوقي تصرفاتو لپاره دی، چې مدني قانون (۳۹) ماده کې کامل اهليت (۱۸) کلنی ته رسيدل ښودلي دي، مګر د مدني قانون په (۲۷۷) ماده کې هغه صغير ته چې (۱۶) کلنی ته رسيدلی وي، د تجارت کولو اجازه ورکړې ده، چې په نوموړې ماده کې داسې لولو:

(۱) که صغير د شپاړس کلنی عمرته رسيدلی وي، ولي کولای شي چې د تجارت د پاره څه پيسې ورکړي، خو په دي شرط چې د صلاحيت لرونکي محکمې څخه يې اجازه اخيستې وي.

(۲) د تجارت اجازه مطلقه وي که مقيده د ولي په مرګ يا عزل د منځه نه ځي.

د دی مادې نه وروسته په (۲۷۸) مادې د همدغي قانون کې داسې لولو:

[1]- د افغانستان د مدنی قانون (۵۰۵) ماده

د مأذون صغير تصرفونه په هغه حدودو کې چې صلاحيت لرونکي محکمې ورته په خپل مال کې اجازه ورکړي د هغه شخص په څير دی، چې د رشد عمر ته رسيدلی وي.

له دغه دوه مادو څخه کيدلای شي داسې اخذ وکړو، چې صغير شخص چې دکامل اهليت خاوند نه دی، د ولي او دمحکمې په اجازې سره کولای شي تجارت وکړي، اودهغه تصرف به بيا د هوښيار شخص د تصرف وي.

اوهغه اجازه چې صغير يې د تجارت د پاره لاسته راوړي، نشي کولای چې په همدې اجازې سره په عام تضامني شرکت يا خاص تضامني شرکت کې متضامن شريک جوړ شي، ځکه په دغه شرکت کې خاص او صريح اجازې ته اړتيا ده، او په پاتې نورو شرکتو کې چې د متضامن شريک غوښتنه نه کوي، کولای شي نوموړی صغير هغو شرکتو کې ګډون وکړي.[1]

د اسلامي فقهې علماو او دقوانيو پوهانو په دې سره متفق دي، چې رضاء د عقد اساس دی، مګر د ځينو عيبونو په ښکاره کېدو سره په رضايت کې رضاء له بطلان او فساد سره مخامخ کوي، پکار ده چې رضاء د دغوعيبو څخه پاک او خالی وي لکه غلطی، دوکه کول او زور.[2]

په عقد کې د رضاء عيبونه:

په عقد يا تړون کې د رضايت دعيبونو په هکله د مدني قانون د ځينو مادو د متن په ليکو باندی بسنه کوو، ځکه چې هدف ورڅخه تر لاسه کېږي، او وضاحت ته يی اړتيا نه ليدل کېږي.

د رضاء لومړی عيب:

زور: - زور عبارت دی، د يو شخص د مجبورولو څخه په ناحقه د داسې کار په کولو چې و رباندې راضي نوي، عام له دې چې زور مادي وي يا معنوي.

زور په دوه ډوله دی:

۱- پوره زور.

۲- ناقص زور.

۱- پوره زور: پوره زور عبارت دی د فاحش بدني يا مالي خطر د تهديدولو څخه.

۲- ناقص زور: په غير فاحش خطر باندې تهديدولوته ناقص زور ويل کېږي.

پوره زور رضا له منځه وړي او اختيار فاسده وي، ناقص زور رضاء د مينځه وړي خواختيار نه فاسده وی، که د عقد په تړون کې د زور د يوه ډول واقع کېدل ثابت شي

---

[1]- العرينی، محمد فريد، محمد السير، الشرکات التجاريه، دپانی ګنه: ۲۳-۲۴ لومری چاپ کال: ۳۵۰۰ م د چاپ ځای: منشورات الحلبی الحقوقی.

[2]السرخسی، محمد بن ابی سهيل، المبسوط، د توک ګنه: ۴ پانی ګنه: ۹۵.المغربي، محمد بن محمد بن عبدالرحمن، مواهب الجليل فی شرح مختصر الشيخ خليل، توک ګنه: ۸ د پانی ګنه:۱۲.النووی، محمد الدين يحيی بن شرف، المجموع شرح المهذب، دټوک ګڼه: ۹، دپاڼې ګڼه: ۱۵۸.ابن قدامة، ابی محمد عبدالله بن احمد بن محمد، المغنی لابن قدامة، دټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼې ګڼه: ۲۲۹.

نو عقد صحيح نه دی.[1]

د رضاء دويم عيب:

غلطي: ـ که د عقد په موضوع کې غلطي شوې وي او څه شی چې عقد پرې شوی وي مسمی يا اشاره ورته شوې وي د راتلونکو حکمونه مراعات کيږي.

۱- جنس د اختلاف په صورت کې عقد د مسمی پورې تعلق نيسي او د مسمی د نيشتوالي په صورت کې عقد باطل گڼل کيږي.

۲- د جنس د يووالي او د صفت د اختلاف په صورت کې عقد د هغه شي پورې تعلق نيسي چې اشاره ورته شوې وي، او د اشاره کړل شوي شي د وجود په صورت کې عقد منعقد کيږی.

پدې حالت کې عقد کوونکی د صفت د نشتوالي له امله د عقد د فسخ کولو او ترون تر منځ اختيار لري.

که څوک په اساسي غلطي کې واقع شوی وي، په دې شرط کولای شي چې د عقد د فسخ کېدو غوښتنه وکړي، چې مقابل خوايي هم په عين غلطي کې واقع شوی وي يا د غلطي څخه خبروي يا داچې په آسانتيا سره يې کولای شو په هغې خبر شي.

که غلطي په دو مره اندازې فاحشه وي، چې عقد کوونکی په هغې د خبرېدو په صورت کې د عقد د ترون څخه ځان ژغوره نو دا رنگه غلطي اساسي گڼل کيږي.

په قانون کې د غلطي په سبب هغه وخت عقد فسخ گڼل کيږي، چې دغلطي شرطونه د عقد پورې په مربوطه واقعو کې متحقق شي، مگر دا چې قانون د هغې په خلاف تصريح کړې وي، حسابي يا مادي غلطي د عقد په صحت اغېزنه لري او تصحيح کول يې هرومرو دي.[2]

د رضاء دريم عيب:

دوکه کول اوغبن: - دوکه کول د داسې حيله ناکو قولي يا فعلي وسيلو په کار اچول دي، چې د عقد مقابل خوا دعقد راضي کېدو ته مجبور کړي، په داسې توگه که دا وسيلې په کار نه وای اچول شوی، نو دهغه رضايت په عقد کې منځ ته نه را ته، که دعقد د يوې خوا د دوکه کولو له امله بلې خوا ته فاحش غبن متوجه شي، دوکه شوی کولای شي چې د عقد د فسخ کېدو غوښتنه وکې ، غبن ته هغه وخت فاحش ويل کيږي، چې د عقد په وخت کې د مال د حقيقي قيمت او د هغه قيمت ترمنځ چې مال پرې خرڅ شوی پنځلس په سلو کې يا تر هغې څخه زيات توپير ولري.

فاحش غبن د عقد د فسخ کېدو موجب گرځي که هغه څوک چې د هغه په باره کې غبن صورت موندلی وي، د عقد په وخت کې په غبن خبروي او په هغې راضي شوی وي نه شي کولای چې عقد

---

[1]- د افغانستان د مدنی قانون (۵۵۸، ۵۵۴، ۵۵۳، ۵۵۲، ۵۵۱) مادې.

[2]- پورتنی اخيستځای (۵۶۷، ۵۶۶، ۵۶۴، ۵۶۳، ۵۶۲) مادې.

فسخ کې مګر په هغه صورت کې چې رضایت یې د دروغجن معلوماتو یا دحقیقت د پټېدو او یا د مقابلې خوا دوکه کېدو ته راجع وي.[١]

**ج: د رضاء عیبونه داسلامي شریعت له آنده:**

د انسانانو مالونه یوبل ته روا کېدل په اتفاق د فقهاو سره تر رضایت د جانبینو پورې تړلی دی.[٢]

څکه چې الله (جل جلاله) فرمایي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ }[٣]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په خپلو منځو کې خپل مالونه په ناحقه سره مه خورئ. مګر (هله یې خورئ) چې (ستاسو معامله) داسې تجارت وي چې ستاسو (د دواړو جانبو) د رضایت په بنیاد یې صورت نیولی وي.

آیا رضاء د عقد د پاره شرط دی:

اختلاف د فقهاو تر منځ پدې کې دی چې رضاء د عقد د پاره شرط دی او که نه ؟

جمهور فقهاء وایي:

جمهور فقهاء پدې نظر دي چې اساسي شرط د هرعقد د پاره رضاء ده، او د رضاء په نشتون کې دعقد تړون صحیح نه دی، برابره ده چې مالي عقد وي او که غیر مالي.[٤]

حنفي فقهاء وایي:

حنفي فقهاء په دې نظر دي، چې رضاء شرط دهغو عقودو لپاره دی، چې فسخ په کې صورت نیسي لکه: مالي عقدونه، اوپه غیر مالي عقدونوکې چې فسخ نه قبله وي لکه: نکاح او طلاق او داسې نور، پدې کې رضاء دصحت شرط نه جوړېږي.[٥]

کله چې په عقد کې د رضاء د عیبو څخه کوم عیب را پیدا شي، نو په ځینو حالاتو کې عقد بیا فاسدېږي او یا باطلېږي، او کله بیا په ځینې حالاتو کې د عقد تړون په یوه د دواړو جانبینو باندې غیر لازمي وي، لکه د زور او اکراه په حالت کې د عقد تړون فاسد یا باطل وي، او د تدلیس یا غلطي په

---

[١]- د افغانستان د مدني قانون (٥٧٥، ٥٧١، ٥٧٠) مادې.

[٢]-السرخسی،محمد بن ابی سهیل، المبسوط،د توک ګڼه:۴،پانی ګڼه:۹۵.المغربي، محمد بن محمد بن عبدالرحمن، مواهب الجلیل فی شرح مختصر الشیخ خلیل، توک ګڼه: ۸ د پانی ګڼه:۱۲.النووی،محمد الدین یحیی بن شرف،المجموع شرح المهذب،دټوک ګڼه: ۹، دپاڼې ګڼه:۱۵۸. ابن قدامة، ابی محمد عبدالله بن احمد بن محمد، المغنی الابن قدامة، دټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼې ګڼه: ۲۲۹.

[٣]- د النساء د سورت (۲۹) آیت.

[٤]-السرخسی،محمد بن احمد بن ابی سهیل،المبسوط،د ټوک ګڼه:۴،د پاڼې ګڼه:۹۵.المغربي،ابی عبدالله محمد بن محمد بن عبدالرحمن، مواهب الجلیل في شرح مختصر الشیخ خلیل،د ټوک ګڼه:۸،د پاڼې ګڼه:۱۲.النووي،محی الدین یحي بن شرف،المجموع شرح المهذب، دټوک ګڼه:۹، دپاڼې ګڼه: ۱۵۹.ابن قدامة،ابي محمد عبدالله بن احمد بن محمد، المعني لابن قدامة، دټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼې ګڼه: (۲۳۴-۲۲۹).

[٥]-المرغیناني،أبي الحسن علي بن أبي بکر بن عبد الجلیل الرشداني،الهدایة شرح بدایة المبتدي،دټوک ګڼه:۷، د پاڼې ګڼه: ۲۹۳،دچاپ ځای:المکتبة الإسلامیة-السرخسي،محمد بن احمد بن ابی سهیل، المبسوط، ټوک ګڼه:۸،د پاڼې ګڼه: ۸۸.

حالت کې د عقد تړون لازمي نه وي، جانبين د اختيار خاوندان وي د عقد په ساتلو او یاهم فسخ کولو کې.[1]

د معاصرو علماو څخه الخياط د رضاء دعيبونو په هکله داسې بيان کوي:

که چېرې عقد مخامخ شی د یوه عیب د عیبونو د رضاء سره، په اسلامي شریعت کې نوموړی عقد په هغه سره نه باطلیږي، بلکې عقد صحيح او سم دی، او قانوني اثار وربانديې مرتبيږي، خو د بطلان قابل او یا موقوف تر د بطلان قابليت لپاره وي، ځکه چې د اهليت نقصان او در رضا په عيبجن کېدو باندې په عقد باندې هيڅ اثر نه پريوځي، او شرکت چې کوم عقدونه تر سره کړي په هغو باندې وفا کول وربانديې لازمي دي.[2]

په و ضعي قوانينو کې بيا داسې نه ده، کله چې د عقد تړون د یوه عیب د عیبونو د رضاء سره مخامخ شي په وضعي قانون کې هغه عقد باطل شمېرل کېږي، د سپېڅلي اسلامي شريعت نظر د شرکت د عقد په تړاو ډېر دقيق دی، چې د خلکو د مصلحتو ته په کتوسره او د معاملاتو د تنظيم لپاره ډېر ګټور دی.

دويم:- دعقد موضوع په شرکت کی:

د تضامني شرکت عمومي ارکانو څخه دويم رکن دعقد موضوع ده، د شرکت دعقد په موضوع کې د قرار داد عمومي قواعد تطبيقيږي، د عقد څخه د هر نوع پيدا شوي التزام د پاره د هغې دموضوع وجود چې د عقد نسبت ورته شوی او د عقد د حکم قابليت ولري ضوروري دي، د عقد موضوع عين، پور، ګټه يا نور مالي حقوق تشکيلولی شي، همدارنګه د يوه کار اجراء کول ياد هغی څخه د ځان ژغورل د عقد موضوع کېدای شي، د عقد څخه د پيدا شوی التزام موضوع بايد چې ممکنه ټاکلي ياد ټاکلو وړ او جائز وي، د هغې څخه بغير عقد باطل ګڼل کېږي ، که د التزام موضوع د ذات له کبله نا‌ممکنه وي، عقد باطل ګڼل کېږي، که د التزام موضوع د ذات له کبله ناممکنه نه وي او يوازې د پورورکوونکی شخص په هکله ناممکنه وګڼل شي عقد صحيح دی، خو پورورکوونکی د التزام د نه ادا کولو له امله د خسارې په جبيره کولو مکلف دی، او د التزام موضوع بايد چې په داسې ډول ټاکلې او معلومه وي، چې د فاحش جهالت مانع وګرځي که دالتزام د موضوع جهالت جګړې ته منجر شي عقد فاسد ګڼل کېږي.[3]

د مدني قانون مادوته په کتو سره دعقد موضوع پکار ده چې موجود ممکن الحصول، د ټاکلو وړ وي، په عين حال کې دعقد موضوع بايد مشروع وي، اوغير مشروع يا غير قانوني بايد نوي ، په

[1]- السرخسي، محمد بن احمد بن ابی سهيل، المبسوط، د ټوک ګڼه: ۴، د پاڼې ګڼه: ۹۵.المغربي، ابي عبدالله محمد بن محمد بن عبدالرحمن، مواهب الجليل في شرح مختصر الشيخ خليل، د ټوک ګڼه: ۸، د پاڼې ګڼه: ۱۲.

[2]-الخياط،عبدالعزيز عزت، الشرکات فی الشريعة الاسلامية والقانون الوضعي، دټوک ګڼه:۲، د پاڼې ګڼه:۳۱۷.

[3]- دافغانستان د مدنی قانون (۵۸۲، ۵۸۱، ۵۸۰، ۵۷۹) مادې.

همدې بنیاد که چېرې یو کس شرکت جوړ وي د شرابو، چرسو او اسلحو د پېرلو او پېردلو لپاره دغه شرکت باطل دی ، ځکه چې دعقد موضوع غیر مشروع او غیر قانوني دی، او د شرکت باطل والی دعقد موضوع په غیر مشروع کېدو باندې مطلق بطلان دی، یعنې هرهغه څوک چې په ګټه او تاوان باندې پوهېږي کولای شي چې د دغه شرکت د بطلان غوښتنه د محکمی څخه وکړي.

دریم: - د عقد سبب په شرکت کی:

د تضامني شرکت عمومي ارکانو څخه دریم رکن د عقد سبب دی، او دعقد سبب د عقد اصلي مقصد څخه عبارت دی، چې عقد هغې ته د رسېدو دپاره یوه مشروعه وسیله شوې وي، که د التزام سبب د نظام او عمومي آدابو مخالف وي یا اصلا وجود ونلري باطل ګڼل کېږي، مګر دا چې د هغې په نفی دلیل موجود شي کوم سبب چې په عقد کې تصریح شوې وي حقیقي سبب ګڼل کېږي، مګر دا چې د هغه خلاف ثابت شي.[1]

[1]- د افغانستان د مدنی قانون (۵۹۴، ۵۹۳، ۵۹۲، ۵۹۱) مادې.

## دويم مطلب: د تضامني شركت خصوصي اركان:

دتضامني شركت عمومي ركنونه چې د شركت په عقد كې شتون لازمي دی، د دې تر څنګ همدغه رنګه د تضامني شركت خصوصي ركنونه هم اړين دي، چې د شركت په عقد كې شتون ولري، ترڅو چې د تضامني شركت د نورو عقدونو څخه جلا او وپېژندل شي، د تضامنی شركت خصوصي ركنونه په لاندې ډول دي:

**الف: د شركت شريكان:**

دتضامني شركت په لومړي خصوصي ركن كې چې د شركت شريكان دي، په دغوڅېزو بحث كيږي: د شريكانو شمېر، د شريكانو سودا ګر جوړېدل، د شريكانو تضامني مسؤليت او د برخې نه انتقال، چې په لاندې تو ګه يي در پېژندل كيږي:

لومړی: د شريكانو شمېر:

عام تضامني شركت لږ تر لږه د دوو شريكانو څخه منځ ته راځي، د تضامني شركتونو قانون د شريكانو د شمېر په هكله وايي: عام تضامني شركت هغه شركت دی، چې په تضامني مسؤليت سره د دوو يا له دوو څخه د زياتو اشخاصو تر منځ د اقتصادي او سودا ګرېزو معاملو د سرته رسولو لپاره جوړيږي.[١]

آن تر دې چې عام تضامني شركت كولای شي چې د څو شركتونو د يو ځای كېدو څخه جوړ شي، لكه چې د تضامني شركتو قانون وايی: (......د شريكانو د هر يوه نوم، شهرت، آدرس او كه بل كوم شركت د شريک په توګه په شركت كې داخل شوی وي د نوموړی شركت عنوان.......). [٢]

د افغانستان د تضامني شركتونو قانون د شريكانو د شمېر د پاره اكثره حد ندې ټاكلی، مګر د ځينو هيوادو نو په قانون كې د شريكانو د شمېر لپاره آخري حد او اندازه ټاكلې ده، د بېلګې په ډول د اردن د شركتو په قانون كې راغلي، چې د تضامني شركت د شريكانو شمېر بايد له شلو كسانو څخه ډيرنه وي.[٣]

د عراق د شركتو قانون كې ليكلي دي: چې د تضامني شركت د شريكانو شمېر آخري حد لس كسان دي.[٤]

---

[١]- د افغانستان د تضامني شركتونوقانون ٢١ ماده.
[٢]- د پورتنی اخيستځای د (٢٥) مادی دويمه فقره.
[٣]- د اردن د شركتو قانون (٢٢) شميره، د ١٩٩٧ كال
[٤]- دعراق د شركتو قانون (۶) ماده (٣) فقره (٣۶) شمېره، ١٩٨٣لمريز كال.

دویم: سوداګر جوړېدل د شریکانو:

د ډېرى هیوادونـو پـه قوانینـو کـې د تضـامني شـرکت شـریکانو تـه د سـوداګر سـتاینوم یـا صـفت ورکوي، دبېلګې په ډول د کویت د شرکتونو قانون، د اماراتو د شریکانو قانون، د سوریې د شرکتونو قانون، د اردن د شرکتو قانون او دعمان د شرکتونو قانون[1]، پـه دې ټولو پورتنیو قوانینوکې هر یو شریک د تضامني شرکت باید د سوداګر صفت در لودونکی وي، کله چې د تضامني شرکت شریکان د سوداګر صفت ځانته کوي په کار ده، چې د سودا ګري اهلیت ولري، ځکه چې ځینې هیوادونو متضامن شریک یې مکلف ګر ځولی د سودا ګری د دفتر په شتون باندې، لکه د کویت د تجارت قانون کې راغلي چې د تضامني شرکت شریکان د سوداګری د دفتر په در لودلو باندې مکلف دي.[2]

دریم: د شریکانو تضامني مسؤلیت:

د تضامني په شرکت کې د شریک مسؤلیت بر سیره پردې چې شخصـي دی، تضـامني هم دی، یعنې هر شریک د شرکت د ټولو پورونو د اداء کولو مسؤل دی، دغه مسؤلیت قرار دادي حیثیت نه بلکه قانوني حیثیت لري، یعنې قانون د دغه رنګه شرکت په شریکانو باندې تحمیل کړی دی، کله چې د شریکانو تر منځ د دغه حکم پرخلاف موافقه شوی وي، د دوی دغه موافقه د دریم شخص پر وړاندې (کان لم یکن) یعني ملغا دی، یعنې دغه موافقه د تضامنی شرکت د عقد د مقتضا پر خلاف ده، د تضامني شرکتونو په قانون کې په دې اړه داسې  راغلي:

که چېرې د شرکت مالونـه د هغې دیون پوره نکړي، لـه شریکانو څخـه هر یو مکلف دی، چې دشرکت په پانګه کې له خپلې ونډې سره متناسب د شرکت د دین یا زیـان یوه برخـه لـه خپل شخصـي مال څخه ورکړي، خو دا چې په دې هکله بل ډول موافقه شوې وي، د ثالث شخص په هکله د شرکت له دیونو څخه د هغو د نه مسؤلیت په اړه د شریکانو موافقه اعتبار نلري.[3]

څلورم: دشریکانو د برخی نه لېږد:

عام تضامني شرکت د شریکانو د شخصـي اعتبـار پـه اسـاس جوړېږي، او د شریکانو مسؤلیت هم تضامني دی، چې شریکان یو له بل سره نورهم نژدې کوي، په همدی دلیل باندې د شریکانو برخـې د انتقال وړندي، مګر دټولو شریکانو په خوښه اورضایت باندې، څرنګه چې د تضامني شرکتونو قانون داسې بیـان کـوي: لـه شریکانو څخـه هیڅ یو نشـي کـولای د نورو شریکانو درأیو د اتفاق لـه لاسته راوړلو پرته خپله ونډه له شرکت څخه بهر شخص ته لرلږ یا ټول ولېږدوي، د خلاف پـه صـورت کـې

[1]- د کویت د شرکتونو قانون (۱۱) ماده. د اماراتو د شریکانو قانون (۲۷) ماده. د سوریې د شرکتونو قانون (۲۹) ماده. د اردن د شرکتو قانون (۹) ماده. دعمان د شرکتونو قانون (۳) ماده.
[2]- د کویت د تجارت قانون (۲۶) ماده
[3]- دافغانستان د تضامني شرکتونو د قانون (۴۷) ماده اوله فقره.

له دې عمل څخه شریکانو یا ثالث شخص ته زیان رسېدلی وي له هغه څخه را پیدا شوي زیانونه یوازې دونډې د لیږدونکي په غاړه دي، خودا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوې وي.[1]

او په مړینې د یو شریک سره هم شرکت له منځه ځي، مګر دا چې پاتې شریکان د شرکت په دوام باندې رضایت څرګند کړي، او د متوفی وارثان موافقه ونکړي، د وارثانو ونډه د شرکت د مال څخه د ورځې نیز قیمت په تناسب د حادثې یا د پېښې نه محاسبه کېږي، او د وارثانو دونډې د اخستلو څخه وروسته شرکت له پاتې شریکانو سره خپل ژوند ته ادامه ور کوي.

پدې هکله د تضامنی شرکتونو قانون داسې بیان کوي:

له شریکانو څخه دیوه مړینه یا د محکمی په حکم پر هغه باندې د حجر واقع کېدل، یایې د افلاس ثبتیدل، شرکت منحل کېږي.[2]

شریکان کولای شي د شرکت په عقد کې موافقه وکړي، چې شرکت له شریکانو څخه د یوه له مړینې وروسته منحل نشي، او دمیت له ورثې سره د شریکانو په توګه دوام ومومي، که چېرې شریکان د متوفی له وارث سره په شرکت کې د فعالیت له دوام سره موافقه ونکړي، پدې صورت کې شریک له مال څخه له خپلې ونډې پرته چې د پېښې د رامنځته کېدو د ورځې د بیې په تناسب سنجول کېږي بل حق نلری، پورته یا ده شوې برخه نغداً هغوی ته ورکول کېږي، خود هغه څه په اندازه چې دهغه د وتلو له پېښې دمخه د شرکت د اجراأا تو په پایله کې وي، اوله نورو حقوقو څخه چې وروسته منځته راځي نه برخمن کېږی.[3]

**ب: د شریک پانګه او د شریکانو په ګټه او زیان کې شریکېدل:**

۱- د شریک پانګه:

د تضامني شرکت د خصوصي رکنونو څخه دویم رکن د شریک پانګه ده، د تضامني شرکت په پانګونه کې دا ضروري نده چې هرومرو دې نغدي مال وي، بلکه کېدای شي د شرکت پانګه نغدي او غیر نغدي مالو څخه جوړه شي، چې پدې هکله د تضامني شرکتونو قانون داسې بیان کوي:

په تضامني شرکتونو کې د پانګې ونډه په لاندې ډولونو ورکول کېدای شي:

۱- مادي منقول مالونه (نغدې پیسې، شیان او څاروي).

۲- غیر مادي منقول مالونه (د امتیازحق، د اختراع حق، سودا ګریزې او صنعتي نښې، اعتبار او سوداګریز نیک شهرت).

۳- غیر منقول مالونه (د عقاري ملکیت په شمول).

---

[1]- دافغانستان د تضامني شرکتونو د قانون (۷۱) ماده.
[2]- پورتنی اخیستځای د (۵۰) مادی (۴) فقره.
[3]- پورتنی اخیستځای (۵۱) ماده.

۴- له منقولو او غير منقولو مالونو څخه د استفادې د حق ګټې او امتياز.
۵- توليدي محصولات او پروسسس.
۶- سودا ګريز اعتبار او ښه شهرت.
۷- هغه خدمتونه چې په تضامني شرکت سرته رسېدلي يا رسيږي.[۱]

د دې مادې څخه داسې جوتيږي چې په تضامني شرکت کې د شريک ونده کېداشي چې نغدي پيسې او يا ونده يې ټاکلې عين يعنې (هغه مال چې نغدي) نوي، او دغه ټاکلې عين يا عقاري او غير منقول وي لکه زمکې، کورونه او داسې نور، او يا اموال منقوله وي لکه آلات او موټرونه او داسې نور، او يا کيداشي دغه ونده د صنعت مالکيت وي، او يا په شرکت کې خدمت او فعاليت وي، يا دګټې حق يا دې بل پرغاړه دين، يا د اختراع حق وي، لنده دا چې هر هغه څېز چې موضوع دعقد جوړيداى شي، دونډې په توګه شرکت ته وړاندې کړل شي.

۲ - ټول شريکان په ګټه او زيان د شرکت کې شريکېدل:

دريم رکن د تضامني شرکت د خصوصي رکنو څخه دادى، چې شريک بايد د شرکت په ګټه او خسارې کې سره ګډ وي، اګر که په قرار داد کې ور څخه يا ده ونه نوي شوې، لکه چې د تضامني شرکتونو قانون داسې بيان کوي:

که چېرې د ګټې او ضرر د وېشلو ډول د شراکت په قرار داد کې تصريح شوې نه وي، د هر شريک ګټه او ضرر د پانګې د برخې په تناسب چې شرکت ته يې ورکړې، وېشل کيږى.[۲]

که چېرته په قرار داد کې د ګټې د وېشلو يادونه شوې وي، مګر د زيان او تاوان دوېش څه نوي ذکر شوي، نو دشرکت زيان او خساره به دګټې په شان د شريکانو ترمنځ وېشل کيږي، لکه تضامني شرکتونو قانون داسې تصريح کوي:

که چېرې د شراکت په عقد کې يوازې د ګټې وېشل تصريح او د ضرر دوېشلو ډول اټکل شوى نه وي ضرر دګټې په ډول وېشل کيږي، او په هغه صورت کې چې د ضرر وېشل تصريح او د ګټې د وېشلو ډول اټکل شوى نه وي ګټه هم د ضرر په ډول وېشل کيږي.[۳]

---

[۱]- دافغانستان د تضامني شرکتونو دقانون (۷) ماده.
[۲]- پورتنى اخيستځاى (۱۵) ماده.
[۳]- پورتنى اخيستځاى (۱۶) ماده.

**ج:د شرکت نوم او موضوع:**

۱- د شرکت نوم:

د تضامني شرکت څلورم خصوصي رکن دشرکت نوم تاکل دي، د تضامني شرکت د نوم یا عنوان په اړه د تجارت اصول نامې داسې لارښونه کړې ده:

تضامني شرکت عنوان عبارت دی د ټولو شریکانو له نومونو، یا لږ تر لږه دیوه شریک نوم څخه د تضامني کلمې سره......) [1]

پورتنۍ ماده کې د عام تضامني شرکت د ځانګړې خاصیت بیان کوي، چې په هغه کې ټول شریکان تر یوه واحد ګډ نوم لاندې یو ځای کېږي، البته د ټولو شریکانو نومونه لیکل په ځانګړي ډول په هغه صورت ګې چې د شریکان شمېر زیات وي ناممکنه دی، پدې حالت کې تضامني شرکتونه د یوه شریک په نوم ثبتولو باندې جوړېږي، مګر د نامه څخه وروسته د (تضامني) کلمه ذکر کېږي.

د یوه شریک د مړینې په صورت کي چې نوم یې د شرکت په عنوان کې داخل وي، که وارثین د میت له شریکانو سره د شرکت په ادامې باندې موافقه وکړي، نوعنوان د شرکت بدلول لازمي ندې، که چیرې وارثین د میت په شرکت کې د شمول څخه لاس واخلي، خود تحریري موافقې په شرط بیا هم د شرکت نوم په خپل حال پاتې کېږي، او که تحریري موافقه نوې شوي شرکت په خپل عنوان پرېښودل جائز ندي، لکه چې د تجارت اصول نامه داسې بیان کوي:

د یوه شریک د مړینې په صورت کې چې نوم یې د شرکت په عنوان کې داخل وي، که وارثان یا د دوی قایم مقام شرکت ته ادامه ورکول قبول کړی، نو دعنوان تغییر لازم ندی، اوکه په شرکت کې ورثه عامل نوي، خوکه د دوی تحریري موافقه حاصله شي هم د شرکت عنوان په خپل حال پاتی کیږی، او همدا ډول که یو شریک له شرکت څخه ووزي که له هغه څخه تحریري موافقه وا نه خیستل شي، نود شریک په عنوان کې دهغه د نوم پاتې کېدل جائز ندي.[2]

په کوم صورت کې چې عنوان د تجارت بدل شي، پکار ده چې نوی عنوان ثبت کړل شي لکه چې د تجارت اصول نامه پدې هکله داسی لیکلي:

په دې صورت کې چې د تجارت عنوان تبدیل شي د (۴۱) مادی احکام تطبیقیږي.[3]

---

[1]- د افغانستان دتضامني شرکتونو قانون (۴۳) ماده.
[2]- د افغانستان د تجارت اصول نامه (۴۹) ماده.
[3]- پورتنی اخیستځای (۵۰) ماده.

۲- د شرکت موضوع:

د تضامني شرکت څلورم خصوصي رکن د شرکت د موضوع څخه عبارت ده، د شرکت د موضوع څخه مو مقصد دادی، چې شرکت باید تجارتي بڼه ولري او موضوع يې هم تجارتي وي ، او عام تضامني شرکت د موضوع او دشکل او بڼې له حيثه تجارتي شرکت شمېرل کيږي، ځکه چې تضامنی شرکت د غير تجارتی چاور لپاره نشو کارولی.

څرنګه چې د تضامني شرکتونو قانون يې بيان کوي:

عام تضامني شرکت هغه شرکت دی، چې په تضامني مسؤليت سره د دوو يا له دوو څخه د زياتو اشخاصو تر منځ د اقتصادي او سوداګريزو معاملو د سرته رسولو لپاره جوړېږي.[1]

[1]- دافغانستان د تضامني شرکتونو قانون (۲۱) ماده.

## درېيم مطلب: د تضامني شرکت شکلي ارکان په فقه او قانون کې:

د تضامني شرکت شکلي رکنونو څخه هدف هغه اجراآت دي، چې د عقد ظاهري بڼې پورې تړاو لري، او خارجي څېره د شرکت را څرګنده وي، او دغه باندېنی شکل د شرکت پر دوو اساسي رکنو باندې را څرخېږي:

١- د عقد شرکت لیکنه.

٢- د عقد شرکت ثبتول.

**الف: په اسلامي فقه کې د شرکت دعقد لیکنه:**

د تضامني شرکت شکلي رکنو څخه یو هم دشرکت دعقد لیکل دي، او دعقد توثیق او محکمولو په هکله ډېرې بېلګې په اسلامي فقه کې لیدل کېږي.

لومړی د نکاح د عقد توثیق:

لومړی بېلګه د نکاح د عقد توثیق دی، چې د ټولو فقهاو په اتفاق سره د نکاح عقد کلکول او توثیق یې واجب دی، ځکه چې د نکاح په عقد کې ګواهان او شاهدان وړاندې کول لازم او واجب دي.[1]

د جمهورو فقهاو په نزد باندې دعقد نکاح لپاره شاهدان وړاندې کول د نکاح د تړلو پروخت ضروري دي، او دمالکي فقهاو په نزد باندې د شاهدانو وړاندې کول د دخول پروخت لازمي دي ، چې په دواړو حالاتو کې هدف توثیق دی.

د دین یا پور د عقد توثیق:

دویمه بیلګه د دین یا پور د عقد توثیق دی، چې د دین یا د پور د عقد په توثیق کې دوه نظره شتون لري:

لومړی نظر: جمهور علماء د حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي فقهاو (رحمهم الله) په آند باندې د نوموړي عقد تړون کلکول او قوي کول په لیکلو باندې مستحب کار دی.

دویم نظر: د ابن جریر الطبراني، عطاء، جابر بن زید او نخعي (رحمهم الله) علماو په آند باندې د دین د عقد کلکول په لیکلو باندې واجب دی.[2]

د لومړی نظر د خاوندانو دلایل:

١- د قرآن کریم څخه: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ }.[3]

---

[1]- الشیبانی، الوزیرابوالمظفر یحیی بن محمد بن هبیرة، اختلاف أئمة العلماء، دټوک ګڼه: ٢، پاڼې ګڼه: ١٢٨.

[2]- الطبري، ابی جعفرمحمد بن جریر، جامع البیان فی تأویل آي القران، د ټوک ګڼه: ٢٥، دپاڼې ګڼه: ٢١٣، دچاپ ځای: دارالفکر

[3]- د البقرة د سورت (٢٨٢) آية.

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو په خپلو منځوکې دټاکلې شوې نیټې پورې په پور سره د نسیا کارۍ معامله کوئ نو هغه ولیکئ.

د دلالت وجه:

د امر کلمه په آیت کې چې (فاکتبوه) او (استشهدوا) دی، د پور په معامله کې لیکنه واجبه وي، مګر دلته امر د وجوب څخه ندب ته ګرځېدلی دی د قرینې په دلالت کولو باندې، چې قرینه په ندب باندې دالله (جل جلاله) دغه قول دی: {فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ}.[1]

ژباړه: نوکه ځینو په ځینو نورو باندې اعتماد وکړ (چې یایې مرهونه ورکړه او یایې د مرهونې څخه په غیر نسیا کارې وکړه) نو هغه څوک دې خپل امانت تادیه کړي چې په هغه باندې اعتماد کړی شوی دی.

په نوموړي آیت کې امر په لیکنه، ګواه نیولو او ګروي باندې دا ټول ارشادي امرونه دي په دې معنا باندې، که څوک وربانديې عمل وکړي نو دجنجال څخه به ځان خلاص کړي، او که نه نو دېراحتمال شته چې ځان ته کاروګوري.[2]

۲- د احادیثو څخه: دغه ډله استدلال کوي د پیغمبر (صلي الله علیه وسلم) په هغه کړنه باندې چې له عدّاء بن خالد سره یې کړې وه، چې روایت کوي عبدالمجید بن وهب او داسې وایي: ماته عدّاء بن خالد بن هوذة وویل: اَلا أُقرِئُکَ کتاباً کتبه لي رسول الله (صلی الله علیه و سلم) قال: قلت: بلی فاخرج لی کتابا هذا ما اشتری العداء بن خالد بن هوذة من محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم، اشتری منه عبدا او أمة، لا داء، ولا غائلة ولا خبثة، بیع المسلِمِ المسلمَ.[3]

ژباړه: آیا پرتا د پیغمبر (صلی الله علیه و سلم) یو لیک ونه لولم چې ماته یې لیکلی وو؟ ماورته وویل ولی نه ولوله نو لیک یې پرانیسته چې داسې پکې لیکلي وو: عداء بن خالد بن هوذة وپیرلو دالله له استاذي محمد (صلی الله علیه و سلم) څخه غلام یا مریی او وینځه په دې شرط چې د مریضی، دوکې کولو او بد اخلاقی صفاتوڅخه خالي وي پیرودل د مسلمان په مسلمان باندې. ددلالت وجه: پورتنی حدیث دلالت کوي په منع د دوکې کولو د مسلمانانو ترمنځ په ټولو پیرلو او پلورلو کې.[4]

د دویم نظر د خاوندانو دلایل:

---

[1]- د پورتنی اخیستځای (۲۸۳) آیة.

[2]- الجصاص، الامام أبی بکر احمد الرازي، احکام القران، دټوک ګڼه: ۲، د پاڼې ګڼه: ۲۰.

[3]- سنن الترمذي کتاب البیوع باب ما جاء فی کتابة الشروط، د ټوک ګڼه: ۲، د پاڼې ګڼه :۳۴۴ د حدیث شمیره: ۱۲۱۶، د دې حدیث له ذکر کولو څخه وروسته ابوعیسی الترمذي لیکي: هذا حدیث حسن غریب.

[4]- ابن حجر، الامام الحافظ شهاب الدین العسقلاني، فتح الباری شرح صحیح البخاری، دټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼې ګڼه: ۳۵۱.

دوی استدلال کوي د قرآنکریم پدې آیت باندې: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ}.[١]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو په خپلو منځو کې د ټاکلې شوې نیټې پورې، په پور سره د نسیان کاری معامله کوئ نو هغه ولیکئ.

د دلالت وجه:

ددغه نظر خاوندان د آیت په ظاهر باندې استدلال کوي، او داسې وایې چې (فاکتبوه) أمر دی او أمر ظاهرا په وجوب باندې دلالت کوی، او د دین د ورکولو پورتنی آیت د قرانکریم دمحکمو آیاتونوڅخه دی اود دې آیت ناسخ هم شتون نلري.[٢]

د معاصرو فقهاو نظر د شرکت د عقد توثیق په لیکنه باندی:

د شرکت د عقد محکمول په لیک باندی پدې اړه معاصرو علماء داسې وایې چې لیکنه په عقودو کې یواصل دی، لکه چې په ځینې وړاندیني شرائعو کې د عقد لیکنه په ثبوت د ځینې عقودو کې یو اساس اوبنیاد وو.[٣]

د معاصرو علماو څخه محمد تأویل[٤] د شرکت د عقد توثیق د لیکنې په هکله وایې: د شرکت عقد توثیق او محکمول په لیکنې یا شاهدانو باندې یو مستحبه چاره ده، او نوموړی عالم قیاس کوي د بیعې په عقد باندي.[٥] اواستدلال کوي د قرآن کریم پدې آیت باندې چې الله (جل جلاله) فرمایی: { وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ}. [٦]

ژباړه: او کله چې تاسو (په یوه خطر ناک شي کې لاس په لاس) سودا کوله نو شاهدان وربانديې ونیسئ.

غوره رأی او نظر:

د څېړونکې له آنده په دواړه نظرونو کې غوره نظر د شرکت د عقد توثیق په لیکنه باندې په ځانګړې ډول په نني عصر اوزمانه کې واجبېدل غوره دي دلاندې داسبابو له کبله:

---

[١]- د البقرة د سورت (٢٨٢) آیت.
[٢]- الطبري، ابی جعفر محمد بن جریر، جامع البیان فی تأویل آي القران، د ټوک ګڼه: ٢٥ د پاڼې ګڼه: ٢١٣،.
[٣]- الزرقاء، مصطفی أحمد، المدخل الفقهی العام، د ټوک ګڼه: ١ د پاڼې ګڼه: ٤٢٤.
[٤]محمدبن محمد التأویل: د البیبان ستر عالم او فقیه دی، چې د اونان د ښار د عین بارد په کلي کې په ١٣٥٣هـ ١٩٣٤م کال کې زیږیدلی دی، د قرآن او قراءاتو په کور کې را ستر شو ځکه چې پلار یې د قرآن کریم د حمزه د روایت فقیه او د قراءاتو سبعه وو خاوند وو، د علم د زده کړې څخه وروسته له ټولو څخه مهمه دنده یې تدریس او استاذي وه، د دې ترڅنګ ډېر ګټور آثار هم ورڅخه پاتې دي، لکه: (الوصایا و الترتیل فی الفقه الاسلامي، الوصیة الواجبة فی الفقه الاسلامي، الشرکات و احکامها فی الفقه الاسلامي، مشکلة الفقر: الوقایة والعلاج من المنظور الاسلامي، او داسې نور)، او په ٢٠١٥م کال کې د فاني دنیا څخه ابدي ژوند آخرت ته پیوسته شو.وګورئ: نسمات في تراجم علماء و صلحاء تاونات- العلامة الدکتور محمدالتأویل https://taounate.net/archives/٧٧١
[٥]- تاویل، محمد تأویل، الشرکات و احکامها فی الفقه الاسلامی، د پاڼې ګڼه: ٣١٥، دچاپ کال: ١٤٣٠هـ ٢٠٠٩م، دچاپ ځای: دار ابن حزم بیروت لبنان.
[٦]- د البقرة د سورت (٢٨٢) آیت.

۱- سرببره پردې چې ړومبنۍ آیت په روښانه او واضحه توګه د لیکنی په وجوب باندې دلالت نکوي مګر په دې زمانه کې دخلکوپه زړونو کې دتقوی د نه شتون له کبله دعقد توثیق او محکمول په لیکنه باندې اشد ضرورت دی.

۲- د عقد توثیق واجبیدل په لیکنه باندې د ټولو حقوقو څخه ساتنه کوي اودجګړو اوجنجالو مخ نوی کوی.

۳- لیکنه د الله (جل جلاله) په قانون کې د قصدي انحراف د پاره ډېره ښه چاره ده، چې هریو د متعا قدینو څخه د لیک د ډاره انحراف نه شي کولی، په ځانګړې ډول هغه لیک چې شاهدان هم وربانديې و درول شوې وي.

۴- لیکنه د شاهدانو په ګټه هم ده، ځکه چې شاهدي یې په پښو ولاړه پاتې کیږي او کوږ والي ته یې نه پریږدي، اوکله چې په خپل شهادت کې څه اشتباه ورته پیداشي د لیک په کتنې سره ختمیږي او قصدي انحراف ته خود لیک له ډاره زړه نشي ښه کولی.

۵- دا کار د دې د پاره هم ښه دی، چې تاسو د شک او شبهې څخه په امن کې پاتې شی او په نا پوهی سره د حق څخه انحراف ونه کړی.

او په دې زمانه اوعصرکې همدغې ډول لیکنې ته شرعي وثیقه وايې اوکه په حکومتي چوکاټ کې نوي نو هغه ته عرفي وثیقه ویل کیږي.

**ب: د شرکت د عقد لیکنه په قانون کې:**

لیکنه په تجارتي قانون کې یو رکن د ارکانو د عقد څخه دی، د شرکت عقد ضروري دی چې لیکل شوی وي، او هغه څه پکې درج کړل شي چې شریکانو وربانديې اتفاق کړی وي، پدې شرط چې دلیکنې موارد د قواعدو او د شرکت د ځانګړتیاو سره په ټکر کې نوي او هر کله چې کوم تغییر او تبدیل منځته راځي باید د لیکنې په ښه باندې وي، او دا لیکنه د شرکت د عقد شکلي ارکانو څخه ګڼل کیږي، دتضامني شرکتونو قانون پدې اړه داسې وضاحت کړی دی:

لومړۍ فقره:

شرکتونه (دعامو او خاصو تضامني شرکتونو په شمول) مکلف دي دشراکت د قرار داد لاندې شرطونه په هغه لیکلي سند کې چې د لیکلي الزامي سند په نوم یادیږي ثبت کړي:

۱- د قرار داد دعقد نیټه.

۲- د شریکانو د هریوه نوم، شهرت، آدرس اوکه کوم بل شرکت د شریک په توګه په شرکت کې داخل شوی وي، دنوموړې شرکت عنوان.

۳- د شرکت د معاملاتي مرکز او دفعالیت ډول یې.

۴- د شرکت د تضامني توب ډول.

۵- د شرکت عنوان.

۶- د هغو شریکانو نومونه چې منفردا یا په ګډه سره د شرکت په نامه د قانوني تصرفاتو دواک لرونکي وي، د دې په تصریح کېدو سره چې منفردا یا په ګډه دلاسلیک واک لري.

۷- دهغې پانګې برخه چې هر شریک ژمنه کړې ده او دغیر نقدي پانګې د برخې تخمېني بیې د هغې طریقې په څرګنده ولوسره چې دغې تخمېني بیې صورت موندلی دی.

۸- په ګټه او ضرر کې دهر شریک د ګډون برخه.

په هغه صورت کې چې عام یا خاص تضامني شرکت دمحدود وخت لپاره وي د هغه د تېرېدو نېټه.

دوهمه فقره:

د دې مادې په لومړۍ فقره کې پر درج شوو شرطونه برسیره، شریکان کولای شي د شراکت د قرار داد نورې مادې چې ګټوری یې وګڼي په لیکلی الزامي سند کې درج کړي.[1]

د ړومبنۍ مادې په موجب باندې د شرکت قرار داد باید په یو لیکلي سند کې الزامي وي، او ثبت کړلی شي، اودلومړۍ فقرې موارد چې الزامي دي په دغه لیکلي سند کې الزامي درج کړلی شي.

**ج: د شرکت دعقد ثبتول:**

په اسلامي فقه کې دشرکت ثبتول: د تضامني شرکت شکلي رکنونو څخه دویم رکن دشرکت دعقد ثبتول دي، تسجیل یا ثبتول د شرکتونو په هغه معنا او مفهوم باندې چې ننۍ زماني که معمول دی، په اسلامي فقه کې شتون نلري، مګر دغه ثبتول د شرکت یوډول دشرکت توثیق دی چې د اسلامي شریعت سره کوم تعارض نلري، د دې برسیره په سپیڅلي اسلامي شریعت کې د عقودو پر توثیق (محکمولو) باندې ډېر تاکید شوی دی، اود مالونو د حفاظت، ساتنې، دشریکانو او دشرکت د مشتریانو ترمنځ د جنجالو دختمولو لپاره بنده ګانو ته دعقد په محکمولو باندې سپارښتنه کړې ده، چې لږ وړاندې یې پوره تفصیل بیان شو، بیا لیکلوته یې اړتیا نه ګورو.

د شرکت ثبتول په قانون کې: دتضامني شرکتونو په قانون کې د شرکت ثبتول دشرکت د هغه الزاماتو له ډلې څخه دی، چې د شریکانو پرغاړه باندې ایښودل شوی دی، او یوازې د شرکت دعقد لیکنه دشرکت دالزاماتو د خلاصون لپاره کفایت او بسنه نکوي باید چې شریکان خپل شراکت لیک هم ثبت کړي.

دلته دا پوښتنه پیدا کېږي چې دشرکت د ثبتولو موده څومره ده؟ ځواب دادی هغه کسان چې غواړي د تضامني شرکت جوړ اوتاسیس کړي، دوی مکلف دي چې دشرکت د تاسیس څخه وروسته

[1]- دافغانستان د تضامنی شرکتونو قانون (۲۵) ماده

د یوې میاشتې په ترڅ کې دعقد شرکت یو نقل په هغه ځای کې (چې د شرکت مرکز پکې واقع دی) ثبت او اعلان کړي.[1]

د ثبت مرجع دتضامني شرکتونو بلکې د ټولو شرکتونو لپاره هغه مرکزي دفتر دی، چې د سوداګرۍ د وزارت په چوکات کې واقع وي، څرنګه چې تضامني شرکتونو قانون یې بیان کوي: ثبت، د مرکزي ثبت په دفتر کی، له ثبتیدو څخه عبارت دی.د ثبت مرکزي دفتر دنوموړې قانون په مفهوم هغه اداره ده د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت په چوکات کې په شرکتونو پورې اړوند سندونه پکې ثبتیږي.[2]

[1]- دافغانستان د تضامني شرکتونو قانون (۶۱) ماده.
[2]- د پورتنی اخیستځای (۲۷) ماده.

## دریم مبحث:

## د تضامني شرکت ځانګړ تیاوې.

دغه مبحث دوه مطلبونو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په اسلامي فقه کې دشرکتونو ځانګړتیاوې.

دویم مطلب: د تضامني شرکت ځانګړتیاوې.

### لومړی مطلب:

په اسلامي فقه کې دشرکتونو ځانګړتیاوې.

الف: شرکتو لپاره د موخې، اخلاقو او تګلارې ټاکل.

ب: د شرکتو خپلواکي او د شرکتو له مخې دخنډو ختمول.

ج: د شرکتو توثیق او د دوی له پلوه د الله تعالی او د ټولنې حق ادء کول.

### دویم مطلب:

د تضامني شرکت ځانګړتیاوې.

الف: تضامني شرکت د محدودو شریکانو لخوا جوړېدل.

ب: د تضامني شرکت لپاره تجارتي عنوان.

ج: شریک د تاجر ستاینوم درلودل.

د: دتضامني شرکت څلورمه ځانګړنه.

ه: دتضامني شرکت پنځمه ځانګړنه.

## لومړۍ مطلب: په اسلامي فقه کې دشرکتونو ځانګړتیاوې:

شرکتونه په اسلامی فقه کې یو لړ ځانګړ تیاوې لري، چې دغو ځانګړتیاو ته په کتو سره په ډېرې آسانۍ سره ددې زماني د معاصرو وضعي شرکتونو باندې د روا او ناروا حکم کولای شو،او همدغه رنګه دفاسد اوغیر فاسد شرکتو ترمنځ توپیر کولای شو، د همدغو ځانګرتیاو څخه ځینې مهمې ځانګر تیاوې په لاندې ډول دي:

**الف: شرکتونو لپاره د موخې، اخلاقو او تګلارې ټاکل:**

۱- د شرکتونو موخه:

په اسلامی فقه کې بنیادي او اساسي موخې د شرکتو څخه دحلالې، پاکې اوپاکیزه ګټې لاسته راوړل، دشاړو او خرابو زمکو آبادول، دتولنېز اقتصادی ودې او پراختیا لپاره د کارکولو څخه عبارت دي، دا ټول د اسلامي امت د پرمختک په پار.[1]

۲- د شرکتونو اخلاقي بنه:

په ټولو معاملاتو کې که پېرل وي یا پلورل او داسې نورپه کارده چې د سپېڅلي اسلامي اخلاقو ته پکې ژمنتیاموجوده وي، لکه چې ویل شوي دي: أخلاق الحسنة تقود نتائج الحسنة والسلوک السوی یقود الی معاملة سویة فیتحول عمل الفرد الی طاعة و عبادة.[2]

ژباړه: نیک اخلاق د ښوپایلو لاربښونه کوي او په سمه اوروغه لاره تګ د سمې او روغې معاملې لاربښونه کوي، پدې حالت کې به د هر یوه کس کار او زیار وېستل به طاعت او عبادت کې شمېرل کیږي.

۳- دشرکتونو تګلاره او فعالیت:

د شرکتونو فعالیت به د اسلامي شریعت په چوکاټ کې وي، په داسې شیانو کې د شرکت فعالیت چې په اسلامي شریعت کې منع اوحرام وي جائز ندي، لکه: شراب، د موسیقی او سندرو آلات، د سود او بډو بانکونه پرمخ بیول، ځکه چې خبیث او ګنده طیب او پاکیزه سره برابر ندي اګر که خبیث او ګنده ډیروي.[3]

---

[1]- الکاسانی، علاء الدین ابوبکر بن مسعود بن احمد، بدائع الضائع فی ترتیب الشرا ئع، د توک ګنه: ۱۳ د پانی ګنه: ۷۰.

[2]- شحاته، حسین حسین، فقه ومحاسبه زکاة الشرکات، د پاڼې ګڼه: ۱۸، دچاپ ځای: دارالنشر للجامعات.

[3]- کراویه،یاسر بن طه علی کراویه،المعاملات المالیة المعاصرة في الفکر الاقتصادي الإسلامي،دټوک ګڼه:۱، د پاڼې ګڼه: ۷۹،

**ب: د شرکتونو خپلواکي او د شرکتونو له مخې څخه دخنډو نو ختمول:**

۱- د شرکتونو خپلواکي:

د شریکانو ونډه اخیستل په شرکت کې، د شتمنو پانګونه، کاریګر، او دهریوه فن ماهرین یا مسلکي اشخاص د دیني اخلاقو ترسیوري لاندې خپلواک او دخپل اختیار څیښتنان دي، په حقیقت کې نوموړی واک در لودل د ښې ګټې د پانګې د زیاتوالي دېیر او پلور دوام او برکتونو لاسته راوړلو لپاره غوره میدان دی.[۱]

۲- د خنډونو څخه د شرکتونو خلاصون:

په معاملاتو کې د کولو اونه کولو په حیث باندې د اسلامي شریعت په احکامو او اصولو باندې منګولې لګول داهغه اصل دی، چې د لاربښوني، استقامت، دوام، د چارو د ښه سرته رسولو او د ټولو مخته راتللو خنډونو لپاره ښه فعاله درملنه ده.[۲]

**ج: د شرکتونو توثیق او د دوی له پلوه د الله تعالی او د ټولنې حق ادء کول:**

۱- دالله (جل جلاله) حق اداء کول:

د شتمنی د پاکوالي، زیات والي او دبرکت حصول د پاره، دالله (جل جلاله) حق چې د شتمن دمال پورې تړاو لري ور کول یا اداء کول ضروري دي لکه: فرضي زکات یا نفلي صدقات او یا پرته له هغو څخه چې شریعت په مالداراو بډای باندې لازم کړی دی.[۳]

۲- د ټولنې حق اداء کول:

د پانګې په کڅه کې چې کوم تولنېزحقوق تړاو لري، دهغو اداء کول لکه: دمالیې یا ټکس ورکول او د انصاف سره سمو او برابرو دودونو پرېکول، چې نه پکې کمی وي اونه زیاتی، نه تېری وي اونه احسان بارول، او په باطلې طریقې سره د خلکو د مالونو خوړل او یا د ټولنې پرحقوقو باندې تېری کول، ناجائز اوغیرمشروع دی.[٤]

۳- د شرکتونو توثیق:

دټولوعقودو، ژمنو، وعدو، موافقت نامو او په ټوله کې د معاملاتو توثیق او محکمول په لیکنه، شاهدانو، ثبتولو او داسې نورو باندې د شکونو، اختلافاتو او جنجالو د لمنځه وړلو دپاره ضروري دي.

---

[۱]- شحاته، حسین حسین، فقه ومحاسبة زکاة الشرکات، دپاڼې ګڼه: ۱۸.
[۲]- پورتنی اخیستځای.
[۳]- السمرقندی، علاء الدین السمرقندي، تحفة الفقهاء، دټوک ګڼه: ۱، دپاڼې ګڼه: ۲۹۱، دچاپ کال: ۱۴۰۵هـ ۱۹۸۴م، دچاپ ځای: دار الکتب العلمیة بیروت.
[٤]- شحاته، حسین حسین، فقه ومحاسبة زکاة الشرکاة، د پانی ګنه: ۱۸.

له پورتنيو ځانګړتياو څخه داجوتيږي، چې بنيادي موخه د شرکت جوړوني څخه دګټي په پار د مالونو لاس په لاس کول دي، او ولسي وګړوته د کار زمينه برابرول د فقير اوغريبو کورنيو لاس نوی کول دبيلګې په ډول د زکاتونو ورکول او څومره چې مال زياتيږي زکات يې هم ډيريږي، او مال د يوې معلومې ډلی په لاس ښکته او پورته کول، او دټولني ټوله پانګه باندې خيټه اچول دشرکت داصولو خلاف دي، اودغه رنګه پرشريکانو باندې د شرکت د عقد توثيق ضروري دی، ځکه چې د عقد د نه توثيق په صورت کې به د حقوقو د ضايع کېدو خطر او دجنجالو باعث به شي.

## دویم مطلب: د تضامني شرکت ځانګړتیاوې:

د شرکتونو د قوانینو په نظر کې نیولو سره د تضامني شرکت د مهمو ځانګرتیاوو څخه په لاندې ډول یادونه کوم:

**الف: تضامني شرکت د محدودو شریکانو لخوا جوړېدل:**

ددې څېړنې په ترڅ کې دا را ته جوته شوه چې د تضامني شرکت د شریکانو شمېر له شلو کسانو څخه ډېر نه وي، مګر دا چې د کوم شریک څخه وارثین پاتې شوي وي، او یا چاته یې وصیت کړی وي، بیا پدې حالت کې کېدای شي د شریکان شمېر له شلو کسانو څخه ور واوړي.

دشریکانو د شمېر ډېر وا لی ځینې حالاتو کې د شرکت په ګټه باندې تمامېږي، ځکه چې پدې سره دما هرین فی الفن او مسلکي اشخاصو د نظریاتو تنوع منځته راځي او دتضامني شرکت د شریکانو دشمېر لپاره آخرنۍ اندازه او حد ټاکل د دې کبله دی، چې د دې شرکت جوړښت د اشخاصو د شخصي اعتبار پربنسټ باندې دي.[1]

**ب: د تضامني شرکت لپاره تجارتي عنوان:**

تجارتي نوم یا عنوان د تضامني شرکت له مهمو ځانګرتیاو څخه دی، چې په هغه سره ټول شریکان تر یوه واحد ګډ نوم او عنوان ترسیوري لاندې یوځای کېږي، دنوموړې شرکت نوم دټولو شریکانو یا دیوه شریک یا داکثرو شریکانو له نومونو څخه جوړېږي، او په هغه حالت کې چې د شریکانو شمېر زیات وي چې د یوه عنوان لاندې یوځای کول یې ممکن نوي، نو د یوه شریک د نوم ثبتولو ترڅنګ د (تضامني) کلمه ورسره زیاتېږي همدارنګه داهم ممکنه ده، چې شرکت پرته د شریکانو له نومونو څخه په یو بل تجارتي نوم سره ثبت کړای شي.[2]

د تضامني شرکت هدف دشریکانوله نومونو څخه دعنوان جوړېد نه:

۱- چې دیوه شرکت له نورو شرکتو څخه توپیر وشي.

۲- د مهر (ټاپې) جوړوني لپاره، ترڅو د شرکت اړونده اسنادو باندې مهر ولګولی شي.

۳- د شرکت دغړو او دهر یوه غړې د مسؤلیت پېژندنه وشي.

۴- د کوم شریک د شرکت څخه دوتلو په صورت کې دهغه نوم د شرکت د عنوان څخه لرېکېدل.[3]

---

[1]- احمد، ابراهیم سید احمد، العقود والشرکات التجاریة، د پاڼي ګڼه: ۱۳۷، دچاپ کال: ۱۹۹۹م، دچاپ ځای: دارالجامعة.
[2]- سامي، فوزی محمد سامی، الشرکات التجاریة، دپاڼی ګڼه: ۷۵.
[3]- احمد، ابراهیم سید احمد، العقود والشرکات التجاریة دپاڼی ګڼه: ۱۳۷.

**ج: شریک د تاجر ستاینوم درلودل:**

دتضامني شرکت دربمه ځانگړنه داده چې شریک باید دتاجرستاینوم خاوند وي، دنړی ډېری هیوادونو په قوانینوکي داځای په ځای کړې دي، چې د تضامني شرکت شریک باید د سوداگری ستاینوم لاسته راوړی وي، کله چې دغه ستاینوم کسب کوي باید د تجارت داهلیت درلودونکی وي، ځکه چې ځیني هیوادونو متضامن شریک د سوداگری ددفتر په شتون باندې مکلف گرځولی دي.

دا چې په تضامني شرکت کې، شریک دتاجرستاینوم پیداکوي گټه یې داده چې د شرکت د مفلسی یا بې پیسوکېدوسره شریک هم مفلس گرځي اودشریک په مفلسی سره شرکت نه مفلسیږي، ځکه چې شرکت د شریکانو له دیونو یا پورو څخه مسؤل ندی.[1]

**د: د تضامني شرکت څلورمه ځانگړنه:**

د تضامني په شرکت کې شریکان تضامني او شخصي مسؤلیت لري: دشریکانو د تضامني مسؤلیت څخه مومقصد دادی، چې هریو شریک د شرکت دټولو پورونو د اداء کولو مسؤل دي، یعنې د شرکت پور ورکونکی کولای شي چې د خپل پور غوښتنه د شرکت یا دهر یوه شریک څخه وکړي، د تضامني شرکتونو قانون په دې هکله داسي تصریح کوي: (......په هغه صورت کې چې د عام تضامني شرکت د ټولو دیونو دور کولو لپاره کافي نوي له شریکانو څخه هریو دعام تضامني شرکت د ټولو دیونو د ورکولو مسؤل دی......) [2]

او دشریکانو دشخصي مسؤلیت څخه مومقصد دادی، چې هریو شریک د شرکت پر وړاندې غیر محدود مسؤلیت لري، یعنی د شریکانو څخه هریو د شرکت د ټولو دیونو مسؤل دی، اودغه مسؤلیت دهریوه شریک په شرکت کې دهغه تر ونډې پورې محدود نه دی، که چېرې د شرکت مال د پورونو اداء کولو لپاره بسنه ونکړي شریکان مسؤلیت لري چې د خپلې شخصي شتمنی څخه یې ورکړي څرنگه چې د تضامني شرکتونو قانون بیان کوي: که چېرې د شرکت مالونه دهغه دیون پوره نکړي له شریکانو څخه هریو مکلف دی، دشرکت په پانگه کې له خپلې ونډې سره متناسب د شرکت د دین یا زیان یوه برخه له خپل شخصي مال څخه ورکړي.....) [3]

**ه: دتضامني شرکت پنځمه ځنگړنه:**

په تضامني شرکت کې د ونډې نه لیږد: عام تضامني شرکت د شریکانو د شخصي اعتبار په بنیاد جوړېښت مومي، او د شریکانو مسؤلیت هم تضامني دی، چې شریکان یوتربله نور هم نژدې کوي، پکار نده چې شریکان د اجنبي شخص په منلو باندې مجبور کړل شي، په همدې دلیل د شریکانو

[1]- احمد، ابراهیم سید احمد، العقود والشرکات التجاریة، دپاني کنه: ۱۳۸.
[2]- دافغانستان د تضامنی شرکتونو قانون (۲۱) ماده.
[3]- د پورتنی اخیستځای (۴۷) مادی اوله فقره.

برخي د لېږد وړ ندي، مګر دټولو شريکانو په خوښه اورضايت سره، څرنګه چې د تضامني شرکتونو قانون بيان کوي: له شريکانو څخه هيڅ يو شريک نشي کولای د نورو شريکانو د رأيو د اتفاق له لاسته راوړلو پرته خپله ونډه له شرکت څخه بهر شخص ته قسماً يا کلاً ولېږدوي، د خلاف په صورت کې که له دې عمل څخه شريکانو يا ثالث شخص ته زيان رسېدلی وي، له هغه څخه را پيدا شوي زيانونه يوازې د ونډې دلېږدونکي په غاړه دي، خودا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصريح شوې وي.[1]

لنډه داچې په تضامني شرکت کې د شريکانو تر منځ يوه او بل ته د خپلې ونډې لېږد جائز دی.[2]

په اسلامي شريعت کې د شرکت د ځانګړتياو او دتضامني شرکت د ځانګړتياو په وړاندې کولو سره دا څرګنديږي، چې د تضامني شرکت ځانګړتياوې په ټولو کې د اسلامي شريعت د شرکت له ځانګړتياو سره په تعارض او ټکر کې ندي، دغه رنګه په اسلامي شريعت کې د شرکتونو ځينې ډولونه د نورو سره په ځينې ځانګړتياو کې سره توپير لري، او هر يو شرکت د خاصو ځانګړتياو څخه برخمن دی، ژرده چې بيان به يې د تضامني شرکت پرتله داسلامي شريعت له شرکتو سره په راتلونکي بحث کې راشي.

[1]- دافغانستان د تضامنی شرکتونو قانون (۷۱) ماده.
[2]- سامي، فوزی محمد، الشرکات التجارية، دپاڼې ګڼه: ۷۶. احمد، ابراهيم سيد احمد، العقود والشرکات التجارية د پانی ګنه: ۱۳۹.

## څلورم مبحث:

## د تضامني شرکت اداره.

دغه مبحث دوو مطلبونو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په تضامني شرکت کې دمدیر ټاکل او ګوښه کول.

دویم مطلب: په تضامني شرکت کې د مدیر واک او مسؤلیتونه.

### لومړی مطلب:

په تضامني شرکت کې دمدیرټاکل اوکوښه کول.

الف: په تضامني شرکت کې دمدیرټاکل.

ب: په تضامني شرکت کې د مدیرګوښه یا عزل کول.

### دویم مطلب:

په تضامني شرکت کې د مدیرواک او مسؤولیتونه.

الف: په تضامني شرکت کې د مدیر واک.

ب: په تضامني شرکت کې د مدیر مسؤولیتونه.

## لومړی مطلب: په تضامني شرکت کې دمدیرټاکل اوکوښه کول:

دتضامني شرکت دبنسټ کېښودوڅخه وروسته، شرکت پرته له شریکانو څخه په خپلواکه توګه شخصیت ځانته غوره کوي، مګر یوه طبیعي شخص ته دلته ضرورت دی، چې شرکت کنترول او چارې یې په سمه توګه سمبال کړي، په هغه حالت کې چې د شرکت شریکان محدود وي، کېدای شي چې ټول شریکان د شرکت ټولي چارې پرمخ یوسي، او مدېریت یې کړي، او کله چې د شریکانو شمېر ډېر وي، یعنی له لسو کسانو څخه زیات وي، نو دټولو شریکانو لخوا د شرکت اداره کول په یوځای باندې ممکن ندي، پدې حالت کې ټولوشریکانو ته په کار ده چې یو کس د مدېر په توګه وټاکي، ترڅو شرکت اداره اوکنترول کړي.

**الف: په تضامني شرکت کې دمدېرټاکل:**

دتضامني شرکتونو قانون ته په کتو سره، د دې شرکت شریکان د شرکت په اداره کولو او شرکت باندې نظارت کولو په برخه کې پرانستی لاس او د پام وړ آزادي لري، په تضامني شرکتونوکې داهم یواصل دی، چې ټول شریکان کولای شي د شرکت په اداره کولو کې داخل وي، ځکه چې دا د هریو شریک په ګټه دی، او دشرکت اداره په ګډه باندې پرمخ بیولوکي ګډو موخو ته درسېدولپاره ښه تګلاره ده، قانون ته په کتوسره که یوکس دمدېرپه توګه ټاکل کېږي، دغه ټاکنه د تضامني شرکتونو لپاره هرومرو لازمي نه ده، البته د ثالثو اشخاصو دحقونو رعایتولو، اودشرکت په اداره کې دښه نظم منځته راوستلو لپاره د مدېرټاکل مهم دی، دتضامني شرکتونو قانون د شرکت د ادارې په هکله داسې بیان کوي: شریکان کولای شي دعام تضامني شرکت د ورځنیو چارو اداره له شریکانوڅخه یوه یا څوتنو ته یا ټولو یا له شرکت څخه بهربل شخص ته وسپاري، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوې وي او هغه شخص چې دغه واک ترلاسه کوي د مدېر په نوم یادېږي.[۱]

ددغې مادې پربنیاد دشرکت د ورځنیوچارو کنترول او اداره کېدای شي یو مدیریا څومدېران دشرکت د داخلي شریکانوڅخه، یا د شرکت څخه بهر بل شخص سرته ورسوي.

که په قانون کې د شرکت څخه بهربل شخص ته اجازه ورکړل شوې ده چې دشرکت د مدېرپه توګه وګمارل شي، ولی عملا د تضامني په شرکت کې دغه ګمارنه نادرالوقوع ده، یعنې دغه ګمارنه ډېرلږ ترسترګو کېږي، ځکه چې په عام تضامني شرکت کې هغه شخص دمدېر په توګه ګمارل کېږي، چې د نورو شریکانو په نسبت یې په شرکت کې ونډه ډېره وي، یا په بل عبارت په عام تضامني شرکت کې د شرکت اداره او واک د شریکانو په لاس کې وي، دا په داسې حال کې چې په

---

[۱]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون (۶۷) ماده.

نورو شرکتونو کې دمدېر ګمارلو لپاره نورمعیارونه ټاکل شوي دي، دبېلګې په ډول په سهامي شرکتونوکي کېدای شي چې داسې یوشخص د مدېر په توګه وټاکل شي چې په شرکت کې هېڅ ونډه ونلري ، او یا هم د ډېرې لږې ونډې خاوند وي، مګر په عام تضامني شرکت کې بیا د شرکت د ادارې واګې دشریکانو په لاس کې وي، چې څرنګې غواړي هغه رنګه یې اداره کولای شي، اوکه چېرې په عام تضامني شرکت کې دشرکت څخه بهرکوم شخص دمدېر په توګه وګمارل شي، بیا نشو کولای چې هغه بهرنی شخص د شرکت د ټولودیونوڅخه مسؤول وګڼو، ځکه چې د شرکت د شریکانوڅخه بېل اوجلا وي.[1]

**ب: په تضامني شرکت کې د مدیرګوښه یا عزل کول:**

کولای شو چې دعام تضامني شرکت مدېرد شرکت په عقد کې د درج شویو شرایطو ته په کتوسره، یا د ټولو شریکانو د رأیو داکثریت په اتفاق سره، یا په دنده کې داهمال او غفلت په کولوسره، د شریکانو د یوه یا د یوه څخه د زیاتو دغوښتنې له کبله له دندې څخه لرې یا عزل شي.

دتضامني شرکتونو قانون د مدېر دعزل په اړه داسې بیان کوي:

که چېرې د مدېر اداري واک دعام تضامني شرکت د عقد په موجب وټاکل شي، شریکان کولای شي په عقد کې له درج شوو شرطونو سره په مطابقت کې یا د ټولو شریکانو د رأیو د اکثریت په اتفاق، دمدېریا دمدېرانو واک محدود یا هغوی له دندې څخه لرې کړي، که چېرې مدېر په سپارل شوو دندوکي اهمال او غفلت وکړي یا دعام تضامني شرکت دچارو په اداري قادر نوي، له شریکانوڅخه دیوه یا له یوه څخه د زیاتو د غوښتنې له امله دې د دلیلونو په وړاندې کولو سره د اکثریت په تصویب له دندې څخه لرې شي، که چېرې دشریکانو شکایت د نورو شریکانو لخوا د مستندو دلیلونو د وړاندې کېدو با وجود ونه منل شي، کولای شي موضوع محکمې ته حواله کړي.[2]

د سوریې د شرکتونو په قانون کې برسېره د افغانستان د تضامني شرکتونو د قانون د شرکت دمدېرد عزل په هکله یوه بله موضوع هم ورسره یوځای کړې لکه چې وایي:

که چېرې د شرکت مدېر دشراکت په قرارداد کې مسؤولیت او واک یې ټاکل شوی وي، نشو کولای چې هغه عزل یا واک ته یې تغییر ورکړو، مګرد قرارداد په اصلاح سره، که چېرې د شرکت مدېرد شراکت له قرار داد څخه جلا دبل قرارداد په بنیاد ټاکل شوی وي، یا د شریکانو له ډلې څخه نه وي، په شرکت کې د ډېرې ونډې لرونکو د رأس په اساس کولای شو، هغه عزل یا تغییر په واک کې را ولو، مګردا چې شریکانو بل ډول توافق کړی وي.[3]

---

[1]- میرزایي، دکترعلی محمد، حقوق تجارت افغانستان، دپاڼي ګڼه: ۹۸.
[2]- د افغانستان دتضامني شرکتو قانون (۶۸) ماده.
[3]- د سوریې د شرکتونو قانون (۳۶) ماده.

داځه چې ولیکل شو دشرکت دمدېردلرې کولوپه هکله وو، او که چېرې د شرکت مدیر په خپله استعفا کوي او د شرکت مدیریت پرېږدي، پدې صورت مدیر استعفا کولای شي، مګر شرکت ته د ضرر رسېدلو په وخت کې مدیرنشي کولای چې دشرکت له مدیریت څخه ځان ګوښه کړي.[1]

[1]- الشرقاوي، محمود سميرالشرقاوی، القانون التجاري، دټوک ګڼه: ۱، د پاڼې ګڼه: ۲۳۹، دچاپ کال: ۱۹۸۲م، دچاپ ځای: دارالنهضة العربية.

## دویم مطلب: په تضامني شرکت کې د مدیرواک او مسؤولیتونه:

کله چې په تضامني شرکت کې مدیر یا مدیران ټاکل کېږي، ددې اغیز دا دی ، چې پرته له مدیریا مدیرانوڅخه نور شریکان نشي کولای دشرکت په اداري امورو کې مداخله وکړي، ځکه چې د دوی په مداخلې سره د شرکت فعالیت د خنډ او ځنډ سره مخامخ کېږي، په ځانګړې ډول کله چې د شریکانو شمېر ډېر وي، خو دغه کارپدې معنی ندی چې دمدیر څخه پرته هیڅ شریک د شرکت په اداره کې رو ل یا ونډه نلري، بلکې ټول شریکان د شرکت په مهمو او اساسي چارو کې اساسي ونډه لري، چې د شرکت اړونده تصامیم د همدوی لخوا نیول کېږي.

**الف: په تضامني شرکت کې د مدیر واک:**

په عام تضامني شرکت کې د مدیر یا مدیرانو د واک او اختیار درلودلو په هکله قاعده کلیه داده چې د دوې واک د شراکت د عقد پربنسټ ورکول کېږي، مدیر کولای شي د هغه چوکات په داخل کې چې د شراکت عقد ورته اجازه ورکړې ده، شرکت اداره کړي، هغه څه چې د تضامني شرکتونو په قانون کې د مدیر په هکله راغلي دي، ترډېره دتکمیلي قاعدې بڼه لري، او د آمرې قاعدې بڼه نلري، ځکه چې د تضامني شرکتونو قانون دمدیر واک یې تر ورځنۍ کړونو پورې را نغښتې ده، څرنګه چې د تضامني شرکتونوپه قانون کې لولو: شریکان کولای شي دعام تضامني شرکت د ورځنیو چارو اداره له شریکانو څخه یوه یا څو یا ټولو یا شرکت څخه بهر بل شخص چې دغه واک ترلاسه کوي د مدیرپه نوم یادېږي.[1]

خو دشرکت د ورځنیو چارو اداره کومو مسایلوته شاملیږي، پدې اړوند دتضامني شرکتونو قانون په بله ماده کې داسې وایې: هغه عادي چارې او معاملې چې سرته رسول یې دعام تضامني شرکت د مقصدونو او موخو لپاره اغیزمنې دي، دعام تضامني شرکت په ورځنیو اداري چارو پورې اړه مومي، خودا چې په عقد کې بل ډول تصریح شوې وي، مدیر یا مدیران واک لري څو د وقت او پاملرنې له عین معیارڅخه په ګټې اخیستنې سره چې د خپلو شخصي معاملو د اړوندو مسئلو په تصمیم نیونه کې یې کاروي د شرکت د اداري د ورځنیو چارو په اړوند مسئلو کې عمل وکړي او تصمیم ونیسي، د شرکت له ورځنیو چارو څخه بهر ستري برخې او مهمې مسئلې لکه پانګې ورکول، بیه، دشرکت د ټولو غیر منقولو مالونو د سترې برخې لېږدېدل او د شرکت عادي فعالیتونو بهر نورې مسئلې د شریکانو د رأیو د اکثریت پربنسټ تصمیم نیول کېږي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوې وي.[2]

---

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون (۶۷) ماده.
[2]- د پورتنی اخیستځای (۴۹) ماده.

د پورتنيو مادو د موادو موافق د شرکت د مدېر يا مدېرانو صلاحيت د شرکت د اداري د ورځنيو چارو پورې تړاو لري، مګر دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصريح شوې وي.

دشرکت ورځنۍ چارې د عادي معاملاتو څخه عبارت دي، چې د هغه سرته رسول د عام تضامني شرکت د مقصدونو او موخو لپاره اغيزمن دي، د شرکت د اداره کولو د لوازمو څخه د ټولو هغو معاملاتو چې د شرکت موضوع يې ايجابه وي پرمخ بيول دي، په هغه معاملاتو کې چې د شرکت د موضوع او موخو سره موافق وي بايد د مدېر مخ نوی ونه شي لکه د کتابونو خپرول په شرکت کې، مدېر بايد دا حق ولري چې د کتابونو د مؤلفينو سره قرارداد لاسليک کړي، د شرکت لپاره لازم وسايل وپېري او داسې نور.

هغه عمده او مهم مسايل چې د ورځنيو چارو سره اړخ نه لګوي لکه د پانګې ورکول، بيه، د شرکت د ټولو غيرو منقولو مالونو د سترې برخې لېږدول او د شرکت له عادي فعاليتونو څخه بهر نورې مسئلې د شريکانو د رأيو د اکثريت پربنسټ تصميم نيول کېږي، مګردا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصريح شوې وي.

**ب: په تضامني شرکت کې د مدېر مسؤوليتونه:**

د مدېر د مسؤوليتونو څخه هدف د مدېر مدني او جزايي مسؤليتونه دي، ځکه چې د تضامني شرکتونو قانون د مدېر د مسؤليت په اړه کومه وړاندوينه نده کړې، په همدې بنياد په دې هکله د مدني مسؤليتونو عام قواعد د تطبيق وړدي، که چېرې مدېر د دندې د اجرا کولو په ترڅ کې ثالثو اشخاصو ته کوم زيان واړوي، دنومړي زيان او خسارې مسؤل به شرکت وي، د بېلګې په ډول: پرعوايدو باندې د راتلونکو ماليانو پر وخت ورکول چې دا د مدېر دنده ده، که چېرې مدېر په نوموړې دنده کې غفلت وکړي، او د ماليي له لخوا کومه جريمه چې ټاکل کېږي له شرکت څخه به اخيستل کېږي، او شرکت کولای شي د دغې پېښې شوې جريمې خساره له مدېر څخه وغواړي.

کله چې هم مدېر شرکت ته کوم زيان واړوي، شرکت حق لري، چې د زيان د جبران غوښتنه له مدېر څخه وکړي، که فرض کړو چې مدېر د شرکت مالو ته خساره اړه ولې ده، د مدېردغه کړنه تېروتنه ګڼل ګېږي، په دغه تېروتنه کې چې څومره زيان شرکت ته اوښتي وي بايد مدېر يې متحمل شي، پدې صورت کې شرکت د هغه څخه د مدني مسؤليتونو د قواعدوپر بنياد دخسارې غوښتنه کولای شي، د مدېرد جزايي مسؤليتونو په هکله دا ويلی شو: چې هر کله مدېر د خپلې دندې په اجرا کولو کې کوم جرم سرته ورسوي، چې په هغه باندې دجزامستحق ګرځي، د خپلو کړنو به شخصاً په خپله مسؤل وي.[1]

[1]- ميرزايي، د کتورعلی محمد، حقوق تجارت او افغانستان، دپاڼي ګڼه: ۱۰۲.

## دویم فصل:

## د تضامني شرکت حکم، د اداري احکام او  ضوابط یې.

اودغه دویم فصل درې مبحثولره شامل دی:

لومړی مبحث: د تضا مني شرکت حکم په اسلامي فقه کي .

دویم مبحث: د تضامني شرکت د اداري احکام  په  اسلامي فقه کې.

دریم مبحث: د تضامني شرکت صوابط په اسلامي فقه کې.

## لومړ مبحث: د تضا مني شرکت حکم په اسلامي فقه کي.

او دغه لومړی مبحث دوه مطلبولره شامل دی:

لومړی مطلب: د تضامني شرکت حکم په  اسلامي فقه کې .

دویم مطلب: د تضامني شرکت فقهی تطابق.

### لومړی مطلب:د تضامني شرکت حکم په  اسلامي فقه کې :

او دغه لومړی مطلب دوه برخو لره شامل دی:

الف: اصل په معاملاتوکې.

ب : په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت حکم.

### دویم مطلب: د تضامني شرکت فقهی تطابق.

او دغه دوم مطلب څلورو برخو لره شامل دی:

الف: د تضامني شرکت مطابقت د اسلامي فقهې دعنان له شرکت سره.

ب: د تضامني شرکت مطابقت د اسلامي فقهې د مفاوضې له شرکت سره.

ج: د تضامني شرکت مطابقت د اسلامي فقهې د مضاربت له شرکت سره.

د: د تضامني شرکت د جواز ترجیح.

## لومړی مطلب: د تضامني شرکت حکم په اسلامي فقه کې:

په تېرو زمانو کې چې انسانان خپلې اړ تیاوې په خپله پوره کولې، کارونه به ساده ترسره کېدل او بازارونه محدود ول، خو د صنعتي انقلاب څخه وروسته تولیدات په پراخه ډول باندې را څرګند شول، او ژوند نوې بڼه غوره کړله، په معاملاتو او شرکتونو کې نوښت اوپراختیا منځ ته راغلل، ټولو مسلمانانو ته په ځانګړې ډول کوم مسلمان چې د سوداګرۍ اوتجارتي شرکتوسره یې سراوکار وو، د یو لړ پوښتنو سره مخامخ شول، لکه د نوي را منځته شوي معاملاتو او شرکتونو شرعي حکم به څه وي؟ او داسې نورې پوښتنې، نو سو داګرو مؤمنانو ته پکار ده چې د دغه ډول په احکامو باندې ځان پوه ګړي، ترڅوپه حراموکي اخته نشي، اود دغو نویو پیداشویو شرکتو له ډلې څخه یوهم تضامني شرکت دی، په هم دې بنسټ محترمو لوستونکوته په لاندې ډول د تضامني شرکت شرعي حکم بیانوم:

په اسلامي شریعت کې د تضامني شرکت د حکم پیژندلو لپاره اړینه ده، چې لومړی پردې بحث وشي، چې په اسلامی شریعت کې په مالي معاملاتو کې اصل څه شی دی .

**الف: اصل په معاملاتوکی:**

کله چې په اسلامي شریعت کې عباداتو ځانګې ته کتنه کوو، نودا پیداکوو چې اصل په عباداتو کې منع [نه کول] دي، ترڅو چې دشارع له طرفه دعبادت دغوښتني دلیل نوي راغلی، داد دي لپاره چې په دین که څوک دعبادت په نامه څه داخل نکړي، لکه چې لاندېنی حدیث درباندې دلالت کوي:

عن عائشة (رضی الله عنها) قالت قال رسول الله (صلى الله عليه وسلم): من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد.[1]

ژباړه: ام المؤمنین عائشه (رضی الله عنها) وایي چې د الله (جل جلاله) استازې (صلى الله عليه وسلم) فرمایلي دي: څوک چې داسي یو څیز په دین کي پیداکړي، چې په دین کې نوي، هغه نه منل کېږي.

همدا رنګه دې بل حدیث نه هم څرګندیږي:

عن جابر (رضی الله عنه) يقول: رأيت النبي (صلى الله عليه وسلم) يرمى على راحلته يوم النحر ويقول لتأخذوا مناسككم فإني لا أدري لعلي لا أحج بعد حجتي هذه.[2]

---

[1]- صحیح مسلم،کتاب الاقضیة ،باب نقض الا حکام الباطلة،دحدیث ګڼه: ۴۵۹۸

[2]- پورتنی اخیستځای،کتاب الحج،باب استحباب رمی جمرة،دحدیث ګڼه: ۳۱۷۹

ژباړه: له جابر (رضی الله عنه) څخه روایت شوی چې هغه به ویل: چې ما پیغمر (صلی الله علیه وسلم) د نحر په ورځ باندې ولیدو چې له خپلې سورلی څخه یې شیطان ویشتلو او ویل به یې چې باید تاسو د حج احکام زده کړی، ځکه چې نه پوهیږم کیداشي د دې حج څخه ورسته بل حج ونکړم.

نو اوس پوښتنه داده چې اصل په عقودو او معاملاتو کې څه دی؟ په ځانګړې ډول هغه شرکتونه چې په اسلامي شریعت کې د هغه حکم نوي بیان شوی، آیا حکم یې حلال دی او که مباح دی، نو په دی مسئله کې د فقهاواختلاف دی او په نوموړي مسئله کې فقها په دوه ډلو باندي ویشل شوي دي، چې په لاندې ډول ورڅخه یاده ونه کوم:

لومړی مذهب:

ډېری حنفي، شافعي او حنبلي فقهاء او یوه رأی د مالکي فقهاء داده چې اصل په عقودوکې جواز اواباحت دی، تر هغه پورې چې د حرام والي دلیل نه وي راغلی.[1]

دویم مذهب:

اهل ظاهرية فقهاء په دې نظر باندی دي، چې اصل په عقودو کې منع ده، ترهغه چې د اباحت دلیل نوي قایم شوی.[2]

د لومړي مذهب دلایل:

دلومړي مذهب خاوندان چې قایل پردې دي، چې اصل په عقودو کې جواز اومباح والی دی، ترهغه پورې چې په حراموالي باندې قرآني یا دنبوي احادیثوڅخه کوم دلیل قایم شوی نوي.

قرآني دلایل:

الله (جل جلاله) فرمایی: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ}.[3]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی په خپلوتړلوعقدونو باندی وفاوکړئ (خیانت پکې مه کوي)

---

[1]- ابن عابدین،محمد امین بن عمر بن عبدالعزیر،رد المحتار علی در المختار، د ټوک ګنه: ۱،د پاڼې ګڼه: ۲۱۷.القرافي،أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن،الذخيرة، دټوک ګڼه:۱،دپاڼي ګڼه:۱۵۵،لومړی چاپ،دچاپ کال: ۱۹۹٤ م،دچاپ ځای:دار الغرب الإسلامي بيروت.الرازي.فخرالدین محمدبن عمر بن الحسین،المحصول فی علم اصول الفقه،دټوک ګڼه:۶،دپاڼي ګڼه:۱۹۷،دویم چاپ،دچاپ کال:۱۴۱۲هـ۱۹۹۲م،دچاپ ځای:مؤسسة الرسالة بيروت. البهوتي،منصور بن یونس بن صلاح الدین بن حسن بن ادریس،کشاف القناع على متن الاقناع،دټوک ګڼه:۳،دپاڼي ګڼه:۵۳، دچاپ ځای:دارالکتب العلمية.

[2]- ابن حزم،ابو محمد علی بن احمد بن سعید بن حزم الظاهري،الا حکام فی اصول القران،دټوک ګڼه:۲،دپاڼي ګڼه:۲۹۳،دچاپ ځای:دارالکتب العلمية بیروت.

[3]-د المائدة د سورت ۱ آیت.

د دلالت وجه:

دالله (جل جلاله) امر وفا کولو ته متوجه دی په ټولو عقدو باندې، او هغه هم د عموم په طریقې باندې، یعني برابره ده چې د شرکتو عقدوي یا دبیع عقد او یا که نورعقود وي.[1]

۲: الله (جل وعلا) فرمايي :{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ }.[2]

ژباړه: ای هغو کسانو چی ایمان یې راوړی دی! په خپلو منځوکې خپل مالونه په نا حقه سره مه خورئ، مګر (هله یې خورئ ) چې ( ستاسومعامله) داسې تجارت وي چې ستاسو( د دواړجانبو) د رضایت په بنیادیې صورت نیولی وي.

ددلالت وجه:

دالله (عزوجل) دا قول چې (إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ) د اباحت غوښتنه کوی په ټولو هغو تجارتونو کې، چې د رضایت په بنیاد یې صورته نیولی وي، او د تجارت نوم په ټولو هغو عقودو باندی صادریږي، چې هدف او مقصد په کې د ګټې جلبول وي.[3]

داحادیثو څخه دلایل:

ماروا‌ه أبوالدرداء عن النبي (صلی الله علیه وسلم ) قال: ما أحل الله في كتابه فهو حلال وما حرم فهو حرام وما سكت عنه فهو عافية فاقبلوا من الله عافيته.[4]

ژباړه: ابودرداء (رضي الله عنه) د پیغمبر (صلی الله علیه) څخه روایت کوي، چې فرمایلي دي: څه چې الله (جل جلاله) په خپل کتاب کې حلال ګرځولي هغه حلال دي، او څه چې الله (جل جلاله) په خپل کتاب که حرام ګرځولي هغه حرام دي، او د کومو څیزو څخه سکوت شوی یعني حکم یې نده بیان شوی هغه عافیه( پوره روغتیا ) ده، نو دالله (جل جلاله) له جانبه عافیت ومني.

---

[1]- الجصاص،الامام ابي بكر احمد الرازي،احكام القرآن،دټوک ګڼه: ۳،دپاڼې ګڼه:۲۸۵.
[2]-د النساء دسورت ۲۹آیت.
[3]- الجصاص،الامام ابي بكر احمد الرازي،احكام القرآن،دټوک ګڼه: ۳،دپاڼې ګڼه:۱۲۹.
[4]- سنن دارالقطني،كتاب الزكات،باب الحث على اخراج الصدقه،دحدیث ګڼه:۱۲، د دې حدیث اسنادحسن او راویان یې ثقه دي، وګورئ: الهيثمي، علي بن أبي بكر، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، د ټوک ګڼه: ۱، د پاڼې ګڼه: ۴۱۶، د چاپ کال: ۱۴۱۲هـ، د چاپ ځای: دار الفكر، بيروت.

د دلالت وجه:

دحدیث مدلول دادی، چې کومو څیزونو ته چې الله (جل جلاله) دحلال والي اراده کړې ده، هغه یې په خپل کتاب کې حلال ګرځولي، او کومو څیزونو ته یې چې اراده د حرام والي کړې ده، هغه یې په خپل کتاب کې حرام ګرځولي دي، او دهغه څه په هکله یې چې سکوت کړی دی او حکم یې نده بیان کړي، الله (جل جلاله) دهغه نه تېرېدونکی دی او مؤ اخذه یعنی نیونه ور باندې نشته، نو له دې حدیث څخه دا جوته شوه، چې حرام والی په وحې باندې راځي نه په هوی او هوس باندې او همداراز دا څرګنده شوه چې اصل په اشیاوکې اباحت دی.[1]

روی حذیفة بن الیمان (رضی الله عنه) عن النبی (صلی الله علیه وسلم) قال: ما منعني أن أشهد بدرا إلا أني خرجت أنا وأبي حسیل قال فأخذنا کفار قریش قالوا إنکم تریدون محمدا فقلنا ما نریده ما نرید إلا المدینة فأخذوا منا عهد الله ومیثاقه لننصرفن إلی المدینة ولا نقاتل معه فأتینا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فأخبرناه الخبر فقال: انصرفا نفي لهم بعهدهم ونستعین الله علیهم.[2]

ژباړه: حذیفة بن الیمان (رضی الله عنه) د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) څخه روایت کوي، چې حذیفة بن الیمان (رضی الله عنه) وویل: دبدر دغزا څخه منع نه ګړم، خو کله چې زه او ابي حسیل (رضی الله عنه) د مکي مکرمي څخه د مسلمانانو د لښکرسره دیوځای کیدو په پار را وو وتلو، نوقریشي کافرانو را ګیر کړو، هغوی وویل: چې تا سو پیغمبر سره یوځای کیدل غواړی، مونږ ورته وویل: نه مونږ پیغمبر سر یو ځای کیدل نه غواړو، مونږ اراده نه لرو مګرمدینې منورې ته د تللو اراده، بیا یې لمونږ څخه دالله (جل جلاله) په ذات باندې کلکې ژمنه واخستې چې مد ینې منورې ته به ځي، او د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) سره په جهاد ته نه راوځي، بیا مونږ دالله (جل جلاله) استازي ته راغلو او حاضر شو، او د دې تول جریان څخه مو خبرکړ، نو نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: دواړه لاړشي کومه ژمنه موچې کړې په هغه وفا وکړی، او مونږ به د دوی په مقابل کې د الله (عزوجل) څخه مرسته وغواړو.

د دلالت وجه:

په پورتني حدیث کې د الله (جل جلاله) استازي (صلی الله علیه وسلم) دا وینا چې (دواړه لاړشي کومه ژمنه موچې کړې په هغه وفا وکړی) د ژمنی او عهد په وفا کولو باندې دلالت کوي، مګر په دې ځای کې د جهاد د پرېښودو لپاره په ژمنه باندې وفا کول واجب ندې، البته په نوموړې ژمنې وفا کولو سره د

[1]- ابوطیب،محمد شمس الحق العظیم آبادی ،عون المعبود شرح سنن ابي داود،مع شرح الحافظ شمس الدین ابن القیم الجوزي،دټوک ګڼه:۱۰،دپاڼې ګڼه:۱۹۵،دچاپ کال:۱۹۹۵م،دچاپ ځای:دارالکتب العلمیة لبنان.
[2]- صحیح مسلم،کتاب الجهاد والسیر،باب الوفا باالعهد،دحدیث ګڼه:۴۷۴۰ .

پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) موخه دا وه، چې په خلکو کې دا خبره خوره نشي چې د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ملګرې ژمنې ماتوي او ور باندې وفا نه کوي[1].

د دويم مذهب دلايل:

د دويم مذهب خاوندان استدلال کوي په ځينې دلائلو باندې، چې اصل په عقودو کې منع ده، مګر دا چې د مباحوالې دليل ور باندې قايم شې، او دوی دغه دلايل د قرآن او د احاديثو څخه وړاندې کوي، چې په لاندې توګه ورڅخه يادونه کوو:

قرآني دلايل:

(۱) {وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ}.[2]

ژباړه: او هر څوک چې د الله (جل جلاله) د حدودو څخه تجاوز وکړي، نو دغه کسان همدوی ظلم کونکي دي .

۲: {وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ}.[3]

ژباړه: او هر څوک چې الله (جل جلاله) د حدودو څخه تجاوز وکړي (او رعايت يې ونه کړي) نو هغه کس په خپل ځان باندې ظلم وکړ (چې د عذاب مستحق يې وګرځاوه).

د دلالت وجه:

په پور تنيو آيتونو کې دالله (جل جلاله) داحکامو د مخالفت څخه د تخويف يا ډارولو بيان دی، يعنې هر څوک چې دالله (جل جلاله) دحدودو او احکام مو څخه تجاوز اوسرغړونه وکړي، په حقيقت کې ده له خپل ځانه سر ظلم وګړ، خپل ځان د بدو پايلو سره په مخ کولو کې، ځکه چې دالله (جل جلاله) په آحکامو کې د ټولو انسانانو ښېګنه پر ته ده، او څوک چې دالله (جل جلاله) په احکامو کې کمی کوي، له هغه څخه به هغه ښېګنې پاتې شي کوم چې دالله (جل جلاله) په احکامو کې را نغښتي دي، نو هغه عقود او شروط چې مشروعيت نلري، دالله (جل جلاله) د حدودو څخه تجاوز او په دين کې زيادت ګڼل کېږي، څوک چې د شريعت په نامه په داسې يو امر باندې وفا کوي چې د شريعت په مصادور کې د هغه څخه يادونه

[1]- النووي،ابوذكريا محيي الدين يحي بن شرف،صحيح مسلم بشرح النووي،دټوک ګڼه:۴،دپاڼې ګڼه:۱۵۴.
[2]-د البقرة دسورت ۲۲۹ آيت.
[3]-د الطلاق دسورت ۱ آيت.

نوي شوي، داپه داسې شي باندې وفاکوي چې حرام به حلالوي او حلال به حراموي، چې داښکاره افترى او درواغ تړل دي پر الله (جل جلاله) باندي.[1]

داحادیثو څخه دلایل:

ماروته عائشة (رضی الله عنها) عن النبي (صلى الله عليه وسلم) قال: مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ مَنِ اشْتَرَطَ شَرْطًا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ فَلَيْسَ لَهُ وَإِنِ اشْتَرَطَ مِائَةَ مَرَّةٍ.[2]

ژباړه: عائشة (رضی الله عنها) روایت کوي، چې پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) و فرمایل: څه شوي دي خلکو لره چې په پېر او پلور کې داسې شرطونه ږدي، چې د الله (جل جلاله) په کتاب کې شتون نه لري، او څوک چې دا سې شرط کېږدي، چې د الله (جل جلاله) په کتاب کې نوي، نو نوموړی شرط څه معنی نه لري اگر که سل شرطونه کېږدي.

عن عائشة قالت قال: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) من عمل عملاً ليس عيه أمرنا فهو رد.[3]

ژباړه: څوک چې داسې يو کار وکړي، چې زمونږ امرورباندې نوي، هغه کار قبول نه دی.

د دلالت وجه:

په پورتني حديث کې د رد کلمه د مردود يعنې رد کړل شوي په معنا ده، نو هغه څه چې په اسلامي شريعت کې اساس و نه لري، هغه دمنلو وړ نه دي، او څه اعتبار هم نه لري،او نوموړی حديث د بدعتونو په رد باندې صراحة دلالت کوي، همدغه راز هغه ټول عقود باطل او بې اعتباره دي، چې د اسلامي شريعت سره په ټکر کې وي، مگر هغه عقود چې د اسلامي اصولو سره سم او ورباندې په شريعت کې دلايل موجود وي.[4]

د پورتنيو شواهدو په اړه بحث:

د دويم مذهب پلويانو د لومړي مذهب په دلائلو باندې اعتراض کړی دی، کوم چې قايل ول چې اصل په عقودو کې جواز او اباحت دی، تر هغه چې د منع دليل نوي قايم شوی، نو خپل اعتراض په لاندې ټکو کې څرگنده وي:

[1]- ابن عاشور،الشيخ طاهربن عاشور،التحريرو التنوير،دټوک ګڼه:۲۸،دپاڼي ګڼه:۳۵،دچاپ کال:۱۹۹۷م،دچاپ ځای،دارسحنون تونس.
[2]- صحيح البخاري،كتاب الصلات، بَابُ ذِكْرِ الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ عَلَى الْمِنْبَرِ فِي الْمَسْجِدِ،دحديث ګڼه:۴۵۶.
[3]- پورتنۍ اخيستځای ،كتاب الصلح،باب ادا اصطلحوا على صلح جور فاالصلح مردود،دحديث ګڼه:۲۵۵۰.
[4]-النووي،ابوذكريا محيي الدين يحي بن شرف،صحيح مسلم بشرح النووي،دټوک ګڼه:۴،دپاڼې ګڼه:۱۸.ابن حزم،ابو محمد على بن احمد بن سعيد بن حزم الظاهري،الا حكام فى اصول القران،دټوک ګڼه:۲،دپاڼې ګڼه:۲۹۴.

۱- کوم دلایل چې تاسو یاد کړل، ځیني یې منسوخ شوي او ځیني یې خاص شوي تر بعضو عقودو او یا مقید شوي په ځینو شرطو باندې [۱]، لکه پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) فرمايي:

لانذر في معصية الله.[۲]

ژباړه: په نذر باندې وفا نشته کله چې د الله (جل جلاله) په نافرماني کې وي.

۲- د حذیفه (رضی الله عنه) حدیث ساقط دی او همدا راز د روایتونو سند یې هم سمه نده.[۳]

۳- د لومړي مذهب دلایل زمونږ له دلایلو سره په ټکر کې دي، چې زمونږ د مذهب دلایل ټول هغه عقدونه او شرایط با طلوي چې په کتاب الله کی شتون و نه لری.[٤]

د لومړي مذهب خاوندانو د دې اعتراضونو ځواب په لاندی ډول ورکړی دی:

۱- د فسخ او خاص کېدلو ادعا باطله ده، ځکه چې د فسخ کېدلو او د تخصیص لپاره هېڅ دلیل شتون نلری.

۲- او دا دعوی چې ځینی احادیث د سندله نظره ضعیف دي، نو د ځینو احادیثو ضعف د ټولو احادیثو صحت ته کوم زیان نشي رسولی، او همدغه رنګه د حذیفه (رضی الله عنه) حدیث په صحیح مسلم کې ذکر شوی دی، چې په صحت کې هېڅ شک نشته دی.

۳- د کومې معارضې او ټکر یادونه چی تاسو وکړه، په حقیقت کې تعارض او ټکر نشته، بلکې په حدیث باندې د پوهېدو لپاره پکار ده چې مراد او مقصد د کتاب الله څخه چی په حدیث کې ذکر شوی دی پوشو، چې د الله استازي فرمایلي: من اشترطا شرطا ليس فى كتاب الله، نو ښکاره ده چې له هغه څخه یواځې قرانکریم نه دی مراد، ځکه چې ډیری شروط په کتاب الله کی شتون نه لري، بلکې ځیني شروط د نبوی سنتو څخه معلومیږي، نو دا جوته شوه چې وړاندیني حدیث کې مراد د کتاب الله څخه د الله (جل جلاله) حکم دی، ځکه چې د الله (جل جلاله) د کتاب اطلاق د الله (جل جلاله) په کلام او هم دالله (جل جلاله) په هغه حکم باندی کیږي،

چې د الله (جل جلاله) د استازي په خوله باندې صادریږي، لکه چې بل ځای کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: كتاب الله عليكم .

---

[۱]-ابن حزم،ابو محمد على بن احمد بن سعيد بن حزم الظاهري،الا حكام فى اصول القران،دټوک ګڼه:۵،دپاڼي ګڼه:۱۷.
[۲]-صحیح مسلم،کتاب النذور،باب لاوفاء لنذر في معصية،دحديث ګڼه:۴۳۳۳.
[۳]-النووي،ابوذكريا محيي الدين يحي بن شرف،صحيح مسلم بشرح النووي،دټوک ګڼه:۴،دپاڼي ګڼه:۱۸.ابن حزم،ابو محمد على بن احمد بن سعيد بن حزم الظاهري،الا حكام فى اصول القران،دټوک ګڼه:۲،دپاڼي ګڼه:۲۹۴.
[٤]-ابن حزم،ابو محمد على بن احمد بن سعيد بن حزم الظاهري،الا حكام فى اصول القران،دټوک ګڼه:۵،دپاڼي ګڼه:۱۷.

او له بلې خوا دا ښکاره ده، چې هر هغه شرط چې الله (جل جلاله) په حکم کې شتون ونه لري ، دغه شرط د الله (جل جلاله) د حکم مخالف دی، کوم شرط چې د الله (جل جلاله) د حکم مخالف وي، هغه شرط باطل دی، د بېلګې په ډول لکه چې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) حکم کړی دی، چې (ولاء) به د معتق لپاره وي، اوس نو کوم شرط چې له دی سره مخالف وي، هغه شرط مخالف د الله (جل جلاله) د حکم سره دی.

نو په دې ځای کې کله دا موندل کېږي، چې د هغو عقودو او شروطو په هکله چې د شارع له طرفه سکوت پرې شوی وي، هغه باطل حرام او د الله (جل جلاله) د حدودو څخه تجاوز وګڼل شي، او په حقیقت کې د الله (جل جلاله) د حدودو څخه تجاوز حرامول د هغه څه چې الله (جل جلاله) حلال کړي وي، یا مباح والی د هغه څه چې الله (جل جلاله) حرام کړي وي، یا اسقاط د هغه څه چې الله (جل جلاله) واجب ګرځولی وي ګڼل کېږي، بلکه د کوم ځیزو څخه چې سکوت شوی وي، هغه مباح او له هغه څخه عفوه شوې ده، او مسکوت عنه ته حرام ویل دا خپله تجاوز د الله (جل جلاله) د حدود څخه دی.

او هغه څه چې د دویم مذهب خاوندانو د استدلال لپاره بیان کړل کفایت نه کوي، چې د شرط کلمه په حدیث کې څلورو امورو لره شامل دی، حلال، حرام، وجوب او سقوط ځکه چې پنځم امر لره هم شاملیږي، چې عبارت له مباح څخه دی، الله سبحانه و تعاله په خپلو مکلفو بندګانو باندې خپل احکام متنوع ګرځولي دي، د هغو اسبابو په وسیله باندې چې همدغه الله عزوجل د هغو اسبابو مالکان جوړ کړي دي، کله مکلفین بنده ګان د داسې اسبابو سره مخامخ شي چې د الله (جل جلاله) احکام حلال وي، په داسې حال کې چې له دینه وړاندې وربانده حرام ول، او کله یې وربانده حرامه وي، چې له هغه نه وړاندې وربانده حلال وه، او کله یې هم وربانده واجبوي چې وړاندې وربانده واجب نه وو، او کله یې ورنه ساقطوي چې له دینه وراندې وربانده واجب وو، او په دې تبدیلېدو سره د الله (جل جلاله) په احکاموکې هېڅ تغییر نه راځي بلکې دا ټول د الله عزوجل احکام دي، نو همدغه الله عزوجل دی، چې حراموي، حلالول واجبول او ساقطول کوي.

له همدې کبله عقد به هېڅ کله د کتاب الله سره مخالف نه وي، پدې شرط چې عقد په هغو امورو کې منځ ته نه وي راغلی چې الله عزوجل حرام کړي وي و یعنی څوک چې داسې یو شرط کېږدي چې د الله (جل جلاله) په حکم او کتاب نوي، پرته له واسطې یا له واسطې سره، نو دا بیا باطل دی، ځکه ضروري ده چې مشروط وړاندې له شرط څخه کول یې مباح وي، ترڅو د شرط لګول وربانده سم شي، او دشرط لګولو څخه وروسته بیا واجبېږي، نو هغه وخت به شرط لګول او عقد به حرام وي،

کله چې د کتاب الله سره مخالف وي، په دې ډول چې عقد او شرط په هغو څېزو کې صورت موندلی وي چې الله (جل جلاله) حرام ګرځولي وي.[1]

غوره رأی او نظر:

د تیرو لیکلو څخه دا جوتیږي چې غوره نظر او رأی هغه د لومړي مذهب نظردی، چې اصل په عقودو کې جواز او مباح والی دی، مګر تر هغه چې د منع دلیل وربانديې قایم یا د تحریم دلیل وربانديې دلالت وکړي.

د غوره والی اسباب:

۱- د لومړي مذهب دلایل قوی دي نسبت د دویم مذهب دلایلو ته، ځکه چې دلایل یې واضح صریح او صحیح دي.

۲- د جواز قول د شرعي نصوصو سره موافق دي، هغه نصوص چې مسلمانان تجارت او سوداګرۍ او په ټولنه کې پانګونې ته هڅوی، او مؤمنان د مال د زیرمه کولو څخه منع کوی[2]،

لکه چې الله (جل جلاله) فرمایي: {هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ }.[3]

ژباړه: الله (جل جلاله) هغه اقدس ذات دی، چې ستاسو د پاره یې ځمکه ایل (تابعداره) ګرځولی ده، نو تاسو یې په اطرافو ( او لوړو ژورو کې ) لاړ شئ ( وګرځئ ) او د الله ( جل جلاله ) د ( مقررې ) کړې روزی څخه وخورئ او بیا خاص الله (جل جلاله) ته ( د ځمکې څخه ستاسو ) پورته کیدل دي ( نو تصفیه به درسره وکړي ).

او دالله (جل جلاله) دا وینا چې فرمایي: {هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا }.[4]

ژباړه: همده (جل جلاله) د ځمکې څخه پیدا کړي یاست او په همدې ځمکه کې یې اباد کړي یاست ( ښه اوږده عمرونه یې درکړي دي ).

او د الله (عزوجل ) استازي ( صلی الله علیه وسلم) په یوه حدیث کې داسي فرمایلي:

---

[1]-ابن القیم، محمدبن ابي بکر الجوزي، اعلام الموقعین عن رب العالمین،د ټوک ګڼه:۱،د پاڼې ګڼه:۴۰۷،دچاپ کال: ۱۳۸۸هـ ۱۹۶۸م،د چاپ ځای:مکتبة الکلیات الازهریة مصر القاهرة.

[2]-الکاساني، علاءالدین ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، د ټوک ګڼه:۱۳،د پاڼي ګڼه:۷۰. کراویه، یاسر بن طه علی کراویه، المعاملات المالیة المعاصرة في الفکر الاقتصادي الإسلامي،دټوک ګڼه:۱، د پاڼې ګڼه: ۷۹،

[3]- د الملک د سورت ۱۵ آیت.

[4]- د هود د سورت ۶۱ آیت.

عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده: أن النبي (صلى الله عليه وسلم ) خطب الناس فقال: ألا من ولى يتيما له مال فليتجر فيه ولا يتركه حتى تأكله الصدقة.[١]

ژباړه: د شعيب ځوی عمرو دخپل پلار او نيکه څخه روايت کوي، چې نبي كريم (صلى الله عليه وسلم ) خلکو ته د خطبې ويلو څخه وروسته وفرمايل: خبردارڅوک چې د يتيم سر پرست شي او دغه يتيم د مال خاوند وي، نو د هغه په مال کې بايد تجارت وکړئ، او مال دې ورته همداسې نه پرېږدي چې په خيراتي توګه يې وخوري.

په دی هکله ډير نصوص راغلي، چې په هغو کې د مال په کار اچولو باندې امر شوی دی، ترڅو چې ګټه يې د امت مسلمه ټولو وګړو ته ورسيږي، او له بل پلوه سوداګرۍ داسې د برکت څخه ډک کار دی، چې د اسلامي ټولنې پرمختګ او هوساينه پکې رانغښتي ده.

**ب: په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت حکم:**

د تضامينی شرکت د حکم په هکله د معاصرو علماو څخه دوه قولونه را نقل شوی دي، چې په لاندې توګه ورڅخه يادونه کوم:

لومړی قول:

د لومړی قول خاوندان په دې نظر دي، چې تضامني شرکت مباح او روا شرکت دی، البته دغه قول يې د ځينو شرطونو په شتون کې کړی دی، خو د همدې قول خاوندان پدې کې سره اختلاف لري چې د اسلامي شريعت د شرکتونو په قطار کې له کوم يوه شرکت سره تطابق لری.

د دکتورعبدالعزيز الخياط په دې آند باندې دی:

تضامني شرکت د مفاوضې له شرکت سره مطابقت لري، چې د اسلامي فقهي دشرکتونو له جملې څخه يو شرکت دی.[٢]

[١]- سنن الترمذي،كتاب الزكاة،باب زكاة مال اليتيم ،دحديث شميره:۶۴۱.د دې حديث لاندې ابوعيسى الترمذي ليکلي: (و في اسناده مقال) او ابن الملقن د دې حديث هکله داسې ليکلي: (أَن الْجُمْهُور احْتَجُّوا بِهِ) يعنې ډېری د حديثو د فن علماو وربانديې استدلال کړی دی، وګورئ: ابن الملقن، عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري، البدر المنير في تخريج الأحاديث والأثار الواقعة في الشرح الكبير، تحقيق كوونكي: مصطفى أبو الغيط و عبدالله بن سليمان وياسر بن كمال، د ټوک ګڼه:۵، د پاڼې ګڼه:۴۶۶.

[٢]-الخياط،عبدالعزيز عزت،الشركات فى الشريعة الاسلامية والقانون الوضعي، دټوک ګڼه:۱، د پاڼې ګڼه: ۱۳۵.

او د دکتور علی الخفیف په آند باندې:

تضامني شرکت د عنان او مضاربې له شرکتو سره مطابقت لري، چې د اسلامي فقهې د شرکتو له ډولو څخه دي.[١]

او د دکتور وهبة الزحيلي په آند باندې:

تضامني شرکت د اسلامي فقهې د شرکتو په قطار کې يواځې د مضاربت له شرکت سره مطابقت لري.[٢]

دويم قول:

د دويم قول خاوندان پدې نظر دي، چې تضامني شرکت مطلقا حرام دی، او د جواز هيڅ لار په کې نه موندل کيږي، د دغه قول ښه نماينده ګي استاذ تقی الدين النبهانی کوی.[٣]

د اختلاف سبب:

د معاصرو علماو تر منځ د تضامني شرکت د حکم په اړه د اختلاف بنيادي سر چينه داده، چې ايا تضامني شرکت د هغو شرکتو سره چې په اسلامی شريعت کې يې احکام بيان شوي دي، مطابقت لري او که نه يې لري، نو ځيني وايي چې مطابقت لري، او ځيني بيا وايي چې مطابقت نه لري، کومه ډله علماء چې وايي تضامني شرکت د اسلامي شرکتوسره مطابقت لري په خپل منځ کې بيا پردې اختلاف لري، چې له کوم اسلامي شرکت سره مطابقت لري، نو ځيني يې وايي چې تضامني شرکت له مفاوضې شرکت سره مطابقت لري، او ځيني وايي چې د عنان او مضاربې له دواړو شرکتو سره مطابقت لري، او ځيني وايي چې يواځې د مضاربې له شرکت سره مطابقت لري.

او هغه علماء چې د تضامني شرکت په حراموالي باندې قايل دي، هغوی وايي چې کومو شروطو لره چې تضامني شرکت شامل دی، د اسلامي فقهې د شرکتونو له شروطو سره په تضاد او مخالفت کې قرار لري.

د لومړي قول د خاوندانو دلايل:

---

[١]-الخفيف، علي الخفيف، الشرکات فی الفقه الاسلامی، دپاڼې ګڼه:١٢۴.
[٢]-الزحيلي، وهبة بن مصطفی، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه:۵،دپاڼې ګڼه:۶١٢.
[٣]-النبهاني، تقي الدين النبهاني، النظام الاقتصادي فی الاسلام، د پاڼې ګڼه:١٣٠،دچاپ کال:١۴٢۵هـ ٢٠٠۴م،دچاپ ځای:دارالامامة بيروت لبنان.

د دغه قول خاوندان د قران کريم او د احاديثو څخه د دلايلو په وړاندې کولو سره استدلال کوي، چې په لاندې توګه ورته اشاره کوم:

د قران کريم څخه دلايل:

۱- دا وينا د الله (سبحانه و تعالی) : {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ}.[١]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! په خپلو تولوعقدونو باندې وفا وکړئ (خيانت پکی مه کوئ )

د دلالت وجه:

الله (جل جلاله) مونګ ته په وفا کولو باندې امر کړی دی، په هغه څه باندې يی چې حلال يا حرام ګرځولي دي، او هغه څه يې چې فرض کړي دي، او په هغه حد باندې يې چې په ټولو ځيزو کې ټاکلي دي، يعنې وفا وکړئ د الله (جل جلاله) په عقودو باندې او همدا راز په خپلو منځو کې په عقدو او قراردادو باندې[٢]، او تضامني شرکت هم يو عقد د عقودو څخه دی.

۲: او الله (سبحانه و تعالی) فرمايي : {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ }.[٣]

ژباړه: ای هغه کسانو چی ايمان يې راوړی دی ! په خپلو منځو کې خپل مالونه په نا حقه سره مه خورئ مګر (هله يې وخورې) چې( ستاسو معامله )داسې تجارت وي چې ستاسو (د دواړو جانبو) د رضايت په بنياد يې صورت نيولی وي.

د د لالت وجه:

په پورتني آيت کې د تجارت څخه هدف په پير او پلور دی، يعنې کله چې تجارت د دواړو جانبو په خوښه او رضايت باندې وي، نو هغه تجارت به جايز وي، يا په بل عبارت الله (جل جلاله) هغه تجارت او سوداګری روا او جايزه کړې ده، چې ولاړ په رضايت باندې وي، نو همدغه راز تضامني شرکت هم بنياد او بنسټ يې ولاړ د شريکانو په رضايت باندې دی.[٤]

[١]- د المائدة د سورت ١ آيت.
[٢]-القرطبي، أبوعبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرج الأنصاري الخزرجي، الجامع لأحكام القرآن،دټوک ګڼه:۶،دپاڼی ګڼه:۱۶۳۸.
[٣]-د النساء دسورت ٢٩ آيت.
[٤]- ابن عاشور ،الشيخ الطاهر بن عاشور، التحرير والتنوير، د ټوک ګڼه:۲۴، پاڼې ګڼه :   .

داحاديثو څخه دلایل:

(۱) عن عَبْدِ اللَّهِ الْمُزَنِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (صلی الله علیه وسلم) : الْمُسْلِمُونَ عِنْدَ شُرُوطِهِمْ إِلاَّ شَرْطًا حَرَّمَ حَلاَلاً أَوْ شَرْطًا أَحَلَّ حَرَامًا.[۱]

ژباړه: عبدالله المزني د خپل پلار او نیکه څخه روایت کوي چې رسول الله (صی الله علیه وسلم) و فرمایل: مسلمانان د خپلو شرطونو پابند دي، پرته له هغه شرط څخه چې حلال حرام کړي او یا داسې شرط چې حرام حلال کړي.

د دلالت وجه:

هغه شروط چې مسلمانان يې پرځان لازمه وي، که چیرې نوموړي شروط د الله (جل جلاله) له کتاب او پیغمبر (صلی الله علیه وسلم ) د سنتو سره برابر وي، نو وفاکول وربانديې ضروري دي، او که چیرې باطل او د حق سره په ټکر کې وي، بیا دغه شروط بې اعتباره او بې ارزښته ګڼل کیږي.[۲]

په دې هکله الخفیف داسې وایي:

تضامني شرکت او قواعد يې د اسلامي فقهي د شرکتونو لکه: دعنان شرکت، د مضاربې شرکت او د مفاوضې شرکت له قواعد و سره موافق دی، او هغه اضافی قواعد د تضامني په شرکت کې یواځې د معاملې د تنظیمولو لپاره دي، نو د تضامني شرکت مشروعیت د پوښتنی لاندی نه راولي، مګر داچې د شرعي نصوصو سره په مخالفت کې واقع وي، نو که چیرې په تضامني شرکت کې ټول شریکان د شرکت په کار کې ګډون کوي، بیا تضامني شرکت د عنان له شرکت سره موافق دی، او که په تضامني شرکت کې کار یو کس کوی، بیا تضامني شرکت د مضاربت له شرکت سره موافق دی .[۳]

په دې اړه الزحیلی داسې لیکي:

په تضامني شرکت کې یو اصل چې د ( تضامني مسئولیت) څخه عبارت دی، تضامني شرکت په نوموړي اصل سره ځان د مفاوضې شرکت ته نږدې کوي، البته د شریکانو په منځ کې برابر والې آسان نه بلکې سخت کار دی، ځکه چې امکان لري د شریکانو په مال کې زیاتوالی راشي ، کوم چې

[۱]- البیهقي، احمد بن حسین بن علي بن موسی ابوبکر، السنن الکبری للبیهقي، کتاب الشرکة، باب الشروط فی الشرکة و غیرها، د حدیث شمیره : ۱۱۷۶۲. دا حدیث حسن صحیح دی، وګورئ: الترمذي، محمد بن عیسی، الجامع الصحیح سنن الترمذي، د ټوک ګڼه:۳، د پاڼې ګڼه:۶۳۴، د حدیث ګڼه:۱۳۵۲، دار احیاء التراث العربي، بیروت.
[۲]- العباد، عبدالمحسن بن حمد بن عبدالمحسن بن عبدالله، شرح سنن ابوداود، د ټوک ګڼه : ۱، د پانی ګڼه : ۲.
[۳]- الخفیف،علي الخفیف،الشرکات فی الفقه الاسلامی،دپاڼې ګڼه:۱۲۴.

دا شرکت نادر الوجود یا لنډ مهاله او غیر پایښت والی په کې پیدا کوي، او دغه زیاتوالی په چټکۍ سره بیا نوموړی شرکت په عنان شرکت باندې بدلوي.[1]

د دویم قول دلایل:

د دویم قول خاوندان وایي چې تضامني شرکت جائز شرکت نه بلکې فاسد شرکت دی، ځکه چې دا شرکت هغو شرائطو لره شامل دی، کوم چې د اسلامي فقهي د شرکتونو له شرائطو سره په ټکر کې دي، چې دغه شرطو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

لومړی شرط:

تضامني شرکت د سودا کری د پراخولو یا د نوي شریکانو اضافه کولو ته اجازه نه ور کوي او دا د اسلامي فقه سره څرګنده ټکر دی.

په دې شرط باندې اعتراض:

تضامني شرکت د شریک اضافه کولو ته اجازه ورکوي لکه چې د تضامني شرکتونو قانون په دې هکله صراحت کوي: که چېرې په تضامني شرکت کې له ثبت او اعلان وروسته په عنوان ، استوګنځي، موضوع یا د لاسلیک په واک لرونکو شریکانو کې بدلونونه را منځته شي یا ځینې شریکان له شرکت څخه ووزي یا ځینې شریکان په کې شامل شي یا د شرکت پانګه زیاته یا کمه شي یا د ټاکلې مودې تېرېدو دمخه شرکت منحل یا له تېرېدو وروسته تمدید شي یا له بل شرکت سره ملحق شي، د دې خصوصیاتو په هکله د شرکت لخوا هغه ژمنلیک چې دټولو شریکانو لاسلیک په کې شوی وي، ترتیبیږي. دغه ژمنلیک په اړونده دفتر کې ثبتیږي او نور بدلونونه هم پکې ثبتېدی شي.[2]

دویم شرط:

تضامني شرکت د یوه شریک په مړینه پای ته رسیږی، او په اسلامی فقه کې شرکت د یوه شریک په مړینه یا حجر باندې نه منحل کیږي، بلکې یوائې شرکت فسخ کیږی، او د پاتې شریکانو شراکت او ګډون په خپل ځای پاتې کیږي.

[1]- الزحیلي، وهبة بن مصطفی ، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ۵ ، دپاڼې ګڼه: ۶۱۲.
[2]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۶۳ ماده.

پر دې شرط باندې اعتراض:

لومړی دا چې تضامنی شرکت د شریک په مړینې سره پای ته نه رسیږي، ځکه چې شریکان کولای شي د شرکت په عقد کې موافقه و کړی، چې شرکت له شریکانو څخه د یوه شریک د مړینې یا د محکمې لخوا د حکم صادرېدل د شریک په حجر یا افلاس باندې، شرکت منحل نه نشي، د شرکت فعالیت له نورو پاتې شریکانو سره دوام ومومي.[1]

دویم داچې ځینې فقهاء د شریک په مرګ او داسې نورو باندې د شرکت ختمولو باندې قول کړی دی لکه چې شېرازي (رحمه الله) فرمایلي که یو شریک یا دواړه مړه شي، شرکت فسخ کیږي، ځکه چې دا یو روا تړون دی، او همدا راز د امانت په څېر په مرګ سره هم باطلیږي[2].

دریم شرط:

په تضامني شرکت کې شریک د شرکت د پورونو مسئول دی، حتی په خپل شخصی پیسو کې هم، او په اسلامی فقه کې شریک په شرکت کې په شخصي ډول مسئولیت نه لري، پر ته له دې چې په شرکت کې د هغه د ونډې د پیسو په تناسب مسئولیت لري، څرنګه چې تضامني شرکت د دغو شرطونو سره په ټکر کې دی، نو یو فاسد شرکت بلل کیږي .

پر دې شرط باندې اعتراض:

دغه اصل د اسلامی شریعت له احکامو سره سمون لري، هغه دا چې د بند ګانو حقوق اداء کول پر انسانانو باندې لازم او فرض دي، او تر هغه وخته پورې یې غاړه نه خلاصیږي،

تر څو چې یې دین نوي اداکړی، او همدا راز د مسئولیت هم پرته له ادا کولو څخه پای ته نه رسیږي[3].

غوره رأی او نظر:

تر ټولو صحیح نظر لومړی نظر دی، چې د تضامني شرکت په جواز باندې قایل دي، دا ځکه چې تضامني شرکت په اسلامی فقه کې د څو شرکتو څخه مرکب شوی دی، نو د تضامني شرکت حقیقت معلومولو د پاره، د اسلامی فقهي د شرکتونو په قواعدو باندې پوهېدو ته اړتیا ده، چې تضامني شرکت

---

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۵۱ ماده.
[2]- شیرازی، أبی اسحاق ابراهیم بن علی بن یوسف ، المهذب فی فقه الامام شافعی ، د ټوک ګڼه : ۲، د پاڼې ګڼه : ۱۶۰ ، لومړی چاپ ، د چاپ کال : ۱۴۱۶هـ ۱۹۹۵م ، دچاپ ځای : دارالکتب العلمیة بیروت لبنان.
[3]الفواز،مجلة دراسات،علوم الشریعة والقانون،التکییف الفقهي لشرکة التضامن،دټوک ګڼه:۳۴، دپاڼې ګڼه:۷۳، ګڼه:۱، دچاپ کال: ۲۰۰۷م

کومو شرکتو ته ور ته والی لري، د بیلګی په ډول د عنان له شرکت سره یا د مفاوضې له شرکت سره یا د مضاربې له شرکت سره تر څو د ترجیح وجه او دلیل ورته څرګند شي، په ټوله کې دا ویلی شو چې تضامني شرکت جائز او روا شرکت دی.

## دويم مطلب: د تضامني شرکت فقهي مطابقت:

دتېر مطلب د څېړني په پایله کې د هغه قول ترجیح څرګنده شوه، چې د تضامني شرکت په جواز باندې قایل وو، او د تضامني شرکت د اسلامي فقهې له ځینو شرکتونو سره تطابق ممکن دی، د دې لپاره چې د ترجیح دلیل روښانه شي، نو داسلامي فقهې دشرکتونو احکام په جلا جلا توګه پېژندل ضروري دي، چې په لاندې ډول دهر شرکت څېړنه وړاندې کوم:

**الف: د تضامني شرکت مطابقت د اسلامي فقهې دعنان له شرکت سره:**

د عنان شرکت تعریف او پیژند نه چې د شرکتونو ډولونو د څیړنې تر عنوان لاندې په تفصیل سره ذکر شوې چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه وینو او همغه باندې اکتفا کوم.

د عنان شرکت حکم په اسلامی فقه کې:

د عنان شرکت مشروعیت په اسلامي فقه کې په داسې د لائلو باندې ثابت دی، چې په توله کې دلالت کوي د عنان شرکت په جواز باندې، که قرآن کریم دی او که احادیث نبویه دي، او آن داچې دعنان شرکت په مشروعیت باندې د فقهاو اجماع هم منعقده شوې ده.[1]

د عنان د شرکت شرطونه:

د عنان د شرکت شرطونه په دوه ډوله باندې و بشل کېږي، یو عام شرطونه او بل خاص شرطونه، چې دواړه ډوله شرطونه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوم:

۱- د عنان شرکت عام شرطونه:

الف ـ شریک باید د وکالت اهلیت ولرې، ځکه چې شرکت که په هره بڼه وي، ټول شریکان یو د بل څخه د شرکت په چارو کی وکیل وي.

ب ـ باید د شرکت د ګټې اندازه ټاکلې وي، که چېرې د ګټې اندازه او مقدار معلوم نه وي، نو په دې سره شرکت فاسدیږي ځکه چې ګټه معقود علیه ده او د معقود علیه جهالت فساد پیدا کوي.

ج ـ د شرکت ګټه باید جزء شائع یعنی عامه وي، او یو مشخص عدد نه وي، که چېرې د یوه شریک ګټه لس افغانی یا سل افغانی وټاکل شي، شرکت فاسدیږي، ځکه د شرکت عقد د ګټې د زیاتوالي

---

[1]- ابن المنذر، محمد بن ابراهیم بن المنذر، الاجماع، تحقیق کونکی : فؤاد عبد النعیم احمد ، د ټوک ګڼه : ۱، د پاڼې ګڼه : ۲۵ ، لومړی چاپ ، دچاپ کال : ۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م ، د چاپ ځای : دارالمسلم .

لپاره وي، او کله چې ګټه معلوم او ټاکلې څېز يا شی وي، نو د شرکت دعقد موخه تحقق نه مونده کوي[1].

۲- دعنان شرکت خاص شرطونه:

۱- پکار ده چې د شرکت پانګه قرض نوي بايد موجود څېز يا شی وي، ځکه چې د پور اداء کولو څخه اطمنان نوي.

۲- د شرکت پانګه بايد مطلق ثمن وي لکه دراهم او د نانير، ځکه چې شرکت په اعراضو کې سم ندی.

۳- په شرکت کې د پانګونې په کارولو کې بايد ټول شريکان ونډه واخلي، ځکه چې ټول شريکان په پانګونه کې د برخې لرونکي دي.[2]

**ب: د تضامني شرکت مطابقت د اسلامي فقهي د مفاوضې له شرکت سره:**

د مفاوضې د شرکت پېژندنه د شرکتونو د ډولونو په بحث کې شوې ده، نو بيا ليکلوته يې اړتيا نه وينم، يواځې د نومو‌ړي شرکت د شرطونو په بيانولو باندې پيل کوم:

د مفاوضې د شرکت شرطونه:

احنافو حضراتو د خپل مذهب موافق د مفاوضې شرکت لپاره لاندې شرطونه بيان کړي:

۱- چې په شريک کې د وکالت او کفالت اهليت وي، لکه شريک بايد حر، بالغ، عاقل او رشيدوي.

۲- د شرکت په پانګونه کې ټول شريکان يو برابر برخه و لري، د قدر او قيمت په اعتبار

۳- ټول شريکان د شرکت په ګټه کې بايد سره يو برابر وي.[3]

۴- شرکت بايد تر يوه ډول تجارت او سوداګرۍ پورې ځانګړی نوی، بلکې د ټولو ډولو تجارت ته پکې اجازه وي.[4]

او جمهورو فقهاء کرام د مفاوضې د شرکت دشريکانو لپاره په پانګې او ګټه کې برابر والی نه دی شرط کړی، او همدا رنګه د سوداګرۍ ټولو ډولو ته شاملېدل هم نه دي شرط کړي، البته د دوی په

[1]- الکاساني، علاءالدين ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۱۳، د پاڼي ګڼه: ۷۸.
[2]- پورتنی اخيستځای ، د پاڼي ګڼه: ۷۹.
[3]- السرخسي، محمد بن احمد بن ابی سهيل، المبسوط، د ټوک ګڼه: ۱۱، د پاڼي ګڼه: ۲۸۰.
[4]- الکاساني، علاءالدين ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۱۳، د پاڼي ګڼه: ۸۶.

نزد باندې د مفاوضې او د عنان د شرکتو ترمنځ توپیر دا دی، چې د مفاوضې په شرکت کې هر یو د دواړو شرکینو څخه کولی شي چې په شرکت کې تصرف وکړي، او د بل شریک اجازې او موافقې ته پکې اړتیا نشته، او دعنان په شرکت کې تصرف کول پرته له اجازې او موافقې څخه روا نه دی.[۱]

په اسلامی فقه کې د مفاوضې د شرکت حکم:

د مفاوضې د شرکت په حکم کې د فقهاو په منځ کې اختلاف دی، څرنګه چې د مفاوضې د شرکت په تعریف او شرطو کې سره اختلاف در لوده، نو کومو فقهاو چې د مفاوضې د شرکت په داسې ډول تعریف کړی دی، چې په هیڅ ډول غرر ته نه شاملیږي، نو دغه ډله فقهاء قائل په جواز د مفاوضې د شرکت باندې دي، او کومو فقهاء و چې د مفاوضې شرکت په داسې ډول تعریف کړی دی، چې یو ډول نه یو ډول غرر ته شاملیږي، نو دوی حکم په منع او حراموالي د مفاوضې د شرکت کړی دی، نو د مفاوضې د شرکت د حکم په اړه فقهاء کرام په دوه ډلو باندې ویشل شوي دي، چې ګرانو لوستونکو ته د دواړو ډلو اقوال له دلائلو سره وړاندې کوم:

د جمهورو فقهاء کرامو قول او دلائل:

جمهور فقهاء کرام د مفاوضې د شرکت په عدم جواز باندې قائل دي، ځکه چې دوی وایي چې نوموړی شرکت وکالت او کفالت مجهوله (نا معلوم) لره شامل دی، او دغه راز وکالت او کفالت د غرر بیع ده، او دغه رنګه بیع ممنوع ده.[۲]

او دوی استدلال کوي په لاندېني حدیث شریف باندې:

عن ابي هريرة (رضی الله عنه) قال: نهى رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) عن بَيْعِ الْحَصَاةِ وَعَنَ بَيْعِ الْغَرَر.[۳]

ژباړه: ابو هریرة (رضی الله عنه ) روایت کوي: چې رسول الله ( صلی علیه وسلم ) منع کړې ده، د حصاة (د کاڼي په اچولو سره بیعه تاکل ) او د غرر له پېرلو او پېردلو څخه.

د حنفی فقهاء کرامو قول او دلائل یې: حنفی فقهاء وایې چې د مفاوضې شرکت جائز دی، خو جواز یې استحساناً دی، او د قیاس له مخې نوموړی شرکت ته جائز نشو ویلای.

[۱]- ابن رشد، ابو الولید محمد بن احمد بن محمد، بداية المجتهد ونهاية المقتصد، دټوک ګڼه : ۱ ، دپاڼې ګڼه : ۶۰۲. النووي، ابو ذکریا محی الدین یحي بن شرف، روضة الطالبين وعمدة المفتين، دټوک ګڼه : ۳، دپاڼې ګڼه: ۵۱۳. ابن قدامة، ابی محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنی لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۵، د پاڼې ګڼه: ۱۳۸.
[۲]- ابن رشد، ابو الولید محمد بن احمد بن محمد، بداية المجتهد ونهاية المقتصد، دټوک ګڼه : ۱، دپاڼې ګڼه : ۶۰۲. النووي، ابو ذکریا محی الدین یحی بن شرف، مغنی المحتاج شرح المهذب، د ټوک ګڼه: ۲، دپاڼې ګڼه: ۲۱۲. ابن قدامة، ابی محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنی لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۵، د پاڼې ګڼه: ۲۲.
[۳]- صحیح مسلم ، کتاب البیوع ، باب بطلان بیع الحصاة ، دټوک ګڼه: ۵، دپاڼې ګڼه: ۵۷، دحدیث ګڼه : ۳۸۸۱

د قیاس وجه:

چې د مفاوضې شرکت د مجهول الجنس څیز و کالت لره شامل دی، یعنې د مفاوضې د شرکت د عقد پروخت یو شریک بل شریک لره وکیل ګرځوي، حال داچې مبیعه معلومه نوي، او دا هم څرګنده نوي چې له چا سره بیع کوي، ځکه چې دا ټول وروسته منځ ته راځي، او د مفاوضې په شرکت کې یو شریک دبل شریک ضامن وي، که چیرې و کالت یا کفالت چې بیل بیل ورته نظر وکړې، په هغه صورت کې چې مو کول فیه یا مکفول فیه پکې معلوم نوي، نو نوموړی عقد فاسد دی، او په هغه صورت کې چې وکالت او کفالت یو ځای شي په طریقه اولی سره فاسده بیع ده، نو د قیاس او عقل په بنیاد د مفاوضې شرکت سم ندی.

د استحسان وجه:

لوموړی داچې د الله (جل جلاله) استازې (صلى الله عليه وسلم) فرمایلي: فَاوِضُوْ فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ.[1]

ژباړه: د مفاوضې عقد تر سره کړئ ، ځکه چې په دې عقد کې ډیر برکت دی.

دویم دا چې دغه رنګې عقد کول د خلکو په منځ کې معمول دی، او پرته د چا له انکار څخه یې سرته رسوي، او د خلکو په دغه رنګه تعامل باندې قیاس متروک دی، ځکه چې د خلکو تعامل د اجماع حیثیت لري.[2]

او داچې د مفاوضې په شرکت کې توکیل او تکفیل څرنګه د مجهول څیز منځ ته راځي؟

ځواب یې دا دی چې دې دغه رنګه جهالت تحمل کېدای شي تبعاً ځکه چې ډیری وخت یو څیز ضمناً او تبعاً ثابت وي مګر قصداً او اصالة ثابت نه وي، لکه د مضاربت عقد چې د مضاربت په ترون کې عقد واقع کیږي په یوه مجهول څیز باندې، دا ځکه چې د عقد په اول کې معلوم نوي چې کوم څیز اخلی یا یې خر څوي، بیا ورسته یې معلومات وشي، نو څرنګه چې د مضاربت په عقد کې لږ جهالت د تحمل وړدی، همدارنګه د مفاوضې په عقد کې هم تحمل کیدای شي[3].

[1]-العسقلاني ، أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني ، الدراية في تخريج أحاديث الهداية، تحقيق کونکی : السيد عبد الله هاشم اليماني المدني ،دټوک ګڼه : ۲، د پاڼې ګڼه : ۱۴۴.
[2]-المرغياني، أبي الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغياني،الهداية شرح بداية المبتدي،دټوک ګڼه:۳،دپاڼې ګڼه:۴، دچاپ ځای:مکتبة الاسلامية.
[3]- پورتنی اخیستځای.

**ج: د تضامني شرکت مطابقت د اسلامي فقهي د مضاربت له شرکت سره:**

د همدې څېړنې په لومړي فصل د اسلامي فقهي دشرکتونو د ډولونو په بيان کې د مضاربت د شرکت تعريف او پېژندنه شوې، چې په همغه باندې اکتفا کوو او بيا تکرارولوته اړتيا نه وينو.

په اسلامي فقه کې د مضاربت د شرکت حکم:

په اتفاق دې ټولو فقهاء کرامو سره د مضاربت شرکت روا او جائز شرکت دی، او دوی د مضاربت د شرکت د جواز لپاره استدلال کړی دی په ګڼ شمېر دلائلو باندې، د کتاب الله څخه نيولې بيا سنت د رسول الله او همدارنګه اجماع د امت او آن تر عقلي دلائلو پورې [1]، چې ګرانو لوستونکو ته يې په لاندې ډول روښانه کوو:

د کتاب الله څخه دلائل:

(۱) الله (جل جلاله) فرمايي: {وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ }.[2]

ژباړه: او ځيني نور به مو په ځمکه کې په داسې حال کې سفرونه کوي چې د الله (جل جلاله) د لوی فضل څخه څه برخه ولټوي (او حلال مال حاصل کيږي).

(۲) الله (جل جلاله) فرمايي: {لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ}. [3]

ژباړه : په تاسو باندې (د حج په موسم کې) څه باک نشته چې د خپل رب (جل جلاله) د فضل (حلال مال) څخه ولټوئ (او تجارت وکړئ).

د دلالت وجه:

نو د ذکو شويو آيتونو څخه څرګندېږي، چې الله (جل جلاله) حلال کسب کار روا کړی دی، که د مال

ياد ګټي په را کړې ور کړې سره وي يا د منافعو په تبادلې سره وي.[4]

د احاديثو څخه دلائل:

(۱)عن صهيب (رضی الله عنه) قال: قال رسول الله (صلی الله عليه وسلم) : ثلاث فيهنَّ البركة البيع الى أجلٍ

---

[1]-الکاساني، علاءالدين ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۱۳، د پاڼي ګڼه: ۱۵۰. ابن رشد، ابو الوليد محمد بن احمد بن محمد، بداية المجتهد ونهاية المقتصد، دټوک ګڼه : ۳ ، دپاڼې ګڼه :۹.ابن قدامة، ابی محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنی لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼي ګڼه: ۱۵۰.الشربيني، شمس الدين محمد بن احمد،مغنی المحتاج الی معرفة الفاظ المنهاج، دټوک ګڼه: ۹،د پاڼي ګڼه: ۲۵۹.الخفيف،علی الخفيف، شرکات فی الفقه الاسلامی، دپاڼی ګڼه ۷.

[2]-د المزمل د سورت ۲۰ آيت.

[3]-د البقرة د سورت ۱۹۸ آيت.

[4]-الجصاص، الامام أبی بکر احمد الرازي، احکام القران، دټوک ګڼه: ۲، د پاڼي ګڼه: ۱۷۴.

و المقارضة و اَخْلَاطُ البُرّ بالشعير للبيت لا للبيع.[1]

ژباړه: له صهيب (رضی الله عنه ) څخه روایت دی، چې د الله (جل جلاله) استازي (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دي: په درې شیانو کې برکت دی، اخستل او خرڅول تر نیټې پورې، او د مضاربت په عقد کې، او د غنمو او اوربشو یو ځای کول د کور لپاره نه خرڅون لپاره.

۲ـ عن عروة بن الزبير و عن غيره (رضی الله عنهم) أن حكيم بن حزام (رضی الله عنه)صاحب رسول الله (صلی الله علیه وسلم) كان يشترط على الرجل إذا أعطاه مالاً مقارضة يضرب له به ان لا تجعل مالي فی كبد رطبة، ولا تحمله فی بحر، ولا تنزل به فی بطن مسيل، فان فعلت شيأ من ذلك، فقد ضَمَنْتَ مالي.[2]

ژباړه: د زبیر زوی عروة او نورو څخه روایت دی(رضی الله عنهم) ، چې حکیم بن حزام(رضی الله عنه) به په هغه کس باندې شرط ایښوده چې هغه ته به یې مال په مضاربت ورکاوه، چې د حیواناتو تجارت به نکوي، ځما مال به په سمندر یعنی کښتۍ کې او د سیلاب د راتلو په لارو کې نه لیږدوي، که له دې کړنو څخه هر یو د سرته ورساوه، نو ځما دمال ضامن به یې.

همدغه راز پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په داسې وخت کې مبعوث شو چې خلکو به د مضاربت د شرکت عقد تر سره کولو، او پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ورباندې انکار نه دی کړی، نو دا په خپله د سنت یو قسم دی، چې تقریري سنت بلل کیږي.

[1]-سنن ابن ماجة،كتاب التجارات،باب الشركة والمضاربة،دحديث ګڼه:۲۲۸۹، دا حديث غريب دی، وګورئ: الزيلعي، عبد الله بن يوسف بن محمد، نصب الراية لأحاديث الهداية مع حاشيته بغية الألمعي في تخريج الزيلعي، المحقق: محمد عوامة، دټوک ګڼه: ۳، د پاڼې ګڼه: ۴۷۵، دچاپ کال: ۱۴۱۸هـ ۱۹۹۷م، د چاپ ځای: مؤسسة الريان، بيروت ـلبنان.

[2]- سنن بيهقي، كتاب القراض، باب المضارب يخالف بمافيه زيادة لصاحبه ومن تجرفی مال غيره بغير امره ، حديث ګڼه : ۱۱۹۴۵، دغه حديث د قوي سند خاوند دی، وګورئ: ابن حجر، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد العسقلاني، التلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير، تحقيق: حسن عباس قطب، د پاڼې ګڼه: ۱۲۹، د ټوک ګڼه: ۳، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۱۶هـ ۱۹۹۵م، د چاپ ځای: مؤسسة القرطبة.

د اسلامي امت اجماع:

د ټولوعلماو په اتفاق باندې د مضاربت شرکت جائز دی، او په دې باندې اجماع شوې ده، ځکه چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په زمانه او عصر کې نوموړی دشرکت عقد موجود وو، او په خپل حال باندې يې پرېښی وو.

عقلی دلیل:

ډېری وخت داسې راځي چې يو کس مال لري، خو په کار او بار کې مهارت بيا نلري، يا دا چې په سودا ګری کې ښه مهارت لري خو د مال څه درک ورسره نوي، نو دغه کم زوري او کمی د مضاربت په شرکت سره پوره کېږي، او يوځای کېدل د هغه کسانو چې په سوداګری کې مهارت لري، د هغه کسانو سره چې د مال در لو دونکي دي، يو ډول د خلکوترمنځ تعاون او مرسته هم منځ ته راځي، ځکه چې د مال څښتن ته د مال ګټه او مضارب ته اجرت لاسته ورځي، نو د مضاربت شرکت ته د خلکو اړ تیاده، او په اسلامي شريعت عقود د خلکو د مصلحتونو به بنياد جائز او روا ګرځولي شوی دي.[1]

**د: د تضامني شرکت د جواز ترجيح:**

څرنګه چې له وړاندېني بحث څخه د ګرانو لوستونکو ذهن يوڅه د اسلامي فقهې په شرکتو باندې خلاص شو، نو اوس دا بيانول غواړو چې د تضامني شرکت روا او که ناروا يا غير جائزشرکت دی، راجح او غوره داده، چې نوموړی شرکت روا او جائز دی، ځکه چې تضامني شرکت د اسلامي فقهې له شرکتونه سره لکه د عنان شرکت، د مفاوضې شرکت او د مضاربت له شرکتو سره ورته والی لري، چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

۱- : تضامني شرکت د مفاوضې له شرکت سره مشابهت لري، پدې کې چې په شرکت هريو شريک د بل شريک څخه ضامن اوکفيل وي، البته په هغه څيزو او شيانو کې چې شرکت پورې اړه نيسي[2].

۲- : تضامني شرکت د عنان له شرکت سره هم مشابه او ورته والی لري، په دې توګه چې د شريکانو د موافقې سره سم د ګټې وېشل، اګر که کوم شريک ته په يوه ځانګړي کار کې د مهارت له لکبله له نورو شريکانو څخه ګټه زياتهورکړل شي، سره د دې چې رأس المال کې ټول سره

---

[1]-الزحيلي، وهبة بن مصطفی ، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه:۵، دپاڼې ګڼه: ۵۷۰.

[2]-الموسی، محمدبن ابراهيم بن عبدالله، شرکات الاشخاص بين الشريعة والقانون، دپاڼې ګڼه : ۲۹۰ دچاپ کال: ۱۹۹۵م، دچاپ ځای: دارالکتب الجامعية بيروت.

برابروي، او پاتي شوه خساره او تاوان دا به د رأس المال په اندازه ویشل کیږي، او بله داچې اصل په عقدو کې د جانبینو رضاء ده، او د تضامني شرکت عقد د شریکانو په رضایت باندې ولاړ دی، نو د تضامني شرکت په ټولو شرط باندی وفاکول لازم دي، خو تر څوچې د شریعت د نصوص سره په ټکر کې نوي.[1]

۳- : تضامني شرکت د مضاربت له شرکت سره مشابهت لري، هغه هم دعمل او کار کولو له ناحیې څخه، په دې توګه کله چې یو شریک یا ځینې شریکان په شرکت کې کار کوي پرته له نورو شریکانو څخه نو د کار کونکو شریکانو کار د نورو شریکانو په مال کې د مضاربت حیثیت لري.[2]

---

[1]- الخفيف،على الخفيف، شركات فى الفقه الاسلامى، دپانې ګڼه ۱۲۴.
[2]- الزحيلي، وهبة بن مصطفى ، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه:۵، دپانې ګڼه: ۶۱۲.

## دویم مبحث:

## په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت د اداري احکام.

او دغه مبحث درې مطلبونو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په اسلامی شریعت ګې د مدېر اجرت اخستل.

دو یم مطلب: د تضامني شرکت مسئولیت د مدېر د چارو پر وړاندي.

دریم مطلب: د مدیر مسئولیت د شرکت پر وړاندي.

### لومړی مطلب:

په اسلامي شریعت کې د مدېر اجرت اخستل.

الف: دمدیر اجرت د قانون له نظره.

ب: د مدیر اجرت د اسلام له نظره.

### دویم مطلب:

د مدیر د چاروڅخه د شرکت مسؤلیت.

الف: د شرکتونو په قانون کې د مدیر کړنې.

ب: په اسلامي فقه کې  دشریک تصرف کول دشرکت په مال کې.

### دریم مطلب:

د مدیر مسؤلیت دشرکت په وړاندې.

الف: د شرکت او شریکانو په وړاندې د مدیر مسؤلیت.

ب: د نورو په وړاندې د مدیر مسؤلیت.

## لومړی مطلب: په اسلامي شریعت کې د مدیر اجرت اخستل:

تضامني شرکت د تأسیس څخه وروسة خپل ځانته قانوني شخصیت غوره کوي، او د شرکت دغه شخصیت خپلواک وي، د هغه شریکانو د شخصیت په نسبت چې شرکت یې جور کړی دی، البته نوموړی قانوني شخصیت نشي کولی چې پرته له طبیعي شخصیت څخه خپلې چارې سمبالې کړي، لکه چې له تېر بحث څخه جوته شوه، چې د شرکت لپاره د مدیر ټاکل ضروري دي، تر څو د قضاء او د ټولو خلکو پر وړاندې د شرکت د چارو مسؤلیت پر غاړه و لري، او دا په هغه وخت کې چې په شرکت کې د شریکانو شمېر زیات وي، او ټول شریکان په یو وخت کې نشي کولای چې د شرکت چارې سمبالې کړي، او که چېرې د شرکت ټول شریکان دوه یا درې کسان وي، بیا نو ممکن دی چې یو یې یا ټول د شرکت چارې پرمخ یو سي.

**الف: دمدیر اجرت د قانون له نظره:**

د شرکت لپاره مدیر په دوه ټگلا رو سره ټاکل کېدای شي، لومړی ټگلاره د اده، چې د شرکت له شریکانو څخه یو کس د مدیر په توګه وټاکل شي، دویمه ټگلاره داده، چې پرته د شرکت له شریکانو څخه یو بهرنی کس د مدیر په توګه وګمارل شي، که مدیر په لومړی ټگلارې باندې ټاکل شوی وي، نو بیا مدیر نشي کولای چې د اجرت غوښتنه وکړي، پرته د شریکانو له اتفاق څخه، یعنی که چېرې شریکانو په اتفاق سره څه اجرت ورته وټاکي بیايې مدیر اخستلی شي، او که مدیر په دویمه ټگلا ره ګمارل شوی وي، بیا نو مدیر اجرت اخستی شي، هغه اجرت چې تعین یې د مدیر د ټاکلو په ترون کې په اتفاق د شریکانو سره شوی وي، او که په ترون کې د مدیر د اجرت یادونه نوي شوی، او یا د شرکت د شریکانو او د مدیر تر منځ د اجرت په سر اختلاف راغلی وي، نو د فیصلې لپاره به قضاء ته مراجعه کوي.[1]

**ب: د مدیر اجرت د اسلام له نظره:**

د اسلامي شریعت فقهاء کرام د مدیر د اجرت په هکله په هغه صورت کې چې مدیر د شریکان له ډلې څخه وي، د نظر اختلاف لري، نو ځینې فقهاء په جواز د اجرت اخستو باندې قول کړی دی، او ځینې فقهاء په عدم اجرت اخستو باندې قول کړی دی، نو د فقهاو اقوال د معاصرینو علماو له نظر سره په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

[1]- الشرقاوي، محمود سمیرالشرقاوی، القانون التجاري، دټوک ګڼه: ۱، د پاڼي ګڼه: ۲۴۳.

د مدیر د اجرت په هکله د فقهاو اقوال:

لومړۍ ډله فقهاء: لکه احناف او حنابله، د دوی په قول که مدیر د شرکت د شریکانو څخه وي ، نو مدیر اجرت اخستلی شي، او دا اجرت هم د خپل کار او مهارت یا د مسلکي والی په بدل کې اخلي، او همدا رنګه دوی وايي: څرنګه چې یو کس د ګټی مستحق په مال سره ګرځي، همدغه شان د کار په بدل سره هم د ګټې مستحق کیدای شي.[١]

دویمه ډله فقهاء: لکه مالکیان او شوافع، د دوی په قول هغه مدیر ته چې د شرکت د شریکانو څخه ټاکل شوی وي، دغه مدیر ته اجرت اخیستل جائز ندي، ځکه چې د دوی په نزد باندې ګټه د مال تابع وي، او همدا ګټه دمال د نِماء او زیا توالي څخه عبارت دی.[٢]

که چېرې مدېر د شرکت د شریکانو څخه بهر بل څوک وي، نو بیا د ټولو فقهاو په اتفاق مدیر ته د اجرت اخیستل جائز دي، پدې صورت کې بیا مدیر د اجیر حیثیت لري.

د مدیر اجرت د معاصرو علماو په قول:

الزحیلي داسي وايي:

چې هغه مدیر چې د شرکت د شریکانو څخه ګمارل شوی وي، هغه ته د اجرت اخستل جائز دي، او نوموړی عالم قیاس کوي د وقف په څارونکي او د وصی په اجرت اخستو باندې، خو دا په هغه حالت کې چې شرکت ته یې د قانوني شخصیت اعتبار ورکړی وي.[٣]

الخفیف داسي وايي:

چې مدېر د شرکت څخه اجرت اخیستی شي، که مدېر د شرکت د شریکانو څخه وي، او که د شرکت د شریکانو څخه پرته بهرنی کس وي، او په هغه صورت کې چې مدېر د شرکت د شریکانو څخه وي، کار کول یې د هر اړخه مضاربت ګڼل کیږي.[٤]

---

[١]-الکاساني، علاءالدین ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، د ټوک ګڼه: ١، د پاڼي ګڼه: ٢٥٥. ابن قدامة، ابی محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنی لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ٧، د پاڼې ګڼه: ٢٥۴..

[٢]- ابن رشد، ابو الولید محمد بن احمد بن محمد، بدایة المجتهد ونهایة المقتصد، دټوک ګڼه : ٢ ، دپاڼې ګڼه : ٢٧٧. النووي،ابو ذکریا محی الدین یحی بن شرف، مغنی المحتاج شرح المهذب،د ټوک ګڼه:۵، دپاڼې ګڼه: ۶۵.

[٣]- الزحیلي، وهبة بن مصطفی،العقود المسمات فی قانون المعاملات المدنیة،دپاڼې ګڼه:١۶٩.

[٤]- الخفیف،علی الخفیف، شرکات فی الفقه الاسلامی،دپاڼی: ګڼه ١٢٣.

الخياط داسي وايي:

چې د مدير اجرت اخستل جائز دي، ځکه چې د مديرد اداري کولو ځانګړتيا په شرکت کې د شريکېدو له صفت او ځانګړتيا څخه جلا او بيل دي، او دا هم د ټولني د پر مختک او د ژوندانه د حالا تو د تغير له کبله، نو په اوسني حالا تو کې دواړه بېلې بېلې چارې دي، په همدې بنياد که مدير په شرکت کې شريک هم وي اجرت اخستی شي.[1]

دخيرونکي له آنده تجارتي قوانين د حنفي فقهاو او حنبلي فقهاو د مذهب سره او د معاصرو علماو له نظر سره د مدېر د اجرت اخستلو په جواز کې سره متفق دي ، که مدېر په شرکت کې شريک وي او که شريک نوي.

[1]- الخياط،عبدالعزيز عزت،الشركات فى الشريعة الاسلامية والقانون الوضعي، دټوک ګڼه: ۲، د پاڼي ګڼه: ۲۶۳.

## دویم مطلب: د مدير د چاروڅخه د شرکت مسؤليت.

### الف: د شرکتونو په قانون کې د مدير کړنې:

شرکت د دريمې ډلې په وړاندې د مدير لخوا ترسره شوي ټولو کړنو ته ژمن دی، که مدير دا کارونه د شرکت په نوم او د شرکت د سوداګرۍ د نوم په کارولو سره ترسره کړي وي، مګر که چيرې مدير په شخصي آدرس باندې له نورو سره معامله کړې وي، په دې حالت کې شرکت بيا د دې چلند لپاره مسؤل نه ګڼل کيږي، که څوک ادعا وکړي چې مدير د شرکت حساب کارولی دی نه خپل شخصي حساب نو بايد د ټولو ميتودونو په کارولو سره يې ثابت کړي.

د شرکتونو په قانون کې، تضامني شرکت بايد د هر هغه عمل پابند وي، چې د هغه چا لخوا ترسره کيږي چې د اداره کولو واک يې لري، يا د شرکت کارونه ترسره کوي او يا کوم سند چې د مدير لخوا د شرکت په نوم لاسليک شوی وي، بيا برابره ده که مدير په شرکت کې شريک وي يا نه وي، او هغه شخص چې د شرکت د چارو اداره کولو واک لري، د شرکت په نوم د دعوی کولو واک هم لري، پرته لدې چې د شرکت قرارداد بل ډول بيان کړي وي.

لنډه دا چې شرکت د ټولو هغو کړنو مسؤليت لري، چې د مدير لخوا د شرکت د نماينده په توګه ترسره کيږي، کله چې يې د شرکت په نوم او يا دشرکت په حساب کې دا کړنې ترسره کړې وي، مګر که چيرې مدير دلته د شرکت د نوم کارولو پرته يو عمل يا کار ترسره کړی وي، او داسې وو انګيرل شي چې مدير د خپل حساب څخه کار کړی دي، نو خپله مدير د هغه ډلې په وړاندې مسؤل دی، چې ورسره يې معامل ترسره کړی وي، او څوک نشي کولی دلته شرکت ته مراجعه وکړي.

که چيرې مدير د شرکت له نوم څخه ناوړه ګټه پورته کړي وي، او د شرکت په نوم د خپل واک په حدودو کې تصرف د خپل ځاني حساب لپاره کړی وي، د بېلګې په ډول هغه د خپل حساب لپاره د شرکت په نوم پور اخيستی وي، نو شرکت دريم اړخ ته د مدير د دې چلند له کبله مسؤل ګڼل کيږي، که چيرته مدير دا په ښه نيت يعني شرکت ته د ګټې رسيده په نيت باندې کړې وي، نو بياهم شرکت ته د رسيدل شوي زيانونو له کبله مدير ته مسؤليت ورګرځي، او که د مدير سره قراردادي په بد نيت کې وي، او هغه پوهيده چې مدير د شرکت نوم کارولی د خپل حساب لپاره، په دې حالت کې قراردادي پرته له دې چې پخپله مدير ته مراجعه وکړي بله چاره نه لري.

شرکت بايد هر هغه عمل ته ژمن وي، چې د مدير لخوا د هغه د واک په حدودو کې ترسره کيږي، حتی که مدير د خپل حساب لپاره د شرکت لاسليک هم کارولی وي، پرته لدې چې مدير له شرکت سره په بد عقيده تړون کړی وي، البته اصل نيک ګمان درلودل دي، خو شرکت دا بده باوري بايد په

ثبوت ورسوي، او قاضي ته هم په کار ده چې د شواهدو پر بنسټ د ښه یا بد باور ارزونه وکړي دبیلګې په ډول لکه د معاملې ډول روښانه ول او آیا دا تړون د شرکت فعالیت سره مطابقت لري او که نه یې لري.

که چیرې مدیر د خپلو واکونو له حدودو څخه تجاوز وکړي او هغه د شرکت په نامه او حساب کې تصرف ترسره کړی، نو په دې صورت کې که چیرې د مدیر واکونه اعلان شوي وي، نو شرکت په دې اړه هیڅ مسؤلیت نلري، او داسي انګیرل کیږي، چې نور خلک د مدیر د واکونو څخه خبر دي، خو که د مدیر واکونه اعلان شوي نوي، نو بیا مسؤلیت د شرکت په غاړه دی، د نورو په وړاندې د سرغړونې له کبله، او شرکت کولی شي مدیر څخه د سرغړونې په پایله کې د شوي زیان د جبران لپاره غوښتنه وکړي.[1]

**ب: په اسلامي فقه کې دشریک تصرف کول دشرکت په مال کې:**

په اسلامي فقه کې شرکت په وکالت او ضمانت باندې ولاړ دی، نو هر شریک د خپل شریک په استازیتوب وکیل او ضامن دی، خو په شرکت کې د شریک تصرف کول د شرکت په مصلحت پورې مقید دی.

د شرکت په پیسو کې د شریکانو تصرف په لاندې ډول په جوازي او غیرجوازي تصرفاتو باندې ویشل شوي دي:

لومړی: جائزي تصرفات:

د هر شریک لپاره د شرکت په پیسو کې تصرف کول جائز دي، لکه خرڅول، اخیستل، مرابحه، تولیه، مساومه او هر هغه معاملې چې د شرکت په مصلحت باندې ولاړې وي، ځکه دغه رنګه معاملې کول د سوداګرو تر منځ معمول وي.

دا ځکه چې شرکت د وکالت پر بنسټ باندې ولاړ وي، نو هر شریک د شرکت په اداره کولو کې د خپل ملګري لپاره استازی او وکیل بلل کیږي.[2]

دوهم: ناروا او غیر جائزي تصرفات:

هیڅ شریک حق نلري چې د شرکت پیسې یا مال ضایع کړي، یا د بل شریک له اجازې پرته یې چاته یې سوغات ورکړي، ځکه چې د شرکت څخه هدف د ګټې لاسته راوړل دي، نو د یوه شریک

---

[1]- احمد، ابراهیم سید احمد، العقود والشرکات التجاریة دپانی ګنه: ۱۴۰.
[2]- الکاساني، علاءالدین ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۸، د پاڼي ګڼه: ۲۰۱.

دغه رنګه تصرف يوازې په خپله برخه کې ترسره کولی شي او بس، مګر په هغه صورت کې چې يوه شريک د شرکت لپاره ځانګړي شرايط په بل باندې وضع کړي وي، نو بيا به دواړه په خپلو شرطو باندې موافق عمل کوي، که چيرې يوه شريک د شرط څخه د سرغړونې په صورت کې شرکت ته زيان ورساوه، نو مخالفت کونکی به د خپل شريک د برخې ضامن وي.

نو هر شريک که په شرکت کې د مدير په توګه وي يا دغير مدير په توګه، تصرف کول يې د شريکانو تر اجازې پورې مشروط دي.

او بل دا چې دغه تصرف بايد هغه تصرف وي، چې په اسلامي شريعت کې مباح او روا وي ، همدارنګه تصرف بايد درشرکت او شريکانو په ګټه او مصلحت باندې ولاړ وي، ځکه چې د شرکت د جوړېدو اصلي موخه د ګټې راټولول او لاسته راوړل دي.[1]

[1]- ابن عبدالبر، ابوعمريوسف بن عبدالله، الکافي فی فقه اهل المدينة، د ټوک ګڼه: ٢، د پاڼې ګڼه: ٧٨٤.

## دريم مطلب: د مدير مسؤليت دشرکت په وړاندې:

مدير څخه مراد هغه کس دی، چې د شرکت د چارو واګې د هغه په لاس کې وي، برابره ده که هغه په شرکت کې شريک وي يا نه وي، د شرکت د مديريت او څارلو په وخت کې د هغه د غلطيو او تېر وتنو يا په کړنو کې دغفلت په اړه ورنه پوښتنه کيږي.[۱]

قانون د مدير لپاره په لاندېني حالاتو کې جزا ټاکلي ده چې نوموړې جزا عبارت دی له يو څخه تر دريو کلونو پورې د بند سزا، او جريمه چې اټکل يې له يو زرو دينارو څخه کمه او له دريو زرو څخه زياته نه ده، دا هغه وخت کې چې مدير دشرکت بوديجه يا د ګټې او زيان حساب سم نه وي تنظيم کړي، شريکانو ته د غلطو معلوماتو ورکول يا د قانون له مخې د معلوماتو يا توضيحاتو پټول او دا د شريکانو څخه د ريښتيني شراکت دموخې د پټولو په نيت کړې وي، په هرصورت، که چيرې مدير داسې اعمال تر سره کړي چې جرمي مسؤليت ولري، لکه درغلی او جعل، د جزا قانون احکام په هغه باندې پلي کيږي.[۲]

**الف: د شرکت او شريکانو په وړاندې د مدير مسؤليت:**

که مدير د شرکت له نوم څخه ناوړه ګټه پورته کړي، او يا د خپل واک له حدودو څخه تجاوز وکړي، او شرکت يا شريکانو ته په هر ډول چې وي زيان ورسوي، نو مدير په دې ټولو حالاتو کې د تاوان او خسارې پر وړاندې مسؤل دي.[۳]

که مدير د اجرت په مقابل کې کار کوي او په شرکت کې شريک نوي، نو اړينه ده چې د عادي کس په توګه کړنې ترسره کړي، لکه د اجير وکيل په شان، او که چيرې مدير پرته له معاش او اجرت څخه کار کوي، نو مدير ته پکار ده چې په خپلو شخصي چارو کې د دقت او پاملرنه څخه کار واخلي، او مدير د شرکت په وړاندې د جرمونو ترسره کيدو په اړه لکه اختلاس او د باور ماتولو لپاره خيانت کولو مسؤل دی.

د شرکتونوپه قانون کې مدير د هغه زيان د جبران مسؤليت لري چې شرکت، شريکانو يا دريمې ډلې ته د شرکت د تړون د شرايطو څخه د سرغړونې له امله يا د هغه غلطيو له امله چې د هغه د کار په ترسره کولو کې يې کوي، او هر هغه تړون چې د عقد پرخلاف وي (کأن لم يکن ) يعنې ملغا ګڼل کيږي.

---

[۱]- احمد، ابراهيم سيد احمد، العقود والشرکات التجارية دپانی ګڼه: ۱۴۰.
[۲]- سامي، فوزی محمد سامی، شرح قانون التجارية، دټوک ګڼه : ۳ ، دپاڼې ګڼه: ۱۵۴.
[۳]- پورتنی اخيستځای.

**ب: د نورو په وړاندې د مدير مسؤليت:**

دريمې ډلې څخه دلته هدف د شرکت يا شريکانو پرته نور کسان دي، چې له مدير څخه د هغه ضرر په هکله پوښتنه کېږي چې نور کسان ور څخه متضرر کېږي، دا په هغه صورت کې چې د شرکت د تړون د شرايطو څخه د سرغړونې يا د مدير د غلطيو له امله وي، چې دا ټول د مدير په کار کې د غفلت له کبله منځ ته راځي.[1]

[1]- سامي، فوزى محمد سامى، شرح قانون التجارية، دټوک ګڼه : ۳ ، دپاڼې ګڼه: ۱۵۴.

## درېم مبحث:

## په اسلامي فقه کې دتضامني شرکت ضوابط.

او دغه مبحث درې مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په تضامني شرکت کې د ضمانت کولو مسؤليت.

دويم مطلب: په تضامني  شرکت کې د شريکانو د ونډې د انتقال وړتيا.

درېم مطلب: په تضامني شرکت کې د ګټې او تاوان ويش.

### لومړی مطلب:

په تضامني شرکت کې د ضمانت کولو مسؤليت.

الف: د تضامني مسؤليت په قانون کې:

ب: تضامني شرکت د ضمانت دعنصر له کبله فقهي مطابقت.

### دويم مطلب:

په تضامني  شرکت کې د شريکانو د ونډې د انتقال وړتيا.

الف: په قانون کې د تضامني شرکت د شريکانو د ونډې انتقال.

ب: په اسلامي فقه کې له يو کس څخه بل ته د ونډې انتقال.

### درېم مطلب:

په تضامني شرکت کې د ګټې او تاوان وېش.

الف: په قانون کې د تضامني شرکت د ګټې او تاوان وېش.

ب: په اسلامي فقه کې د شرکتونو د ګټې او تاوان ويش.

ج: د تضامني شرکت د ګټې او خسارې وېش.

## لومړی مطلب: په تضامني شرکت کې د ضمانت کولو مسؤلیت.

### الف: د تضامني مسؤلیت په قانون کې:

تضـامني مسؤلیت د تضـامني شرکت د ځانګړتیـاو څخـه دی، او دا پدې مانـا ده چې هر شریک د شرکت په پورونو کې د نورو شریکانو سره ضمانت کې شامل دي، او هر شریک د پاتې شریکانو لپاره ضامن دی ، په دې توګه چې شرکت ته پورورکوونکي حق لري، چې د شریکانو څخه د خپل پور غوښتنه وکړي، حتی د شریکانو په خپلو شخصـي مـالو بانـدې ادعـا کولی شي، البتـه کـه د شرکت پانګه د پور ورکوونکو د پور د پوره کولو لپاره کافي نه وي، نود پانګې د ختمېدو څخـه وروسته باید پاتې برخه د پورونو د شریکانو له خپلو پیسو څخـه وغواړي، د شرکتونو پـه قـانون کـې د تضـامني پـه شـرکت کـې هـر شـریک د خپلـو نـورو شـریکانو سـره پـه ګـډه مسؤل ګڼـل کیـږي د هغـه پورونـو او مکلفیتونو لپاره چې د شرکت لخوا اخیستل شوي وي، پداسې حـال کې چې شرکت د دې پورونـو او مکلفیتونو لپاره په خپل شخصي مال کې هم ضامن دي، که چیرې یو شریک د شرکت پورونه له خپلو پیسو څخه تادیه کړي، باید نور شریکان د هغه څه په تناسب چې نوموړی شریک د شرکت پور څخه یې ورکړي دي هر یو یې تادیه کړي.[١]

### ب : تضامني شرکت د ضمانت دعنصر له کبله فقهي مطابقت:

تضامني شرکت د ضمانت دعنصر د ځانګړنـي له کبله دا په ډاګه کېږي، چې پـه اسلامي فقه کې د ضمانت او کفالت د عنصر له لارې د مفاوضې لـه شرکت سره مطابقت لـري، لـه امـام مالـک (رحمه الله) څخه پوښتنه وشوه: کله چې یو دې متفاوضینو څخـه یوڅـه پـه بیـع فاسد بانـدې وپېـري نودغـه پېرل پـه شریک باندې هم لازمیږي؟ هغه وو ویل: پرشریک باندې لازمیږي.[٢]

همدارنګه که چېرې متفاوضـان سره جلا شـي پـور اخیستونکي کولی شي لـه هریـوه لـه دوی څخـه خپل ټول پور وغواړي.[٣]

هغه څه چې یو د مفاوضـې کوونکوڅخـه لـه یـو صـحیح یـا باطـل پلـور څخـه اخلـي پـه بـل بانـدې یـې لازمیږي، او پلورونکی د فساد د کچې برابر پیسې یا قیمت چې هر یو وي لاسته راو ړای شي.[٤]

---

[١] الصوص، ندا محمد الصوص، مبادئ القانون التجاري، دپاڼې ګڼه: ٩٢، دچاپ کال: ١٤٢٨هـ ٢٠٠٧م، لومړی چاپ، دچاپ ځای: دار اجنادین.

[٢] - الأصبحي، مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني، المدونة الكبرى، دپاڼې ګڼه: ٦١٠ ، دټوک ګڼه : ٣ ، دچاپ خای : دار الکتب العلمیة بیروت - لبنان .

[٣] ابن عابدین، محمد امین بن عمر بن عبدالعزیر، رد المحتار علی در المختار، د ټوک ګڼه: ٧ ، د پاڼې ګڼه: ٦٢٩ .

[٤] - الدردیر، أبو البركات أحمد بن محمد بن أحمد الدردیر، الشرح الصغیر علی أقرب المسالك إلی مذهب الإمام مالك، دټوک ګڼه: ٣ ، دپاڼې ګڼه : ٢٩٦، دچاپ ځای: مکتبة بولاق بالقاهرة ، ١٢٨١ هـ

د بیلګې په ډول که یو سړی درې زره او شپږ شپیته افغانۍ پوروړی وي او ځینې یې د یو بل لپاره ضامن یا کفیلان وي، او یو یې د پیسو مشري کوي، نو هغه به د خپلو دوو شریکانو څخه دریمه برخه ورکوي، او په دوه پر دریمه برخه کې هغه د خپلو دوو شریکانو په استازیتوب د دوی په حکم سره د دوی لخوا د دوی ضمانت کوي.[1]

[1]- السرخسی، محمد بن ابی سهیل، المبسوط، د ټوک ګڼه: ۲۰، د پاڼې ګڼه: ۶۵.

## دويم مطلب: په تضامني شرکت کې د شريکانو د ونډې د انتقال وړتيا:

**الف: په قانون کې د تضامني شرکت د شريکانو د ونډې انتقال:**

په تضامني شرکت کې لکه څرنګه چې وړاندې د څېړنې له لارې وويل شو، چې تضامني شرکت د شريکانو ترمنځ د شخصي اعتبار او متقابل باور پر بنسټ ولاړ دی، په دې اساس شريک نه شي کولی چې په شرکت کې خپله ونډه له شرايطو پرته بل کس ته ورکړي، د شرکتونو په قانون کې ويل شوي چې يو شريک نشي کولی په شرکت کې خپله برخه بل چاته ورکړي پرته له رضايت د ټولو شريکانو څخه، او که چيرې خپله برخه يې بل کس ته ورکړه او پاتې شريکان موافق وي، نو د ونډې ورکونکی به د هغه پورونو لپاره مسؤل دی، چې د شرکت لخوا د هغه له ورکړې دمخه اخيستل شوي دي، او نوي شريک به د شرکت سره د يوځای کيدو وروسته د پورونو مسوليت په غاړه ولري.[1]

قانون پوهانو په دې اړه اختلاف کړی دی [2]، چې آيا په نوی شريک باندې دشريکېدو څخه د دمخه پورونو ورکول شته او که نشته؟ نو په دې اړه له دوی څخه دوه نظره را نقل شوي:

لومړی نظر:

دوی په دې باور دي، چې په شرکت کې د نوي شريک د يوځای کېدو پورې د شرکت پورونه تړلی نه دي، ځکه چې دا د هغه شرکت سره د يوځای کيدو د مخه دي.

دويم نظر:

دوی په دې باور دي چې په شرکت کې د نوي شريک د يوځای کېدو پورې د شرکت پورونه تړلی دي، دا ځکه چې هغه شرکت ته د يو قانوني شخص په توګه راغلی دی، او شرکت ته د هغه ننوتل او د شرکت مثبت او منفي اړخونو څخه رضايت درلودلو په معنادي. [3]

**ب: په اسلامي فقه کې له يو کس څخه بل ته د ونډې انتقال:**

يو له شريکانو څخه ممکن د کوم پيدا شوي ضرورت په اساس له شرکت څخه وتلو ته اړتيا ولري، او تضامني شرکت د نويو شريکانو د يوځای کيدو لپاره شرايط تاکلي، ځکه چې تضامني شرکت د شخصي ملحوظاتو پر بنسټ ولاړ وي، نو په دې برخه کې په کار ده چې وو ارزول شي چې آيا په اسلامي فقه کې د ذکرشوي شرکتو سره تضامني شرکت څومره مطابقت لري؟

---

[1]- الصوص، ندا محمد الصوص، مبادئ القانون التجاري ، دپاڼې ګڼه : ۹۲.

[2]-

[3]- الفواز، مجلة دراسات، علوم الشريعة والقانون، التكييف الفقهي لشركة التضامن، ټوک: ۳٤ ، شمېره: ۱.

لومړی: د شریکانو له اجازې پرته بل کس ته د ونډې سپارل:

تضامني شرکت په اسلامي فقه کې د مفاوضې له شرکت سره په دې کې موافق دی، چې د نورو شریکانو له اجازې پرته نوي شریک ته د ونډې د سپارلو یا په شرکت کې د یوځای کیدو اجازه نه ورکوي.

دویم: هغه شریک چې خپله ونډه بل چاته پریږدي مسؤلیت یې د هغه پورونو په اړه چې د شرکت سره د یوځای کیدو پرمهال شوي:

۱- نوموړی شریک له شرکت سره د یوځای کیده پرمهال د پورونو له کبله مسؤول دی، باید أداء یې کړي، او دا د اسلامي شریعت له احکامو سره سمون لري، چې په دیني لحاظ د پوروړي کس د پورڅخه غاړه نه خلاصیګي مګر دپور په اداء کولو سره، لکه چې لاندنی حدیث په همدې معنا باندې دلالت کوي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا) أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ فَقَالَتْ إِنَّ أُمِّي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ فَلَمْ تَحُجَّ حَتَّى مَاتَتْ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا قَالَ: نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ قَاضِيَةً (قَاضِيَتَهُ) اقْضُوا اللهَ فَاللهُ أَحَقُّ بِالْوَفَاءِ.[۱]

ژباړه: له ابن عباس (رضي الله عنهما) څخه روایت دی چې: د جهیني قبیلې څخه یوه ښځه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغله، ویې ویل: مور مې د حج کولو نذر کړی و، خو تر مرګه یې حج ونه کړ نو آیا د هغې له طرفه حج وکړم، هغه (صلی الله علیه وسلم ) وویل: هو د هغې څخه حج وکړه څه فکر کوې که چیرې مور دې پوره وړې وی نو تا به پور اداء کړی وی؟ دې الله (جل جلاله ) پورادا کړي، ځکه چې د الله (جل جلاله) د وفا کولو دحیثه ډېر حقدار دی .

۲- او د نوي شریک په راتللو سره شرکت ته د شرکت دپورونو په اړه مسؤلیت ور په غاړه کیږي، البته په شرکت کې دشاملیدو څخه وروسته، او دا هم داسلامي شریعت سره موافق عمل دی ، ځکه چې نوی شریک په شرکت کې له نورو شریکانو سره په ګده ښکیل شوی دی، له همدې کبله پور ورکوونکي د پور ادعا ورڅخه کولی شي.

۳- او دهغه پورونو په اړه چې د نوی شریک د یوځای کیدو څخه دمخه د شرکت لخوا اخیستل شوې وي، نو د هغو پورونو په لازمیدو کې په نوموړي شریک باندې هیڅ اعتراض نشته، ځکه دا د تضمین

[۱]- صحیح البخاري ، کتاب جزاء الصید ، باب الحج والنذر عن المیت ، د حدیث شمیره : ۱۸۵۲

او كفالت مسئله ده [١]، چې په اسلامي شريعت کې له کفيل پرته د پور اخيستل جواز لري، دهمدې کبله پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: الزعيم غارم.[٢]

ژباړه: کفيل ضامن دی، ځوک چې د يو انسان حق په بل باندې تضمين کړي، نو پر تضمين کونکي هغه حق واجب شو، يعنې: که ضمانت شوی کس هغه حق ادا نه کړي، نو ضامن به يې اداء کوي.

[١]- الزحيلي، وهبة بن مصطفى ، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ۶ ، دپاڼې ګڼه: ۱.

[٢]- سنن الترمذي كتاب الوصايا ، باب ماجاء فيه لا وصية لوارث ، د حديث شميره: ٢٢٠٣، هَذَا الحَدِيث حسن، وګورئ: : ابن الملقن، عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري، البدر المنير في تخريج الأحاديث والأثار الواقعة في الشرح الكبير، تحقيق کوونکي: مصطفى أبو الغيط و عبدالله بن سليمان وياسر بن كمال، د ټوک ګڼه:۶، د پاڼې ګڼه:۷۰۷.

## دریم مطلب: په تضامني شرکت کې د ګټې او تاوان وېش:

### الف: په قانون کې د تضامني شرکت د ګټې او تاوان وېش:

په شرکتونو کې د ګټې او تاوان شریکول د شرکت د شتون لپاره یو له هدفي شرایطو څخه دی، د ګټې او تاوان ویش په اصل کې د شرکت د قرارداد د شرایطو تابع دی، که د شرکت په قرارداد کې داسي شرط شامل وي چې یو شریک یې له ګټې څخه محروم کړی وي یا له تاوان څخه یې معاف کړی وي، نو نوموړی شرط باطل دی.[1]

د شرکتونو په قانون کې د شراکت د قرارداد د شریکانو حقونه او مکلفیتونه ټاکي، خو که په قرارداد کې د ګټې او تاوان د وېش طریقه نه وي یاده شوي، نو د شرکت په سرمایه کې د هر یو د ونډې په تناسب د شریکانو ترمنځ ګټه او تاوان ویشل کیږي.

### ب: په اسلامي فقه کې د شرکتونو د ګټې او تاوان ویش:

علماو د شرکتونو د هر ډول سره سم د ګټې او تاوان د ویش تفصیلي بیان کړی دی، البته د هر شرکت په اړه فقهاو د ګټې او تا وان د ویش د طریقې په هکله نظریات سره مختلف دي، اوس نو تضامني شرکت په اسلامي فقه کې د یاد شویو هریوه شرکت سره چې مطابقت ولري د همغې شرکت احکام ځانته کوي، د ړومبنیو بحثو څخه څرګندیږي، چې تضامني شرکت دعنان او مفاوضې او دمضاربت له شرکتو سره مشابهت لري، او دعنان او مفاوضې او مضاربت د شرکتو د ګټې او تاوان د ویشلو مسئله د فقهاو په نزد په لاندې توګه دی:

د عنان او مفاوضې په شرکت کې د ګټې او تاوان د ویشلو په اړه علماء اختلاف د نظرلري چې په څلورو اقوالو کې را خلاصه کیږي:

لومړی قول:

حنفیان حضرات پرته له امام زفر (رحمه الله) څخه وایي: چې ګټه د عنان په شرکت کې

د تړون له مخې او تاوان د سرمایې له مخې ویشل کیږي، او دمفاوضې شرکت لپاره، ګټه او تاوان په پانګه کې د شریک د ونډې سره سم ویشل کیږي.[2]

---

[1]- احمد، ابراهیم سید احمد، العقود والشرکات التجاریة ، دپاڼې ګڼه: ۱۴۱.
[2]- الکاساني، علاءالدین ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۸، د پاڼي ګڼه: ۲۰۱.

دويم قول:

مالکيان او له حنفيانو څخه امام زفر (رحمه الله) په دې نظر دي، چې د عنان او مفاوضې په شرکتونو کې ګټه او تاوان د شرکت په سرمايه کې د شريك د ونډې له مخې ويشل کيږي، او که په ګټه او تاوان کې توپير په قرارداد کې ټاکل شوی وي، نو دغه رنګه شرکت باطل دی.[1]

دريم قول:

شوافع حضرات داسې وايي: چې د عنان په شرکت کې ګټه او تاوان د شرکت په سرمايه کې د شريک د ونډې سره سم ويشل کيږي، او که ګټه او تاوان د شرکت په سرمايه کې د شريک د ونډې سره توپير ولري، نو دغه رنګه شرکت باطل دی.[2]

څلورم قول:

حنبليان حضرات په دې نظر دي: چې ګټه د تړون له مخې يا د شرکت په سرمايه کې د شريک د ونډې له مخې ويشل کيږي، او تاوان د شرکت په سرمايه کې د هر شريک د ونډې سره سم ويشل کيږي.[3]

او هرڅه دمضاربت شرکت چې دی، فقهاء د ګټې او زيان شريکولو په هکله په دې سره متفق دي، چې ګټه به هغه څه وي چې شريکانو پرې اتفاق کړی وي، لکه د نصف او ربع په څير يو عامه برخه ټاکل شوې وي، او تاوان يا خساره به په پانګه باندې اچول کيږي، او پاتې شو کاريګر د زيان او خسارې به په هغه هيڅ شی نه اچول کيږي.[4]

دا چې مدير د شرکت په پيسو کې مضارب وګڼل شي، نو د ګټې په صورت کې به مدير ته د کار په بدل کې اجوره اخيستل روا وي، او د زيان يا تاوان په صورت کې به په مدير باندې هيڅ زيان نه راځي، البته هغه وخت به تاوان پرې کوي چې هغه په شرکت کې يوه شريک په صفت کارکوي، نو د مدير تاوان ګالل به په شرکت کې د شريک په توګه وي نه د مدير په توګه.

---

[1] الکاساني، علاءالدين ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۸، د پاڼي ګڼه: ۲۰۱.القرافي ، أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن ، الذخيرة ، دټوک ګڼه : ۷ ، دپاڼې ګڼه : ۲۷۰.

[2] الرملي، شمس الدين محمد بن أحمد بن أبي العباس ، نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج ، د ټوک ګڼه : ۱۵ ، دپاڼې ګڼه : ۲۶۳ ، آخري چاپ ، د چاپ کال : ١٤٠٤هـ ١٩٨٤م ، دچاپ ځای : دار الفكر بيروت لبنان.

[3] ابن قدامة، ابی محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنی لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۱۳، د پاڼې ګڼه: ۱۵۵.

[4] الکاساني، علاءالدين ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۸، د پاڼي ګڼه: ۲۰۱. ابن رشد، ابو الوليد محمد بن احمد بن محمد، بداية المجتهد ونهاية المقتصد، دټوک ګڼه : ۲ ، دپاڼې ګڼه : ۲۸۲. ابن قدامة، ابی محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنی لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۵ ، د پاڼې ګڼه: ۲۸.

**ج: د تضامني شرکت د ګټې او خسارې وېش:**

د عنان او مفاوضې په دوو شرکتو کې د ګټې او تاوان د ویش په اړه د فقهاوو د اقوالو په وړاندې کولو سره د تضامني شرکت په اړه لاندې ټکي رو ښانه کیږي:

۱- په تضامني شرکت کې د ګټې او تاوان ویش په اسلامي فقه کې دشرکتونو د ګټې او تاوان له ویش سره موافق دی، په خاص ډول هغه صورت کې چې ګټه دشرکت نه وي معلومه نو په پانګه کې د شریك د ونډې له مخې ویشل کیږي.

۲- که په تړون کې صراحت شوی وي د شریکانو د ګټې په توپیر باندې، نو دغه تړون د عنان په شرکت کې د حنفیانو له نظر سره، او په عنان اومفاوضې شرکتونو کې د حنبلیانو له نظر سره موافق دی، مګر د عنان او دمفاوضې په شرکتونو کې د مالکیانو له نظر سره اختلاف لري او همدارنګه په عنان شرکت کې د شافعیانو له نظر سره توپیر لري.

۳- او که په تړون کې د تاوان په توپیر باندې صراحت شوی وي، نو د فقهاوو له هیڅ یوقول سره موافقت نه لري.

## دریم فصل:

## په اسلامي فقهې او قانون کې د تضامني شرکت ختمیدل.

دغه فصل درې مبحثو لره شامل دی:

لومړی مبحث: د تضامني شرکت د ختمیدو لاملونه.

دویم مبحث: د تضامني شرکت د فسخ کېدو احکام.

درېم مبحث: د تضامني شرکت د ختمیدو اغیزې.

### لومړی مبحث: د تضامني شرکت د ختمیدو لاملونه.

دغه مبحث دوه ومطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: په اسلامي فقه کې دتضامني شرکت د ختمیدو لاملونه.

دویم مطلب: په قانون کې دتضامني شرکت د ختمیدو لاملونه.

### لومړی مطلب: په اسلامي فقه کې دتضامني شرکت د ختمیدو لاملونه.

الف: په فسخې او مړینه سره د شرکت ختمیدل.

ب: په حجر او د شریک په ګوښه کولو سره د شرکت ختمیدل.

ج: د پیسو له منځه تلو او د نیتې له پای ته رسیدو سره د شرکت ختمیدل.

### دویم مطلب: په قانون کې دتضامني شرکت د ختمیدو لاملونه.

الف: د انحلال پیژندنه.

ب: دانحلال موارد.

ج: د تضامني شرکت د لمنځه تلو لاملونه.

د: د انحلال ځانګړې موارد.

## لومړی مطلب: په اسلامي فقه کې دتضامني شرکت د ختميدو لاملونه:

په اسلامي فقه کې شرکت عبارت د يوه جائز اوغير لازم قرارداد څخه دی، او څرنګه چې دتېرې څېړنې څخه جوته شوه شرکت د وکالت او کفالت پر بنسټ ولاړ دی، نو شرکت ممکن کله د اختياري امورو له کبله پای ته ورسيږي: لکه د شريکانو ترمنځ دوه اړخيز رضايت په پايله کې، د فسخ کولو په توګه يا د ټاکل شوې مودې پای ته رسيدوسره، او کله هم د اجباري او ضروري امورو لکبله لکه مړينه او داسې نور.

د اسلامي فقهي له مخې چې هر ډول شرکت وي په لاندې توګه پای ته رسيږي:

**الف: په فسخې او مړينه سره د شرکت ختميدل:**

۱- فسخ:

د شرکت فسخ کول يا منحلول يې په لاندې حالاتو کې منځ ته راځي لکه چې الزحيلي (رحمه الله) بيانوي: هو حل ارتباط العقد المنعقد لعدم التنفيذ او للاخلال بالالتزام او لعدم توافرالرضا التام ويحدث بالتراضي او بالقضاء.[۱]

ژباړه: د عقد له منځه وړل د منعقد شوي تړون د نه پلي کيدو سره، د ژمنې څخه د سرغړونې په صورت کې يا د بشپړ رضايت د نشتوالي له امله، او دا د دوه اړخيز رضايت يا قضايي قوې لخوا تطبيقيږي.

له دوو شريکانو څخه د يوه له خوا انحلال سره شرکت باطلېږي، ځکه چې د شرکت قرارداد د يوه جوازي قرارداد څخه عبارت دی چې لازمي نه وي، د هر شريک لپاره دا جواز لري چې د شرکت د منحل کيدو غوښتنه وکړي کله چې د انحلال شرط موجود شوی وي، فسخ او انحلال په دې حالاتو کې ځکه ګټور دی چې دا هيڅ يوه شريک ته زيان نه رسوي.[۲]

---

[۱] الزحيلي، وهبة بن مصطفى ، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ۴ ، دپاڼې ګڼه: ۶۸۹.
[۲] الکاساني، علاءالدين ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۱۳، د پاڼي ګڼه: ۱۴۵.ابن قدامة، ابی محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنی لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼې ګڼه: ۱۴۲. الخفيف، علي الخفيف، الشرکات فی الفقه الاسلامی، دپاڼې ګڼه: ۱۳۴.

۲- مرګ یا مړینه:

دا یو وجودي ځانګړنه ده چې د ژوند په مقابل کې رامنځته شوې ده، که چیرې یو شریک مړ شي شرکت له منځه ځي، ځکه چې شرکت د وکالت پر بنسټ ولاړ دی، او وکالت د وکیل یا موکل په مړینې سره باطلیږي، مګر وارثین حق لري چې د شرکت د بشپړولو یا د هغې د منحل کولو ترمنځ یو یې دځان لپاره انتخاب کړي، مګر که وارثان وغواړي چې په شرکت کې شریک پاتې شي، نو د یوه نوی تړون په را منځ ته کېدو سره دا کار کولی شي، دا په دې شرط چې میت پوروړی نه وي، نو که میت پوروړی وي یا یې وصیت نامعلوم کس ته کړی وي، لکه: دا دې مساکینو ته ورکړل شي، نو اول د وصیت عملي او پور دې ادا کړي، ځکه چې مال به په دې وخت کې د ګروي په څیر وي، او په ګرو شوي ملکیت کې شراکت باطل دی.[1]

**ب: په حجر او د شریک په ګوښه کولو سره د شرکت ختمیدل:**

۱ - حجر:

عبارت د قولي تصرف څخه دی پرته له فعلي تصرف څخه د صغر یا مریي والي اویا د لیونتوب له امله.

که چېرې له شریکانو څخه کوم یو د لیونتوب، ساده توب یا د مفلسه کیدو سره مخامخ او له همدې امله له شرکت څخه منع شي، نو په نوموړي ممانعت سره شرکت پای ته رسیږي، لکه دې وکالت په په څیر.[2]

۲- عزل یا ګوښه کول:

که شریکان ووینې چې یو له دوی څخه د شرکت په حقوقو کې د غفلت څخه کار اخلي او د شرکت په چارو کې د سوء استفادې یا غلط چلند له امله په شرکت کې د پاتې کیدو وړ نه دی، نو دوی حق لري چې خپل شریک ګوښه کړي، او د دې ګوښه کولو سره لومړی هغه کار چې پېښیږي عقد د شرکت پای ته رسیږي، او پاتې نور شریکان کولی شي په خپل شرکت کې د نوي قرارداد سره د شریکانو په صفت شرکت ته دوام ورکړي.[3]

---

[1]- الشربيني، شمس الدين محمدبن احمد، مغني المحتاج الى معرفة الفاظ المنهاج، دټوک ګڼه: ۸ ، دپاڼې ګڼه: ۲۸۱.ابن قدامة، ابى محمدعبدالله بن احمد بن محمد، المغنى لابن قدامة، د ټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼې ګڼه: ۱۴۲.
[2]- الكاساني، علاءالدين ابوبكربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۱۳، د پاڼي ګڼه: ۱۴۵. الشربيني، شمس الدين محمدبن احمد، مغني المحتاج الى معرفة الفاظ المنهاج، دټوک ګڼه:۸، دپاڼې ګڼه: ۲۸۱.
[3]- الخفيف، علي الخفيف، الشركات فى الفقه الاسلامى، دپاڼې ګڼه: ۱۳۴.

**ج: د پیسو له منځه تلو او د نیټې له پای ته رسیدو سره د شرکت ختمیدل:**

۱- د شرکت پیسې له منځه تلل:

که چیرې د شرکت ټولې یا ډېرې پیسې لـه مینځـه لاړې شي یا د شریکانو څخه د یوه شریک د پیسو برخه د پیرلو دمخه لـه منځـه لاړې شـي، نـو شرکت فسخ کېږي، یا دې عقد هیڅ صورت ندې موندلی، ځکه چې د پیسو په له منځه تلو سره محل د شراکت لـه منځـه ځـي او دغه تګلاره یواځې د اموالو د شرکتو پورې اړه لري.[1]

او کله چې د شرکت پانګه لمنځه لاړه شي نو د پانګې په له منځه تلو سره شرکت پای ته رسیږي، ځکه چې سرمایه هغه محل دی چې قرارداد ور باندې سرته رسیدلی دی، که چیرې محل لـه منځـه لاړ شي، نو د شرکت پای ته رسیدل طبیعي دي.[2]

۲ - د شرکت د نیټې پای ته رسیدل:

د شرکت په قرارداد کې د ټاکل شوې مودې په پای تـه رسیدو سره شرکت پـای تـه رسیږي، دا پـه هغه وخت کې چې شرکت د یوه ځانګړې او ټاکلې وخت سره محدوده شوې وي.[3]

د مخکني بحث څخـه څیرونکي تـه څرګنده شوه چې د شرکت قرارداد پـه اصل کـې د وکالت پر بنسټ ولاړ دی، یعني هر یوه شریک ته اجازه ورکول کېږي چې د بل شریک په مال کې کار وکړي، او له هغه ځایه چې وکالت د اهلیت له لاسه ورکولو سره پای ته رسیږي، برابره ده کـه پـه مرګ سره وي، لیونتوب، حجر او یا هر هغه څـه سره وي چې وکیل لـه وکالت څخـه لرې کوي، نو شرکت پـه پورتنیو اسبابو باندې پـای تـه رسیږي، او وکالت هم لـه دې سره پـای تـه رسیږي چې وکیل پخپلـه لـه وکالت څخه ایستل کیږي، همدا ډول شرکت هم دی، ځکه چې د قراردادونو او تړونو اساس د جانبینو رضایت دی.

[1]- الکاساني، علاءالدین ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۱۳، د پاڼي ګڼه: ۱۴۵.
[2]- الخفیف، علي الخفیف، الشرکات فی الفقه الاسلامی، دپاڼې ګڼه: ۱۳۴.
[3]- پورتنۍ اخیستځای.

## دویم مطلب: په قانون کې دتضامني شرکت د ختمیدو لاملونه.

تضـامني شـرکت څرنګـه چـې د پیلیـدو لپـاره یـې قـانون پوهـانو ځینـي شـرایط وضـع کـړي دي، همدارنګه د تضامني شرکت د لمنځه تلو لپاره يې ځيني لاملونه ټاکلي دي، چې په لاندې توګه ورڅخه یاده ونه کوو:

**الف: د انحلال پیژندنه:**

انحلال د شرکت د وجود له منځه تللو په معنا دي، نو کله چې شرکت د کوم دلیل یا لـوري لـه املـه له منځه لاړ شي، د منحل شرکت په نامـه یـادیږي، د شـرکت انحـلال د هغـه د ژونـد پـای تـه رسیدو پـه معنی دی ، او د شرکت د ژوند پـای تـه رسیدو لپـاره اړتیـا دا ده چې ټولـه شتمنی د خوریدو لـه حالت څخه راوباسي او د دوی ترمنځ وو ویشل شي ، د شریکانو تر منځ د شتمنیو ویش په هغه صـورت کې ممکن دی چې د شرکت پور ورکونکو خپلې غوښتنې لـه شـرکت څخـه ترلاسـه کـړي. د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره، قانون جوړونکي د شرکت د ملکیت دتصفیې وروسته د انحـلال لپـاره چمتـو کـړی وی.

**ب: دانحلال موارد:**

دتضـامني شـرکتونو قـانون، دعـام تضـامني شـرکت د انحـلال مـواردو څخـه یادونـه کـړې ده، چـې شرکت له لاندې حالاتو څخه په یوه کې منحل او ختمیږي:

۱- د شراکت په عقد کې د ټاکلي مودې تېرېدل.

۲- د هغې موخې پلي کیدل چې شرکت دهغې په منظور جوړ شوی دی.

۳- د شرکت ټولې یازیاتې برخې پانګې تلف کېدل، په داسې توګـه چـې پـاتې کېدو(بقا) کـې یـې ګټـه متصوره نوي.

۴- له شریکانو څخـه د یوه مړینـه یـا د محکمـې پـه حکم پـه هغـه بانـدې دحجر واقـع کېدل یـا یـې د افلاس ثبتېدل.

۵- له شرکت څخه د یو شریک وتل، په هغه صورت کې چې د شرکت د فعالیت موده نـا محدوده وي، په دې شرط چې شریک د وتلو په اړه خپله اراده درې میاشتې دمخه د نـورو شـریکانو خبرتیـا تـه رسولې وي، له دې پرته د هغه وتل به له غش څخه را پیدا یا په غیر مناسب وخت کې وګڼل شـي، خـو دا چې موافقې بل ډول صورت موندلې وي.

۶- د شرکت په انحلال باندې د شریکانو موافقه.

۷- د شرکت د په انحلال باندې د محکمې حکم.

۸- د محکمې د حکم له مخې یا پدې اړه چې شرکت دې افلاس ته سوق شي د شریکانو او دشرکت د طلب ګارانو د موافقې پر بنسټ افلاس.[۱]

**ج: د تضامني شرکت د لمنځه تلو لاملونه:**

د تضامني شرکت د ختمېدو لومړی لامل:

د شراکت په عقد کې د ټاکلې مودې تېرېدل:

کله چې د شرکت لپاره یوه ټاکل شوې موده وټاکل شي، او د مودې پای ته رسیدو سره، شریکان یې د تمدید سره موافق نه وي، شرکت منحل کېږي، د تصامني د شرکتونو قانون په دې اړه داسې بیان کوي:

(۱) که چیرې د شرکت ټاکلې موده پای ته ورسیږي، یا هغه فعالیت چې شرکت یې د پرمخبیولو په منظور جوړ شوی دی ختم شي، خو سره له دې چې شریکان تصمیم ونیسي څو په هغه فعالیت لاس پورې کړي چې شرکت په هغه منظور جوړ شوی وو، د شراکت عقد په عین شرائطو سره کال په کال تمدیدیږي.

(۲) دشریکانو څخه دیوه داینین کولی شي دشرکت دفعالیت د دوام پرضد چې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې ده، اعتراض وکړي او دمدیون شریک مشارکت ودروي.[۲]

د تضامني شرکت د ختمېدو دویم لامل:

د هغه هدف تحقق چې دهغه لپاره شرکت تاسیس شوی او شرکت ټوله پانګه له لاسه ورکول:

لکه څنګه چې مخکې وویل شول، د شرکت موضوع دوه مختلف مفهومونه لري، د مالو ټولګه چې شرکت ته راوړل کیږي، او هغه فعالیت چې شرکت یې د ترسره کولو لپاره رامینځته شوی، کله چې د شرکت موضوع د شرکت دهدف د بشپړیدو یا له منځه تلو له امله منتفي شي، همدارنګه کله چې د هغه هدف پوره کول ناممکن شي چې شرکت ورته رامینځته شوی یا د فعالیت ډول چې د شراکت په تړون کې شامل شوی وي د قانون له پلوه ناممکن شي، شرکت منحل کېږي.

---

[۱]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۵۰ ماده.
[۲]- د پورتنی اخیستځای ۵۲ ماده.

د تضامني شرکتونو قانون د ٥٠ مادې ٣ او ٢ فقرې د شرکت د موضوع دواړه مفاهیم کیدلی شي یعنې:

الف: د هغې موخې پلې کیدل چې شرکت دهغې په منظور جوړ شوی دی .

ب: د شرکت ټولي یازیاتې برخې پانګې تلف کېدل، په داسې توګه چې پاتې کېدو(بقا) کې یې ګټه متصوره نوي .

له همدې امله، کله چې شرکت هغه هدف پوره کړي چې د هغه لپاره رامینځته شوی، نوشرکت منحل کیږي.

او همدارنګه د مدني قانون د عمومي احکامو سره سم، کله چې د شرکت ټوله پانګه له منځه لاړه شي، شرکت بې موضوع کیږي او منحل کیږي .

د تضامني شرکت د ختمېدو دریم لامل:

له شریکانو څخه د یوه مړینه یا د محکمې په حکم په هغه باندې دحجر واقع کېدل یا یې د افلاس ثبتېدل:

د اشخاصو په شرکتونو کې د شریک شخصیت خورا مهم دی، د یوه شریک مړینه، حجر او افلاس د شریک کولی شي د شرکت د انحلال لامل شي، په هرصورت، شریکان کولی شي د شرکت په قرارداد کې د دې مسئلې په خلاف موافقه وکړي، چې شرکت به د حجر او مړینې او د شریکانو د افلاس په صورت کې نه منحل کیږي.

د تضامني شرکت د ختمېدو څلورم لامل:

له شرکت څخه د یو شریک وتل، په هغه صورت کې چې د شرکت د فعالیت موده نا محدوده وي: البتهٔ دا هغه وخت او په دې شرط چې شریک نور شریکانو ته د هغه د وتلو نیت درې میاشتې مخکې خبر ورکړي وي، که نه نو د هغه وتل به د دوکې او غش یا په غیر مناسب وخت کې وګڼل شي، پرته له دې چې موافقه بل ډول شوې وي او که چیرې یوشریک شرکت پریږدي، که د شرکت فعالیت موده لامحدود وي، شرکت منحل کېږي.

د تضامني شرکت د ختمېدو پنځم لامل:

د شرکت په انحلال باندې د شریکانو موافقه:

د شرکت له منځه وړلو لپاره د شریکانو رضایت او موافقه هغه وخت په پام کې نیول کیږي، کله چې شرکت د نامحدود مودې لپاره رامینځته شوی وي، یا د شرکت د مودې لپاره چې د شراکت په تړون کې وړاندیز شوی وي پای ته نه وي رسیدلی، پرته لدې چې شرکت یوه محدوده نېټه ولري اونېټه یې هم پای ته رسیدلې وي، نو بیا شرکت منحل کیږي، پرته له دې چې د تحلیل په اړه د شریکانو د اراده څرګنده ونې ته اړتیا وي، ځکه چې په حقیقت کې، شریکانو لا دمخه د شرکت لپاره د مودې په ټاکلو سره د انحلال لپاره د خپلې موافقې څرګند ونه کړی ده.

**د: د انحلال ځانګړې موارد:**

په هغو تضامني شرکتونو کې چې د دوام موده محدوده یا غیر محدوده وي، له شریکانو څخه د یوه دغوښتنې په بنسټ، محکمه کولی شي له لاندې حالاتو څخه په یوه کې د شرکت پر انحلال حکم صادر کړي:

۱- د ځینو علتونو د موجودیت له امله د شرکت دشرکت دموخو نه پلې کېدل.

۲- د شرکت په اداري او حسابي چارو کې د شریکانو څخه د یوه نه رېښتونولي(صداقت).

۳- د هغه اصلي دندو نه ترسره کیدل چې له شریکانو څخه یوه ته سپارل شوې وي.

۴- د شخصي ګټو لپاره د شریکانوڅخه د یوه شریک لخوا د عام تضامني شرکت له عنوان یا مالونو څخه ناوړه ګټه اخیستنه.

۵- د دایمي ناروغۍ او یا د نورو علتونو له امله له شریکانو حخه د یوه نه کاري وړتیا او اهلیت چې د شرکت د چارو په اجراء کې د هغه د نا وړتیا باعث شي.

۶- له شریکان څخه د یو لخوا د ژمني شوې پانګې نه ورکړه، په دې شرط چې دمخه له شریکانو څخه د یوه لخوا د هغې دورکړې غوښتنه ورڅخه شوې وي.[1]

د تضامني شرکت د قانون په پورتنۍ ماده کې ذکر شوي موارد د هغو مواردو له جملې څخه دي چې د یوه شریک په غوښتنه ترسره کیږي او په حقیقت کې دا د شریک د حق د لغوه کولو یو ډول دی، د منحلولو دا حق یو قانوني اړخ لري او بل قراردادي اړخ نه لري، له همدې امله، د لغوه کولو

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۹۴ ماده.

د دې حق او د کارولو اوهمدا راز د شرکت د منحل کولو د غوښتنې لپاره د ۹٤ مادې يوه بيلګه بايد موجوده وي، ترڅو محکمه وکولی شي د شرکت د منحل کولو فرمان صادر کړي.

د شرکت د لغوه کيدو څخه وروسته بايد د اموالو خور والی پای ته ورسيږي او د شرکت څخه هيڅ شی بهر پاتې نه شي، په پايله کې، ملکيت بايد د شريکانو ترمنځ وويشل شي، ځکه چې شرکت په خپله د خپل ژوند په موده کې د افرادو سره معامله کړې او پور ورکوونکي لري چې بايد د شرکت د شتمنيو ويشلو دمخه خپل حقونه ترلاسه کړي، او د قانون اجراء کونکي د شرکت د شتمنيو د تصفيې سيستم رامينځته کړی، دا پدې مانا ده چې اموال د شرکت د نقده ولو او د پور ورکونکو د حق تاديې څخه وروسته د شريکانو ترمنځ وويشل شي، او د ويش له نيتې څخه، د شرکت پور ورکوونکي نور د شرکت په وړاندې هيڅ حق نلري، او که دوی پاتې ادعاګانې ولري، دوی بايد د پخوانيو شريکانو باندې ادعا وکړي، مګر دا پورورکوونکي هم بايد د لنډې مودې وروسته او د شرکت له منحل کيدو وروسته موده کې د تعرض څخه معاف وي، له همدې امله قانون جوړونکي په دې ډول محاکمو کې د لنډې مودې وړاندوينه کړې ده.

## دویم مبحث:

## په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت د فسخ کولو احکام.

او دغه مبحث دوه مطلبو لره شامل دی:

لومړی مطلب: د لغوه یافسخ کیدو د امکان له مخې د قراردادونو (عقودو) ډولونه.

دویم مطلب: د تضامني شرکت تصفیه.

### لومړی مطلب:

د لغوه یافسخ کیدو د امکان له مخې د قراردادونو (عقودو) ډولونه.

الف: اصل او اساس په قراردادونوکې.

ب: د لزوم او د لغوه کیدو د احتمال په پام کې نیولو سره د قراردادونو ډولونه.

### دویم مطلب:

د تضامني شرکت تصفیه.

الف: د تصفیې مفهوم.

ب: دتصفیې د پیل نیټه او په دې وخت کې د شرکت حکمي شخصیت.

ج: د تصفیې مامور او د هغه دندې او ګوښه کول یې.

د: د تصفیې بشپړېدل او په شرکت کې د پاتې شویو مالونو انجام.

## لومړی مطلب: د لغوه یافسخ کیدو د امکان له مخې د قراردادونو(عقودو) ډولونه:

**الف: اصل او اساس په قراردادونوکې:**

اصل او اساس په عقودو او قراردادونو کې لزوم دی، څکه چې الله (جل جلاله) فرمایلي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ}. [1]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په خپلو ټولو عقدونو باندې وفا وکړئ (خیانت پکې مه کوئ ).

الله (تعالی) په دې آیت کې مونږ ته امر کړی دی، چې قراردادونه بشپړ کړئ، که هغه د شرکت قراردادونه وي، د پېر یا پلور قراردادونه او یا پرته له دې نور قراردادونه وي [2]، څکه چې عقود او قراردادونه عبارت له هغو اسبابو څخه دي چې په هغه سره د شیانو څخه د موخو د تر لاسه کولو لپاره کار اخستل کیږي، او اصل د مسبباتو حاصلیدل دي په اسبابو باندې، له همدې کبله د تړون لغوه یا فسخ کیدل ممکن په ښکاره کېدو د یو سبب د اسبابو د فسخ سره وي، او همدا راز د تړون فسخ کول د متعاقدینو د ګټو د ساتلو، د شخړو د مخنیوي او د زیانونو د مخنیوي لپاره منځ ته راځي، او د فسخې له کبله قراردادونه په لاندې ډولوباندې ویشل شوي دي.

**ب: د لزوم او د لغوه کیدو د احتمال په پام کې نیولو سره د قراردادونو ډولونه:**

په اسلامي شریعت کې له دې کبله چې انسانان په خپل ژوندانه کې  خپلو ځینو سمو اهدافو ته ځان ورسوي، د دې لپاره یې عقود او قراردادونه جائز ګرځولي دي، خو ځینې قراردادونه د متعاقدینو تر منځ لازمي او ځینې یې غیر لازمي دي، او همدا راز ځینې قراردادونه ممکن دي چې فسخ کړای شي او ځینې نور بیا ممکن نه دي چې فسخ شي، له همدې کبله عقود اوقراردادونه په بیلا بیلو ډولو باندې ویشل شوي، نو په لاندې توګه ورته اشاره کوو:

قراردادونه د لازم والي له مخې په څلورو ډولونو باندې ویشل شوي دي:

۱ -لازمي قراردادونه چې فسخ کېدی نشي: لکه نکاح یا واده کول چې فسخ او اقاله یا ګوښه کول نه مني مګر همدا نکاح د طلاق، خلع او د قضایي جلا کیدو په قانوني لارو پای ته رسیږي ، او هر

---

[1] د المائدة د سورت ۱ آیت.

[2] الجصاص، الامام ابي بکر احمد الرازي، احکام القرآن، دټوک ګڼه: ۳، دپاڼې ګڼه: ۲۸۵.

هغه څه چې فسخ نه مني هغه اختيار هم نه وي، ځکه چې اختياري کېدل د هغه مالک ته د فسخې کولو حق ورکوي[1] .

۲ -لازمي قراردادونه چې فسخ مني: يعني د اقالې په توګه فسخ قبلوي البته په اتفاق د دواړو تړون کوونکو سره لکه د خرڅلاو، اجارې، مصالحې، مزارعت يا کښت او مساقات او داسې نورو چې د مالي تبادلې تړونونه وي، او دا قراردادونه اختياري دي د همدغې اختياري کېدو له مخې لغوه او فسخ هم قبلوي.[2]

۳ -له يوې خوا څخه لازمي قراردادونه: د ګروي او کفالت په څېر قراردادو څخه عبارت دي ، دا قرار داد درهن کونکي او کفيل په نسبت لازمي دي، او د پورورکوونکي، ګروي کونکي او مکفول له په نسبت لازمي نه دي، ځکه چې قرارداد د دوی د شخصي مصلحتو لپاره منځ ته راغلي دي، چې هر يوه خپل حق کلک کړی او ثابت کړی وي، او دوی دا هم کولی شي چې يو بل ته يې سره وبښي.[3]

۴ -د دواړو خواوو څخه غيرلازمي قراردادونه: دا دهغه قراردادو څخه عبارت دی، چې په هغه کې د تړون دواړه اړخونه هر يو د فسخ کولو او بيرته ورګرځېدو حق لري، لکه امانت ورکول، اعارة د يوڅه عوښتل، پور ورکول، وکالت کول او د شراکت او مضاربت په قراردادونو کې، نو د تړون دواړه اړخونه کولی شي هرکله چې وغواړي تړون فسخ کړي، او په وصيت کولو کې اوهبه يا سوغات ورکولوکې د وصيت کوونکي او سوغات ورکونکي لپاره روا دي چې د وصيت او هبې څخه رجوع وکړي، او د وصيت کوونکي له مړينې څخه وروسته يې باطل کړي، او د هبه يا سوغات ورکونکي د ژوند په حالت کې.[4]

د قراردادو ډولونه د لزوم د حيثه په وړاندې کولو سره معلومه شوه، چې شرکت په هغه قراردادونو پورې تړلی دی، چې د دواړو اړخونو څخه لازمي نه وي، په شرکت کې هر قراردادي اړخ حق لري چې په هر وخت کې د شرکت قرارداد فسخ کړي، البته دا د فسخې حالت مقيد دی په دې قيد سره چې هيڅ شريک ته په کې زيان ونه رسيږي.

[1]-- الزحيلي، وهبة بن مصطفى ، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ۴ ، دپاڼې ګڼه: ۵۹۶. هيئة کبار علماءالاسلام، موسوعة الفقهية الکويتية، د ټوک ګڼه : ۵۶ ، دپاڼې ګڼه: ۵۷.
[2]- الکاساني، علاءالدين ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼي ګڼه: ۱۳.
[3]- الزحيلي، وهبة بن مصطفى، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ۴ ، دپاڼې ګڼه: ۵۹۶. هيئة کبار علماءالاسلام ، موسوعة الفقهية الکويتية، د ټوک ګڼه : ۵۶ ، دپاڼې ګڼه: ۵۷.
[4]- الکاساني، علاءالدين ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۱۲، د پاڼي ګڼه:۱۳.

## دویم مطلب: د تضامني شرکت تصفیه:

کله چې شرکت د کوم دلیل له امله منحل شي، په دې صورت کې د تصفیې مرحلې ته ننوځي ، په ډیرو مواردو کې، د شرکت د تصفیې طریقه د شراکت په قرارداد یا په اساس نامو کې بیان شوي ، که چیرې د شراکت په قرارداد کې کوم ځانګړي شرط شتون ونلري ، د شرکت تصفیه به د تضامني شرکتونو قانون له ۱۱۵ څخه تر ۱٤٦ مادو سره سم ترسره کیږي، البته، دا هغه وخت چې شرکت د افلاس له امله منحل شوی نه وي، که چیرې د افلاس له امله منحل شوی وي، نو دا به د افلاس قانون سره سم تصفیه کېږي.

**الف: د تصفیې مفهوم:**

تصفیه په دقیقه معنی کې، دا د عملیاتو یوه ټولګه بلل کیږي، چې د شرکت د شتمنیو او ادعاوو دتصفیې لامل کیږي، او تصفیه د شریکانو ترمنځ د شرکت د شتمنیو ویش او هم د شرکت د پورونو تادیه کولو وروسته ترسره کیږي، کله چې د شرکت شتمنی د پورونو تادیه کولو لپاره کافي نه وي، نو د شرکت پورونو تادیه کولو لپاره د هر مسؤل شریک په شرکت کې ټاکل شوې ونډه یې د تصفیې عملیاتو یوه برخه جوړوي، د تضامني شرکت د شتمنیو د تصفیې کولو په اړه، د تضامني شرکت قانون دوه لارې وړاندې کوي: لومړۍ لاره د ترون لاره ده چې اړخونه د شراکت په قرارداد کې چمتو کوي، دویمه لاره قانوني تصفیه ده، کله چې د شراکت په قرارداد کې د تصفیې د مسئلې لپاره کوم ځانګړي شرایط شتون ونلري.[1]

**ب: دتصفیې د پیل نیټه او په دې وخت کې د شرکت حکمي شخصیت:**

۱- دتصفیې د پیل نیټه او موده یې:

د تضامني شرکتونو قانون دا نه ده ټاکلې چې له کومې نیټې څخه شرکت د تصفیې په حالت کې ګڼل کیږي، مګر دا ویل کیدای شي چې په محض انحلال د شرکت سره تصفیه پیلیږي، دانحلال له نېټې څخه دشرکت اهلیت دمعاملاتو په وړاندې محدود ګرځي او د شرکت په نامه باندې یواځې کولای شو هغه معاملات سرته ورسوو چې د تصفیې لپاره اړین وي.[2]

---

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۱۱۴ ماده.
[2]- د پورتنی اخیستځای ۱۲۹ ماده.

د پايلې په توګه، تصفيه کونکي بايد په ټولو قراردادونو يا نورو اسنادو کې چې د تضامني شرکت په نوم ترتيب شوي وي د مامور يا مامورانو لخوا لاسليک او بايد د (عام تضامني شرکت تصفيه) عبارت په کې شامل کړي.[1]

برسېره پر دې دا ويلای شو، چې قانون د تصفيې د ترسره کولو لپاره موده ټاکلې او مشخص کړې نه ده، او دغه مسئله يې هم داسې ګنګه پرېښې ده، او نوموړې حالت پدې معنی دی چې کولای شي د تصفيې مدير د تصفيې کار د ضروت په بنسټ د اوږدې مودې لپاره وغزوي.

۲- د شرکت حکمي شخصيت د تصفيې په وخت کې:

د تضامني شرکت د قانون له مخې د تضامني شرکت د تصفيې مسوولين کولی شي د محاکمو يا نورو قضايي شخصيتونو په وړاندې د شرکت د حقوقي شخصيت استازيتوب وکړي.[2]

د دې مادې څخه دا په ګوته کيږي چې د شرکت حکمي شخصيت د تصفيې په وخت کې په خپل ځای پاتې کيږي، او د شرکت د تصفيه کونکو لخوا د هغې د شخصيت استازيتوب کيږي.

د شرکت د حکمي شخصيت پاتې کيدل د تصفيې په حالت کې لاندې پايلې لري:

۱-: شرکت خپل نوم او د اوسيدو ځای په دې سره ساتي، ترڅو دريم اړخ وکولی شي د شرکت پروړاندې دعوی وکړي، او په عمومي ډول خپل حقونه وغواړي، له بلې خوا، د خپل نوم او استوګنې په ساتلو سره، شرکت به وکوالی شي په خپلواکه توګه د هغو خلکو په وړاندې دعوی وکړي چې پوروړي دي، او د شرکت د استوګنې ځای ساتلو سره د تصفيې په حالت کې شرکت کولای شي د محکمې صلاحيت او واک وټاکي.

۲- : شرکت کولی شي د تصفيې د اړتيا په چوکاټ کې نوي مکلفيتونه ترسره کړي.[3]

۳- : که چيرې شرکت د دې توان ونلري چې خپل پورونه اداء کړي او د دې انحلال د افلاس پايله نه وي، د شرکت پور ورکوونکي کولی شي د شرکت د افلاس حکم صادرولو غوښتنه د تصفيې په حالت کې وکړي.[4]

۴- : د شرکت قانوني شخصيت يوازې د تصفيې لپاره پاتې کيږي، شرکت د انحلال له نېټې څخه نه په بل شرکت باندې د بدليدو وړ دی او نه د نوي فعاليت پيلولو توان لري.

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۱۲۰ ماده.
[2]- د پورتنی اخيستځای ۱۲۸ ماده.
[3]- د پورتنی اخيستځای ۱۲۹ ماده.
[4]- د پورتنی اخيستځای ۱۲۲ ماده.

۵- : دهغو معاملو په ترڅ کې چې د انحلال دمخه يې ترسره کړي شرکت کولی شي نوي معاملو ته ننوځي.

کله چې د شرکت لغوه کول د ټولو شريکانو په خوښه وي، آيا شريکان کولی شي خپل نظر بدل کړي او د شرکت دوام وغواړي؟

داسې ښکاري چې د افغانستان قانون ذکر شوې پوښتنې ته مثبت ځواب ورکړی، او شريکانو ته يې حق ورکړی چې د تصفيې پر مهال له تصفيې څخه ووځي، او د شرکت د دوام لپاره موافقه وکړي.

**ج: د تصفيې مامور او د هغه دندې او ګوښه کول يې:**

لومړی: د تصفيې مامور:

کله چې شرکت منحل شي او د تصفيې پړاو ته ننوځي، په شرکت کې دمديرانو واکونه پای ته رسيږي او د تصفيې مامور په نوم بل کس د هغوی ځای نيسي، د تصفيې مامور د تصفيې د عملياتو له کبله مسؤل دي، او د تضامني شرکت دمعاملاتو تصفيه کول د تصفيې دمامورانو دنده ده.[1]

د تصفيې مامورين عبارت دي له:

۱- هغه کسان چې د تضامني شرکت په قرارداد کې د تصفيې د مارينو په توګه ټاکل شوي وي.

۲- هغه کسان چې د تضامني شرکت په قرارداد کې نه وي ټاکل شوي، مګر د تضامني شرکت له مينځه وړلو دمخه يا وروسته د شريکانو لخوا د تصفيې د مامورينو په توګه ټاکل شوي وي.

۳- که چيرې د تصفيې مامورين نه وي ټاکل شوي، هر يو شريک يا د دوی قانوني وکيلان د تضامني شرکت د معاملاتو د تصفيې ماموران ګڼل کيږي، که کوم شريک د مراجعې غوښتنه وکړي، د تصفيې مامورين به د اړوندې محکمې لخوا ټاکل کيږي.[2]

۴- هغه د تصفيې مامورين چې د شريکانو لخوا غوره شوي يا د محکمې لخوا ټاکل کيږي، کېدای شي چې د شريکانو څخه يا د شرکت د شريکانو څخه بهر بل کس وي.[3]

---

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۱۱۵ ماده.
[2]- د پورتنی اخيستځای ۱۱۶ ماده.
[3]- د پورتنی اخيستځای ۱۱۷ ماده.

دغه راز د تضامني شرکتونو د قانون له مخې، ټول هغه شرایط چې دتضامني شرکت په قرارداد کې د تصفیې د مامورینو په برخه کې شامل دي، باید د ثبت په مرکزي دفتر کې ثبت او اعلان ته وړاندې کړل شي.[1]

دویم: د تصفیې دمامور دندې او واکونه:

د تضامني شرکتونو د قانون له مخې، د تصفیې مامورین مکلف دی چې لاندې دندې ترسره کړي:

۱ - دعام تضامني شرکت د ټولو معامل تصفیه چې د انحلال دمخه پیل شوې وي، بشپړول.

۲- د عام تضامني شرکت د دیونو او نورو طلباتو نغدا او د دائینو د موافقې په صورت کې جنسا ورکوي.

۳- د عام تضامني شرکت طلبات له ثالث شخص څخه تحصیل او جنسي شتمنی یې په نغده تبدیلوي.

۴- د هغو معاملو د سرته رسولو لپاره چې دتضامني شرکت د حسابونو را ټولولو او دشریکانو تر منځ د نوموړې شرکت د شتمنۍ د ویشلو لپاره لازمي دي، لازم تدبیرونه نیسي.[2]

همدارنګه، د تضامني شرکتونو قانون، لاندې مکلفیتونه د شرکت مسؤلینو لپاره هم اضافه کړي دیاو داسې بیان کوي: د تصفیې مامورین د عام تضامني شرکت دمعاملو په وخت کې د لاندې مکلفیتونو لرونکي هم دي:

۵- د شرکت دمعاملو د تصفیې د سموالي د تأمین لپاره د شرکت د دفترونو او وروستنیو (نهائي) سندونو دقیق ترتیبول.

۶- د شریکانو د غوښتنې په صورت کې د شرکت د معاملو د تصفیې د وضعیت په هکله د شفاهي یا لیکلي رپوټ وړاندې کول.

۷- د شریکانو دغوښتنې په صورت کې د تضامني شرکت د تصفیې پورې د ټولو اړوندو پاڼو او دفترونو په لاس ور کول . دتصفیې مامورین نشي کولی شریکان د دفترونو او پاڼو د نقل اخستلو څخه منع کړي.

---

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۱۴۱ ماده.
[2]- د پورتنی اخیستځای ۱۲۷ ماده.

۸- دهغو نغدي وجوهو چې د تصفيې په ترڅ کې ترلاسه کېږي، په یوه معتبر بانک کې په امانت اېښودل، دهغو ورځنيو عادي لګښتونو په استثنی چې د شرکت د کار د پرمخبيولو لپاره کفايت وکړي.[۱]

د دې دندو په پلې کولو کې، قانون جوړه ونکي دتصفيې مامور ته واک ورکړی چې د دريمې ډلې په وړاندې دعوا وکړي؛ ځکه چې هغوی د شرکت د حکمي شخصيت استازی توب کوي، يا د دعوا کولو لپاره وکيل غوره کړئ، يا د تصفيې ماموران کولی شي د تضامني شرکت د معاملاتو د حل لپاره خبرې اترې ترسره کړي يا د اړتيا په صورت کې پريکړه کونکی وټاکي.[۲]

پورتني واکونه داښيي چې دريمې ډلې کولی شي، چې په اسانی سره د تصفيه کونکي سره په خپلو معاملو کې په اعتماد سره کار وکړي، ځکه داسې انګيرل کيږي چې تصفيه کونکي د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره ټول اړين واکونه لري، هغه مؤيدات چې د تصفيې مامورينو لپاره د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره په پام کې نيول شوي، د تضامني شرکتونو قانون يې داسې بيان کوي: دتصفيې مامورين د شريکانو او ثالثو اشخاصو په مقابل کې، دهغو ترسره شويو اقداماتو په هکله چې دقايم مقام يا نورو استازو لخوا چې د تصفيې د مامورينو لخوا دعام تضامني شرکت په مقابل کې د ورسپارل شويو دندو د پرمخ بيولو لپاره ټاکل شوي، مسئول دی.[۳]

د تصفيې د مامور بله دنده د شرکت پور تاديه کول دي، په دې شرط چې پور يقيني او ثابت وي، نو د تصفيې مامور به يې اداء کوي، که د شرکت پور مؤجل وي، که پور اخيستونکی يې ومني، د تصفيې مامور به يې د تخفيف په بڼه ورکوي.[٤]

درېم: د تصفيې د مامور ګوښه کول:

د دې قاعدې له مخې چې: من يملک التعيين يملک العزل.

ژباړه: څوک چې د ګمارنې واک لري، د عزل د واک خاوند هم دی.

د مامورينو ګوښه کول، د هغو اشخاصو حق دی چې دوی يې ټاکلي دي، که چيرې د شرکت شريکانو دوی ټاکلي وي همدغه اشخاص د دوی د ګوښه کولو واک لري، او که محکمه مامور د

---

[۱]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۱۴۰ ماده.
[۲]- د پورتنی اخيستځای ۱۳۰ ماده.
[۳]- د پورتنی اخيستځای ۱۴۴ ماده
[٤]- د پورتنی اخيستځای ۱۳۳ ماده

تصفیه کونکي په توګه وټاکي، نو نوموړې محکمه د دې واک لري چې د تصفيې مامورګوښه کړي. په دې اړه، د تضامني شرکتونو قانون داسې بیان کوي:

دتصفيې هغه مامورين چې د عام تضامني د عقد پر موجب د شرکت د انحلال دمخه يا وروسته د شريکانو د خپل منځ يا له بهر څخه غوره شوي وي، د شريکانو د رأيو په اتفاق لرې کېدای شي د نه اتفاق په صورت کې، له شريکانو څخه د هريوه د غوښتنې په اثر، د تصفيې مامورين د محکمې لخوا لرې کيدای شي .[1]

همدارنګه د تضامني شرکتونو قانون زياتوي چې: د تصفيې هغه مامور چې د محکمې لخوا ټاکل شوی وي، لرې کېدل يې يواځې د محکمې لخوا صورت مومي.[2]

**د: د تصفيې بشپړېدل او په شرکت کې د پاتې شويو مالونو انجام:**

۲- دتصفيې بشپړېدل:

تصفيه هغه وخت بشپړېږي چې د شرکت پورونه تاديه شي او د شرکت پوروړيو څخه پورونه راټول شي، او په همدې وخت کې دتصفيې د مدير دنده ختمه او د تصفيې په سرته رسېدو سره د شرکت حکمي شخصيت هم پای ته رسيږي.

د تضامني شرکتونو قانون له مخې، دتصفيې مامورين، د عام تضامني شرکت دمعاملو د تصفيې په پای کې، د عقد او يا دشريکانو يا محمکې لخوا د نيول شوو تصميمونه مطابق، مکلف دي په تصفيې پورې د اړوند حسابونه او له پانګې څخه دشريکانو د ونډې، ګټې ضرر او نورو اقلام لرونکې بيلانس شيټ چمتو او شريکانو ته يې و سپاري، په هغه صورت کې چې شريکان د يوې مياشتې په ترڅ کې اعتراض ونه کړي، بيلانس شيټ او حسابونه قطعيت مومي، که چيرې شريکان خپله ويشل شوې ونډه تر يوې مياشتې پورې د عام تضامني شرکت له شتمنيو څخه ترلاسه نکړي، او يا يې له اخستلو څخه ډډه وکړي، د تصفيې مامورين کولی شي ټاکل شوې ونډې د هر شريک په نوم له معتبرو بانکونو څخه په يوه کې په امانت کېږدي.[3]

په آخر کې، د عام تضامني شرکت پاڼې او دفترونه دتصفيې د معاملو په پای کې په ډاډمن ځای کې چې د شريکانو لخوا ټاکل کيږي، په امانت توګه ايښودل کېږي، دغه پاڼې او دفترونه د تصفيې له

[1]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۱۲۳ ماده
[2]- د پورتنی اخيستځای ۱۲۴ ماده
[3]- د پورتنی اخيستځای ۱۴۲ ماده

پای ته رسیدو وروسته تر(۱۵) کلونو پورې ساتل کېږي، که چېرې د پاڼو او دفترونو دساتنې دځای په هکله د شریکانو د نظر اتفاق تر لاسه نشي، د ځای ټاکل د محکمې واک دی.[۱]

۲- د تصفیې څخه وروسته د شرکت د اموالو وېش:

د تضامنی شرکتونو قانون د تصفیې مامورینو ته دا واک ورکړی، چې د تضامني شرکت د شتمنۍ یوه برخه چې د شرکت دپورونو بسنه وکړای شي له ځان سره وساتي، او پاتې شتمنۍ د شریکانو په منځ کې و ویشي.[۲]

کله چې پور تادیه شي، هغه چې د شرکت د خالصې شتمنۍ څخه پاتې پاتې شي د شراکت د تړون یا د شریکانو د پریکړې پراساس، د تصفیې د مامورانو لخوا د شریکانو ترمنځ ویشل کېږي، پرته له دې چې په قرارداد کې بل ډول تصریح شوي وي، او د شریکانو لخوا د بلې پریکړ تصمیم نیول شوې وي، او دا ویش به په نغدو پیسو ترسره کیږي.

که چیرې د شرکت د شتمنیو د ویش په اړه کوم حکم شتون ونلري، په مدني قانون کې د ګډو مالونو د ویش په اړه حکمونه باید رعایت کړای شي .[۳]

مهمه دا ده چې د شرکت حکمي شخصیت ترڅومره وخته پورې پاتې کیږي، داسې ښکاري چې کله د شرکت ملکیت او شتمنۍ د شریکانو او د تصفیې مامورینو لخوا و ویشل شي، شریکان هم خپل حکمي شخصیت له لاسه ورکوي، د پور ورکونکو تر منځ د شرکت د شتمنیو د تصفیې او ویش له بشپړیدو وروسته، د شرکت پورورکونکیو ترمنځ د هغه دلې ادعاګانې چې د ځینو دلیلونو له امله یې خپل حقونه نه دي ترلاسه کړي اوریدل کېږي، د دې څخه پرته نور څه د شرکت په وړاندې نه اوریدل کیږي، او دریم اړخ کولی شي یوازې د شرکت د هغه شریکانه په وړاندې د دعوی اقامه وکړي، چې هغوی د لامحدود مسؤلیت خاوندان وي، او دا یو منطقي قاعده او د شرکت د حکمي شخصیت د لمنځه تللو پایله ده.

[۱]- د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون ۱۴۶ ماده
[۲]- د پورتنی اخیستځای ۱۳۹ ماده
[۳]- د پورتنی اخیستځای ۶۰ ماده

## دریم مبحث:

## په اسلامي فقه کې د تضامني د شرکت د ختمیدو اغیزې.

او دغه مبحث دوه وو مطلبو لره شامل دی

لومړی مطلب: د تیر او راتلونکي لکبله د تړون پای ته رسیدو اغیزې.

دویم مطلب: په اسلامي فقه کې د شراکت د شرکت د ختمیدو اغیزې.

## لومړی مطلب:

د تیر او راتلونکي لکبله د تړون پای ته رسیدو اغیزې.

الف: د فوري قراردادونو پای ته رسیدو اغیزې.

ب: د دوامدار قراردادونو د ختمیدو اغیز.

## دویم مطلب:

په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت د ختمیدو اغیزې:

الف: په شرکت کې د شریک په مړینه او د مودې په پای ته رسیدو سره اغیزې.

ب: د تضامني شرکت دلایحو څخه نه پیروي او د خپل استازې څخه د خپلواکي اغیزې.

ج: د شرکتو یو ځای کېدل اویا د قضاء لخوا د شرکت ختمول.

## لومړی مطلب: د تیر او راتلونکي لکبله د تړون پای ته رسیدو اغیزې:

د تړون په فسخي سره د پاي ته رسیدو اغیز د تړون د ډول ته په کتو سره توپیر لري.

### الف: د فوري قراردادونو پای ته رسیدو اغیزې:

په سمدستي یا فوري قراردادونو کې لکه د خرڅلاو او مقایضې، بیعې چې یو متقابل تاثیر لري چې تیر وخت ته غزیږي، نو دا د هغه مکلفیتونو بیرته اخیستل لازموي چې اجرا شوي دي ، نو د بیع فسخ کول، پلورل شوي شیانو ته او یا قیمت ته ګرځیدل لازموي، په ورته ډول، د سپارلو دمخه د پلورل شوي شی په هلاکه کیدو سره یا د بیع په فسخ کول سره د ترلاسه شوي نرخ بیرته ستنیدل لازمي دي؛ ځکه چې ثمن او قیمت پرته له مبیعې پاتې کیږي، او له همدې امله دا ممکنه نه ده چې د فسخ کولو سره سم د شفعې غوښتنه وشي.[1]

### ب: د دوامدار قراردادونو د ختمیدو اغیز:

په دوامداره قراردادونو یا د مودې په قراردادونه کې چې تل قابل اجراء وي څومره موده وغزیږي غزول کیږي، لکه د اجارې یا د شرکت قرارداد، چې فسخ په کې محدوده وي یعنې د شاته ګرځیدو اغیز نه لري، بلکې یوازې په راتلونکي باندې تطبیقیږي، او هغه څه چې تېر شوي د تړون له اصولو سره به سم وي، فسخ کول یا انفساخ د راتلونکي په اړه د دې قراردادونو اغیزلمنځه وړي، او هغه څه چې تیر شوي د عقد تر حکم لاندې پاتې کیږي، په ورته ډول ، د وکالت فسخ یعنی د وکیل له دندې ګوښه کولو سره د پخوانی وکیل کړنې نه باطلیږي.[2]

ابن القیم (رحمه الله) وایي:

که په شرکت او مضاربت کې فساد رامنځته شي، نو د شریک او کارکونکي تصرف کول جائز دي او د شرکت فساد دهغوی تصرف نه فاسدوي، ځکه چې فاسد عقد او قرارداد اجازې لره شامل وي، ځکه دا اجازه او وکالت دفاسد عقد په ترڅ کې هم حاصلیږي، نو دعقد یا قرار داد په فساد سره تصرف نه فاسدیږي ځکه چې تصرف د اجازې او د وکالت له توابعو څخه دی، نه د ملک له توابعو څخه.[3]

---

[1]- الزحیلي، وهبة بن مصطفی ، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ۴ ، دپاڼي ګڼه: ۷۰۱.
[2]- پورتنی اخیستڅای.
[3]-ابن القیم، محمدبن ابي بکر الجوزي، اعلام الموقعین عن رب العالمین، د ټوک ګڼه: ۳ ، د پاڼي ګڼه: ۴۱۵.

## دویم مطلب: په اسلامي فقه کې د تضامني شرکت د ختمیدو اغیزې:

د تړون د ختمیدو اغیزې د شرکت د ډولونو په تناسب سره توپیر لري، یعنې د اشخاصو د شرکتو او د اموالو د شرکتو د ختمېدو اغېزې یوبل سره جلا دي، البته دغه اغېزې د شرکت په قرارداد کې شامل شوي شرایطو سره سم را څرګندېږي، خو په دې مطلب کې د تضامني شرکت د ختمیدو اغیزو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

**الف: په شرکت کې د شریک په مړینه او د مودې په پای ته رسیدو سره اغیزې:**

۱ - د یوه شریک مړینه:

د یوه شریک مړینه په شرکت باندې ډېر ژور اغېز لري، آن دا چې وضعي قوانین د اسلامي فقه سره موافق دي، چې د اشخاصو شرکت په دې سره لمنځه ځي، او تضامني شرکت هم د اشخاصو دشرکت یو ډول دی، چې د یوه شریک په مړینې سره ختمیږي، او وارثان په شرکت کې د شریک ځای نشي نولی، ځکه چې شرکت تړون د شریکانو د ځانګړتیاو پر بنسټ باندې منځ ته راځي، او بل داچې شرکت د وکالت او کفالت پر بنسټ ولاړ دی، کوم چې په مرګ باندې باطلیږي، خو که شریکان موافقه وکړي چې شرکت د یوه شریک د مړېنې څخه وروسته هم باید دوام وکړي، نو دا توافق سم دی، البته د شریکانو او وارثانو ترمنځ د نوی تړون په تر سره کیدو سره، مګر د اموالو شرکتونه دیوه شریک به مړینې سره نه ختمیږي.[1]

امام نووي (رحمه الله) وایي:

وارث د ویش او د شرکت ادامه ورکولو ترمنځ انتخابولو کې د اختیار خاوند دی، خو که هغه هوښیار وي، که چیرې وارث نابالغ وي او بیا هغه ته ولي تاکل شوی وي د صغر یا دجنون له کبله د هغه ولي باید هغه څه وکړي چې په دواړو معاملو کې د هغه برخه ساتل شوې وي، مګر شرکت د قرارداد په تجدید سره ادامه پیدا کوي.[2]

[1]- الکاساني، علاءالدین ابوبکربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، د ټوک ګڼه: ۶، د پاڼي ګڼه:۷۷. الخیاط، عبدالعزیز عزت، الشرکات فی الشریعة الاسلامیة والقانون الوضعي، دټوک ګڼه: ۱، د پاڼې ګڼه: ۳۴۳. احمد ، ابراهیم سید احمد، العقود والشرکات التجاریة ، دپانی ګنه: ۱۴۴.
[2]- النووي، ابو ذکریا محی الدین یحي بن شرف، روضة الطالبین وعمدة المفتین، دټوک ګڼه : ۶،دپاڼې ګڼه: ۱۵.

۲ - د اشخاصو د شرکت د مودې پای ته رسېدل:

د اشخاصو په شرکت باندې د نېټې ختمیدلو اغېز دا دی چې په دې سره د اشخاصو شرکت پای ته رسیږي، مګر دا چې د پای ته رسیدو موده یې دمخه ټاکل شوې وي، او که چیرې شریکان د مودې له پای ته رسیدو وروسته دشرکت کار ته دوام ورکړي، بیا نو دا نوی شرکت ګڼل کیږي[1] .

**ب: د تضامني شرکت دلایحو څخه نه پیروي او د خپل استازې څخه د خپلواکي اغیزې:**

۱ - د تضامني شرکت له لخوا د خپارل شویو لایحو څخه نه اطاعت:

د تضامني شرکت له لخوا د خپارل شویو طرزالعملونو څخه اطاعت نه کول، اغېز دادی چې قرارداد یا عقد په شرعي توګه ور سره نه باطلیږي، او دا تړون د اعتبار وړ او د تطبیق وړ دی، ځکه چې د تړون ارکان چې له ایجاب او قبول څخه عبارت دي، په خپل ځای دي او ور سره تړون ترسره شوی دی، نو د عقد ارکان پوره دي، پرته لدې چې یو له دوی څخه د شرکت د باطلولو لپاره غوښتنه وکړي، او د بطلان حکم یې تصویب شي، او بله دا چې په بطلان باندې حکم او فیصله د برته ګرځیدو اغېز نه لري، یعنې قرارداد او عقد صحیح او د اعتبار وړ دی، او شرکت د دې قضاوت څخه دمخه دوره کې د حقیقي شرکت په توګه خپل شتون ته دوام ورکړی دی.

۲ - د خپل استازي له شخصیت څخه خپلواکي:

په هغه صورت کې چې شرکت د خپل استازي له شخصیت څخه خپلواکي ترلاسه کړي، پدې معنی چې شرکت بې وکیله پاتې شي، نو د بې وکیله کېدو اغېز دادی چې، د هغه د بدلون څخه د مخکنې وکیل واک په شرکت باندې دوام پیدا کوي.[2]

**ج: د شرکتو یو ځای کیدل اویا د قضاء لخوا د شرکت ختمول:**

۱- د یو شرکت بل سره یوځای کول:

که چیرې یو شرکت له بل شرکت سره ضمیمه شي یا مخلوط او ګډ شي، پدې صورت کې اغېز یې دادی چې د لومړي شرکت خپل مدیر د مدغم شوي شرکت عمومي جانشین ګڼل کیږي، په هغه حدودو کې چې د انضمام په قرارداد کې ور باندې موافقه شوې وي.

۲ – د قضاء لخوا د شرکت د قرارداد د ختمول:

---

[1]- الخیاط، عبدالعزیز عزت، الشرکات فی الشریعة الاسلامیة والقانون الوضعي، دټوک ګڼه: ۱، د پاڼې ګڼه: ۳۴۳. احمد، ابراهیم سید احمد، العقود والشرکات التجاریة ، دپانی ګنه: ۱۴۳.

[2]- الخیاط، عبدالعزیز عزت، الشرکات فی الشریعة الاسلامیة والقانون الوضعي، دټوک ګڼه: ۱، د پاڼې ګڼه: ۳۴۳.

شريکان کولی شي د قضايي قوې له لارې  قرارداد فسخ کړي، او دا هم په هغه وخت کې چې په شرکت کې  ژوره تېروتنه يا د چا د ناروغۍ يا د جنون سره مخامخ شي، بيا قاضي د دلائلو اعتبار ته په کتو سره پرېکړه کوي، کله قاضي د شرکت د منحل کولو لپاره حکم او فيصله وکړي، د شرکت انحلال به يوازې د راتلونکي لپاره د شرکت منحل کيدو لامل ګرځي، او د شرکت تصفيه د قضاء لخوا د شرکت د انحلال له فيصلې څخه وروسته پای ته رسيږي .[۱]

اسلامي شريعت له قانون سره په دې کې موافق دي، چې د شريک له مړيني سره د شراکت تړون ختميږي، او وارثان د شريک ځای نه نشي نيولی، ځکه چې قرارداد دمړه شوي شريک د ځانګړتياوو پر بنسټ منځ ته راغلی دی، او شرکت ولاړ په وکالت او کفالت باندې دی، او دغه

دواړه په مړيني سره لمنځه ځي نو شرکت هم دشريک په مړيني سره پاي ته رسيږي، البته په خلاف د اموالو دشرکت سره چې په مړيني سره لمنځه نه ځي، او د شراکت د پای ته رسيدو نور اسباب او لاملونه شتون نلري، چې په شرکت باندې څه اغيز ولري، چې شرکت لمنځه ويسي يا چې پرمختګ څخه يې مخنوي وکړي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې ټول تړونونه د اسلامي شريعت په رڼا کې ترسره شوي وي، ځکه چې په سپېڅلي اسلامي شريعت کې معاملې د موافقي او دوه اړخيز رضايت پر بنسټ ولاړ دي، او د قراردادونو پر مخ به هېڅ مانع او خنډ نوي ترڅو چې د شرعي قانون څخه سرغړونه پکې شامله نوي .

[۱]- الزحيلي، وهبة بن مصطفی ، الفقه الاسلامي و ادلته، دټوک ګڼه: ۴ ، دپاڼې ګڼه: ۷۰۲. احمد ، ابراهيم سيد احمد، العقود والشركات التجارية ، دپاڼی ګڼه: ۱۴۳.

## خاتمه

د دې بحث او څېړنې په پای ته رسولو سره چې پرته د الله (جل جلاله) له مهرباني څخه ممکن نه وو، خو د الله عز وجل په فضل او مرحمت سره په ليکلو کې بريالی شوم، له نېکه مرغه د دې څېړنې سره د ليکونکي دپوهې کچه ډېره لوړه او ځينو مهمو پايلو ته مو لاس رسی پيدا کړ، چې له ځينو سپارښتنوسره په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوم:

لومړی: مهمې پايلې:

۱- سوداګريز شرکتونه د پانګې اچونې، ګټو او پيسو خوندي کولو لپاره ترټولو لارو څخه مهمه او اغېزمنه لارې څخه عبارت دی.

۲- تضامني شرکت د عصري شرکتونو يوه ځانګړې بڼه ده، چې د اشخاصو د شرکت د ډلې څخه شمېرل کيږي، او د اقتصاد څرخ خورا اغيزمن کوي، او بيکارۍ ريښې لمنځه وړي.

۳- تضامني شرکت د اسلامي فقهي د شرکتو له ډلې څخه د عنان شرکت، مضاربت شرکت او د مفاضې له شرکتو سره ورته والی اومشابهت لري، البته د مفاوضې د شرکت دمساوات د شرط په استثنا سره.

۴- په تضامني شرکت کې ګډون کول او برخه اخيستل روا دي، په دې شرط چې په هغه څه سره معامله ونه کړي چې الله تعالی حرام کړي وي.

۵- تضامني شرکت د يوه معنوي شخصيت په درلودو سره د ملکيت وړتيا لري، اوپه خپله شرکت دې دعوې کولو توان لري او نور هم ورباندې دعوه کولی شي.

۶- تضامني شرکت د شريکانو د پورونو څخه جلا مالي مسؤليت نلري، مګر هر شريک په خپلو شخصي اموالو کې د شرکت د پورونو مسؤليت لري.

۷- په تضامني شرکت کې ګټه د تړون له مخې ويشل کيږي، او تاوان د پانګې د مقدار سره سم، او که کوم شريک يواځې په کار کولو اوعمل کې شريک وي، نو په هغه باندې بايد چې دې تاوان او خسارې پېټی بار نه کړای شي.

۸- تضامني شرکت په هکله دا ويلی شو چې نوموړی شرکت په ټوله کې د شرعي احکامو تابع دی.

۹- د تضامني شرکت ختمېدل د تضامني شرکتونو په قانون کې د اسلامي شريعت سره د شرکت په ختمېدو کې برابر او ورته والی لري.

دوم: سپارښتنې:

۱- اسلامي نظام ته پکار ده، چې د ټولنې د خدمت او د بېکارۍ په لرې کولو کې د اغېزمن رول له امله له قانوني او مالي پلوه د دې شرکتونو ملاتړ وکړي.

۲- د وخت د حاکمانو لخوا بايد د ټولو معاملو څارنه وشي، چې د اسلامي شريعت له مخې رامنځته او پلي شي.

۳- او زده کوونکو ته لارښوونه وشي، چې د شرکتونو په موضوع کې ليکل وکړي، او د وضعي قانون سره يې پرتله کړي.

له الله تعالی څخه غواړم چې له دې تحقيق څخه مسلمانانو ته ګټه ورسوي، او د يو داسې نيک عمل په توګه يې قبول کړي چې د قيامت په ورځ ورباندې زما د نيکيو تله درنه شي، او په دې باندې الله (جل جلاله) قادر او توانا دی .

ولله الحمد من قبل ومن بعد والله غالب على أمره وصلى الله وسلم على إمام البشرية نبينا محمد وعلى آله وصحبه.

## دآیاتونو لړلیک

| ګڼه | آیاتونه | سورت | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | إِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ... | نساء | ۲۲ |
| ۲ | ضَرَبَ لَكُمْ مَثَلًا مِنْ أَنْفُسِكُمْ هَلْ لَكُمْ مِنْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ مِنْ شُرَكَاءَ. | روم | ۲۱ |
| ۳ | فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ... | بقرة | ۶۸ |
| ۴ | قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَى نِعَاجِهِ وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي | ص | ۲۲ |
| ۵ | لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ... | بقرة | ۱۰۷ |
| ۶ | وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي | طه | ۹ |
| ۷ | وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ... | مزمل | ۱۰۷ |
| ۸ | وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ... | بقرة | ۹۱ |
| ۹ | وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ | بقرة | ۶۹ |
| ۱۰ | وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ... | طلاق | ۹۱ |
| ۱۱ | هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ | ملک | ۹۵ |
| ۱۲ | هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا... | هود | ۹۵ |
| ۱۳ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ... | مائدة | ۸۸ |
| ۱۴ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ... | بقرة | ۶۸ |
| ۱۵ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً | نساء | ۵۸ |
| ۱۶ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ... | مائدة | ۱۳۹ |
| ۱۷ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ... | نساء | ۸۹ |
| ۱۸ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ... | مائدة | ۹۸ |
| ۱۹ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ... | نساء | ۹۸ |

# داحادیثولړلیک

| گڼه | حديث | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | الامام ضامن | ۱۶ |
| ۲ | انصرفا نفي لهم بعهدهم ونستعين الله عليهم | ۹۰ |
| ۳ | أَنَّ مَا كَانَ بِنَقْدٍ فَأَجِيزُوهُ، وَمَا كَانَ بِنَسِيئَةٍ فَرُدُّوهُ | ۲۵ |
| ۴ | إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ | ۲۳ |
| ۵ | ألا من ولى يتيما له مال فليتجر فيه | ۹۶ |
| ۶ | ثلاث فيهنَّ البركة البيع الى أجلٍ و المقارضة و اَخْلَاطُ البُرّ با الشعير للبيت | ۱۰۸ |
| ۷ | الشفعة في كل شرک في ارض أوربع اوحائط | ۲۴ |
| ۸ | فَاوِضُوْ فَاِنَّهُ أعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ | ۱۰۶ |
| ۹ | لانذر في معصية الله | ۹۳ |
| ۱۰ | لتأخذوا مناسككم فإني لا أدري لعلي لا أحج بعد حجتي هذه | ۸۷ |
| ۱۱ | مَرْحَبًا بِأَخِي وَشَرِيكِي، لاَ يُدَارِي وَلاَ يُمَارِي. | ۲۴ |
| ۱۲ | المسلمون شركاء فى الثلاث: فى الماء و الكلا و النار | ۳۰ |
| ۱۳ | من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد | ۸۷ |
| ۱۴ | مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ | ۹۲ |
| ۱۵ | الْمُسْلِمُونَ عِنْدَ شُرُوطِهِمْ إِلاَّ شَرْطًا حَرَّمَ حَلاَلاً أَوْ شَرْطًا أَحَلَّ حَرَامًا | ۹۹ |
| ۱۶ | ما أحل الله في كتابه فهو حلال وما حرم فهو حرام | ۸۹ |
| ۱۷ | من عمل عملاً ليس عيه أمرنا فهو رد | ۹۲ |
| ۱۸ | نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ قَاضِيَةَ | ۱۲۴ |
| ۱۹ | نهى رسول الله (صلى الله عليه وسلم) عن بَيْعِ الْحَصَاةِ وَعَنَ بَيْعِ الْغَرَر | ۱۰۵ |
| ۲۰ | هذا ما اشترى العداء بن خالد بن هوذة من محمد رسول الله (صلى الله عليه وسلم) | ۶۸ |

## د اعلامو لړلیک

| مخ | اعلام | ګڼه |
|---|---|---|
| ۱۱ | ابن قدامة، أبي محمدعبدالله بن أحمد بن محمد. | ۱ |
| ۳۸ | ابن عبدالبر، ابوعمريوسف بن عبدالله. | ۲ |
| ۱۰ | خليل، خليل بن اسحاق الجندي. | ۳ |
| ۱۲ | الخفيف، علي الخفيف. | ۴ |
| ۱۶ | الخياط، عبدالعزيز عزت. | ۵ |
| ۱۰ | الزبيدي، أبوبكربن علي بن محمدالحداد. | ۶ |
| ۱۷ | سامي، فوزي محمد. | ۷ |
| ۱۱ | الشربيني، شمس الدين محمد بن احمد. | ۸ |
| ۳۶ | الصاوي، احمد بن محمد. | ۹ |
| ۳۳ | المغربي، محمد بن محمد بن عبدالرحمن. | ۱۰ |
| ۳۹ | المرداوي، ابوالحسن علي بن سليمان. | ۱۱ |

# دمنابعو لړلیک

لومړی : قرآنکریم او تفسیر:

-قرآنکریم

-د تفسیر او علوم القرآن کتابونه:

ابن عاشور، الشیخ طاهربن عاشور،التحریرو التنویر، دچاپ کال:۱۹۹۷م، دچاب ځای ، دار سحنون تونس.

الجصاص، الامام ابي بکر احمد الرازي، متوفی۱۳۷۰هـ ق، احکام القرآن، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۲۱هـ ق، دچاپ ځای: دارالفکربیرت لبنان.

الشنقیطی، محمد الامي بن محمدالمحتار، اضواء البیان في ایضاح احکام القرآن با القرآن، دچاپ کال: ۱۴۰۸هـ ق ۱۹۸۸م، دچاپ ځای: مکتبه ابن تیمیة.

الطبري، ابی جعفرمحمد بن جریرمتوفی ۳۱۰هـ ق ، جامع البیان فی تأویل آي القران ، دچاپ ځای: دارالفکر

عزیز، ابوحذیفه مولوي سلطان عزیز، عزیزالتفاسیر، د چاپ کال: ۱۴۳۳هـ ق۱۳۹۱هـ لمریز دچاپ ځای: دارالکنوزالعلمیة، پیشاور باکستان.

القرطبي، أبوعبد الله محمد بن أحمد بن أبي بکر بن فرج الأنصاري الخزرجي متوفی ۶۷۱هـ ق، الجامع لأحکام القرآن، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۲۴هـ ق ۲۰۰۳م: دچاپ ځای: دارالفکر بیروت لبنان.

دوم: د احادیثو او د احادیثو د شروحو کتابونه:

احمد ابن حنبل، احمد ابن حنبل أبوعبدالله الشیباني، مسند احمدبن حنبل، دچاپ ځای: مؤسسة القرطبه القاهرة.

ابن ماجه، محمد بن یزید ابوعبدالله القزویني، سنن ابن ماجه، دچاپ ځای: بیروت لبنان.

ابن حجر، الحافظ شهاب الدین ابن حجر العسقلاني، فتح الباري شرح صحیح البخاري، دویم چاپ، دچاپ ځای دارالمعرفه بیروت لبنان.

ابوطيب، محمد شمس الحق العظيم آبادى،عون المعبود شرح سنن ابي داود،مع شرح الحافظ شمس الدين ابن القيم الجوزي ، دچاپ كال:١٩٩٥م،دچاپ ځاى: دارالكتب العلمية لبنان.

البخاري، محمد بن اسماعيل ابو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من امور رسول الله وسننه وايامه، دريم چاپ، د چاپ كال: ١٤٠٧هـ ق ١٩٨٧م، دچاپ ځاى: دار ابن كثير اليمامة بيروت .

البيهقي، احمد بن حسين بن علي بن موسى ابوبكرالبيهقي، السنن للبيهقي الكبرى، دچاپ كال: ١٤١٤هـ ق ١٩٩٤م، دچاپ ځاى: مكتبة دارالباز مكة المكرمة.

الترمذي، محمد بن عيسى ابو عيسى الترمذي، الجامع الصحيح سنن الترمذي، دار احياء التراث العربي، بيروت.

الحاكم، محمدبن عبدالله الحاكم النيسابوري، المستدرک بتعليق الذهبي لومړى چاپ، دچاپ كال: ١٤١١هـ ق ١٩٩٠م، دچاپ ځاى: داالكتب العلمية بيروت.

دارقطني، علي بن عمر ابوالحسن الدار قطني البغدادي، سنن دارالقطني، د چاپ كال: ١٣٨٦هـ ق ١٩٦٦م، دچاپ ځاى: دارالمعرفة بيروت.

العسقلاني، أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني، الدراية في تخريج أحاديث الهداية ، تحقيق كونكى: السيد عبد الله هاشم اليماني المدني، د چاپ ځاى: دارالمعرفة بيروت.

مسلم، ابوالحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري، متوفى ٢٦١هـ ق، الصحيح المسلم، د چاپ ځاى: دار احياء التراث العربي بيروت.

النووي، ابوذكريا محيي الدين يحي بن شرف، صحيح مسلم بشرح النووي، دچاپ كال: ١٤٠٧هـ ق ١٩٨٧م، دچاپ ځاى: دارالكتاب العربي بيروت.

دريم: د احاديثو د تخريج كتابونه:

ابن الملقن، عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري، البدر المنير في تخريج الأحاديث والأثار الواقعة في الشرح الكبير، تحقيق كوونكي: مصطفى أبو الغيط و عبدالله بن سليمان وياسر بن كمال، لومړى چاپ، د چاپ كال: ١٤٢٥هـ ٢٠٠٤م، د چاپ ځاى: دار الهجرة الرياض السعودية.

ابن حجر، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد العسقلاني، التلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير، تحقيق: حسن عباس قطب، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۱۶هـ ۱۹۹۵م، د چاپ ځای: مؤسسة القرطبة.

الزيلعي، عبد الله بن يوسف بن محمد، نصب الراية لأحاديث الهداية مع حاشيته بغية الألمعي في تخريج الزيلعي، المحقق: محمد عوامة، دچاپ کال: ۱۴۱۸هـ ۱۹۹۷م، د چاپ ځای: مؤسسة الريان، بيروت لبنان.

العسقلاني ، أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر، الدراية في تخريج أحاديث الهداية، تحقيق کونکی : السيد عبد الله هاشم اليماني المدني، د چاپ ځای:دارالمعرفة بيروت.

الهيثمي، علي بن أبي بكر، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، د چاپ کال: ۱۴۱۲هـ، د چاپ ځای: دار الفكر، بيروت.

څلورم: د اصول فقه او قواعدو کتابونه:

الرازي، فخرالدين محمدبن عمربن الحسين، المحصول فی علم اصول الفقه، دويم چاپ، دچاپ کال:۱۴۱۲هـ۱۹۹۲م، دچاپ ځای: مؤسسة الرسالة بيروت.

الشيباني، ابوالمظفر يحيى بن محمدبن هبيرة، اختلاف أئمة العلماء، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۲۳هـ ق ۲۰۰۲م، دچاپ ځای: دارالکتب العلمية لبنان بيروت .

پنځم: د فقهي ومذاهبو کتابونه:

أ – د حنفي مذهب کتابونه:

ابن عابدين، محمد امين بن عمر بن عبدالعزيزالدمشقي الحنفي، متوفی ۱۲۵۲، رد المحتارعلى در المختار، دويم چاپ، د چاپ کال:۱۴۱۲هـ ق ۱۹۹۲م، د چاپ ځاي: دارالفکر بيروت.

الزبيدي، أبوبكربن علي بن محمدالحداد، الجوهرة النيرة شرح مختصرالقدري، لومړیچاپ دچاپ کال: ۱۴۲۷ هـ ۲۰۰۶م، دچاپ ځای: دارالکتب العلمية بيروت لبنان.

الزيلعی، عثمان بن علی بن محجن البارعی، تبين الحقايق شرح كنزالدقايق، دچاپ کال: ۱۳۱۳هـ ق د چاپ ځاي: مطبعة الکبری الاميرية ، القاهرة.

السرخسی، محمد بن احمد ابن ابی سهل، المبسوط، دچاپ کال ۱۴۱۴هـ ق ۱۹۱۹م، دچاپ ځای: دالرالمعرفه بيروت.

شيخي زاده، عبدالرحمن بن محمد بن سليمان، مجمع الانهر فى شرح ملتقى الابحر، دچاپ كال: ۱۴۱۹هـ ق ۱۹۹۸م، د چاپ ځای: دارالكتب العلمية بيروت لبنان.

الكاساني، علاءالدين ابوبكربن مسعود بن احمد، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، دويم چاپ، د چاپ كال: ۱۴۰۶ هـ ق۱۹۸۶م ، د چاپ ځاي: دارالكتب العلمية.

المرغيناني، أبي الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني، الهداية شرح بداية المبتدي، دچاپ ځای: المكتبة الإسلامية

ب – د مالكي مذهب كتابونه:

ابن رشد، ابو الوليد محمد بن احمد بن محمد بن رشد، بداية المجتهد و نهاية المقتصد، دچاپ ځاي: مكتبه رشيديه.

ابن عبدالبر، ابوعمريوسف بن عبدالله، الكافي فى فقه اهل المدينة، دويم چاپ، د چاپ كال: ۱۴۰۰هـ ق ۱۹۸۰م، د چاپ ځاي: مكتبة الرياض الحديثة السعودية.

الأصبحي، مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني، المدونة الكبرى، دچاپ ځای: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان.

خليل، خليل بن اسحاق الجندي، مختصرالخليل، لومړی چاپ، دچاپ كال: ۱۴۱۶هـ ۱۹۹۵م، دچاپ ځای: دارالكتب العلمية بيروت.

الخرشي، ابوعبدالله محمد بن عبدالله متوفى ۱۱۰۱، شرح مختصرخليل، د چاپ ځای: دارالفكر بيروت.

الدردير، أبو البركات أحمد بن محمد بن أحمد الدردير، الشرح الصغير على أقرب المسالك إلى مذهب الإمام مالك، د چاپ كال: ۱۲۸۱ هـ، دچاپ ځای: مكتبة بولاق بالقاهرة .

القرافي، أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن، الذخيرة، لومړی چاپ، دچاپ كال: ١٩٩٤ م، دچاپ ځای: دار الغرب الإسلامي بيروت .

ج – د شافعي مذهب كتابونه :

الرملي، شمس الدين محمد بن أحمد بن أبي العباس، نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج، آخري چاپ ، د چاپ كال: ١٤٠٤هـ ١٩٨٤م، دچاپ ځای: دار الفكر بيروت لبنان.

شيرازى، أبى اسحاق ابراهيم بن على بن يوسف، المهذب فى فقه الامام شافعى، لومڕى چاپ، د چاپ كال: ١٤١٦هـ ١٩٩٥م، دچاپ ځاى: دارالكتب العلمية بيروت لبنان.

الشربيني، شمس الدين محمد بن احمد، مغني المحتاج الى معرفة الفاظ المنهاج، لومړى چاپ، دچاپ كال: ١٤١٥هـ ١٩٩٤م، دچاپ ځاى: دارالكتب العلمية بيروت.

النووي، ابوذكريا محى الدين يحى بن شرف، المجموع شرح المهذب، دچاپ كال: ١٤٠٧هـ ق ١٩٨٧م، دچاپ ځاى: دارالكتاب العربي بيروت.

النووي،ابو ذكريا محى الدين يحي بن شرف، روضة الطالبين وعمدة المفتين، د چاپ ځاي: دارالكتب العلمية.

د – د حنبلي مذهب كتابونه:

ابن قدامة، ابى محمد عبدالله بن احمد بن محمد، الكافي فى فقه الامام المبجل احمد بن حنبل، لومړى چاپ، دچاپ كال: ١٤١٤هـ ١٩٩٤م، دچاپ ځاى: دارالكتب العلمية بيروت لبنان.

ابن قدامة، أبي محمدعبدالله بن أحمد بن محمد، المغني لابن قدامة دچاپ كال: ١٣٨٨هـ ١٩٦٨م، دچاپ ځاى: مكتبة القاهرة .

ابن القيم، محمدبن ابي بكر الجوزي، اعلام الموقعين عن رب العالمين، دچاپ كال: ١٣٨٨هـ ١٩٦٨م، د چاپ ځاى: مكتبة الكليات الازهرية مصر القاهرة.

البهوتي، منصور بن يونس بن صلاح الدين بن حسن بن ادريس، كشاف القناع على متن الاقناع، دچاپ ځاى: دارالكتب العلمية.

هـ - د ظاهري مذهب كتابونه:

ابن حزم، ابو محمد على بن احمد بن سعيد بن حزم الظاهري، الا حكام فى اصول القران، دچاپ ځاى: دارالكتب العلمية بيروت.

كتاب: مراتب الاجماع في العبادات والمعاملات والاعتقادات.

شپږم: د عامي فقهي كتابونه:

ابن المنذر، محمد بن ابراهيم بن المنذر، الاجماع، تحقيق كونكى: فؤاد عبد النعيم احمد، لومړى جاپ، دچاپ كال: ١٤٢٥هـ ٢٠٠٤م، د چاپ ځاى: دارالمسلم.

تاويل، محمد تأويل، الشركات و احكامها فى الفقه الاسلامى، دچاپ كال: ۱۴۳۰هـ ۲۰۰۹م، دچاپ ځای: دار ابن حزم بيروت لبنان.

الجزيرى، عبدالرحمن بن محمد عوض، الفقه على مذهب الاربعة، دچاپ كال: ۱۴۲۴ ه ق ۲۲۰۰۳، دچاپ ځاي: دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

الخياط، عبدالعزيز عزت، الشركات فى الشريعة الاسلامية والقانون الوضعي، څلورم چاپ، دچاپ كال: ۱۴۱۴هـ ۱۹۹۴م، دچاپ ځای: دارالبشير عمان.

الخفيف، علي الخفيف، الشركات فى الفقه الاسلامى، دچاپ كال: ۱۴۳۰هـ ۲۰۰۹م، دچاپ ځای: دارالفكر العربى القاهرة.

الزرقاء، مصطفى احمد، المدخل الفقهى العام، لومړی چاپ، دچاپ كال: ۱۴۱۸هـ ۱۹۹۸م، دچاپ ځای: دارالقلم دمشق.

الزحيلي، وهبة بن مصطفى، الفقه الاسلامي و ادلته، څلورم چاپ، دچاپ ځای: دارالفكر دمشق سورية.

شحاته، حسين حسين، فقه ومحاسبه زكاة الشركات، دچاپ ځای: دارالنشر للجامعات.

النبهاني، تقي الدين النبهاني، النظام الاقتصادي فى الاسلام، دچاپ كال:۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م، دچاپ ځای: دارالامامة بيروت لبنان.

اووم: د قانون كتابونه:

احمد، ابراهيم سيد احمد، العقود والشركات التجارية، دچاپ كال: ۱۹۹۹م، دچاپ ځای: دارالجامعة.

دافغانستان مدني قانون، لومړی چاپ، دچاپ كال: ۱۳۹۰المريز، دچاپ ځای: مطبعه طباعتی احمد.

د عراق دشركتونو قانون، ګڼه:۳۶، د مصوبې كال: ۱۹۸۳م.

د كويت د شركتونو قانون، د مصوبي كال: ۱۹۶۰م.

د اردن د شركتونو قانون، ګڼه: ۲۲، د مصوبې كال: ۱۹۹۷م.

د انګلستان د شركتو قانون، ۲۰۰۶م.

د متحده عربي اماراتو، د تجارتي معاملاتو قانون، ګڼه: ۱۸، كال: ۱۹۸۳م.

د مصر د تجارت د ثبتولو قانون، ګڼه: ۳۴، کال: ۱۹۷۶م.

رسمي جرېده، دافغانستان دتضامني شرکتونوقانون، دخپرېدو نېټه: ۱۳۸۵لمریز کال.

رسمي جرېده، دتجارت اصولنامه، دخپرېدو نېټه: ۱۳۳۶لمریز کال، دچاپ کال: ۱۳۸۶لمریز.

سامي، فوزي محمد، الشرکات التجاریة لاحکام العامة والخاصة، لومړی چاپ، دچاپ کال، ۱۴۳۰هـ ق ۲۰۰۹م، دچاپ ځای: دارالثقافة للنشر والتوزیع .

الشرقاوي ، محمود سمیرالشرقاوی، القانون التجاري، دچاپ کال: ۱۹۸۲م، دچاپ ځای: دارالنهضة العربیة .

الصوص، مبادئ القانون التجاري، دچاپ کال: ۱۴۲۸هـ ۲۰۰۷م، لومړی چاپ، دچاپ ځای: دار اجنادین، دچاپ کال: ۱۴۲۸هـ ۲۰۰۷م.

لجنة مکونة من عدة علماء و فقهاء فی الخلافة العثمانیة، دمجلة الاحکام العدلیة، دچاپ ځای: نورمحمد کتاب خانه آرام باغ کراتشي.

میرزایي، د کترعلی محمد، حقوق تجارت افغانستان، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۳۹۸هـ ش، د چاپ ځاي: مؤسسه نشر واژه کابل.

اتم: د لغت اومعجم کتابونه:

ابن فارس، ابی الحسین احمد بن فارس، معجم مقاییس اللغة، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۱۵هـ۱۹۹۴م، دچاپ ځای: دارالفکربیروت لبنان .

ابن منظور، محمد بن مکرم بن علی، لسان العرب، دریم چاپ، دچاپ کال: ۱۴۱۴هـ ق، دچاپ ځای: دارصادر بیروت.

الرازي، زین الدین محمدبن ابی بکربن عبدالقادر، مختارالصحاح، پنځم چاپ، دچاپ کال :۱۴۲۰هـ ق ۱۹۹۹م، المکتبة العصریة الدارالنموذجیة بیروت.

نهم: موسوعي او مجلې:

الفواز، مجلة دراسات، علوم الشریعة والقانون، التکییف الفقهي لشرکة التضامن، ګڼه : ۱ ، دچاپ کال: ۲۰۰۷م .

هیئت کبارعلماءالاسلام، الموسوعة الفقهیة الکوتیة،دچاپ ځاي: مکتبه رشیدیه باکستان.

لسم: د تراجمو کتابونه:

اعلام السیاسة فی العراق الحدیث، د پاڼې ګڼه: ۵۷۳، د چاپ کال: ۲۰۰۴، د چاپ ځای: دارالحکمة لندن.

شبیر، الدکتور محمدعثمان، علماء ومفکرون معاصرون الشیخ علي الخفیف، دپاڼې ګڼه: ۱۷، ۲۹، ۱۱۳، دچاپ کال:۱۴۲۳هـ۲۰۰۲م، دچاپ ځای: دارالقلم دمشق.

الزرکلي، خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الأعلام، دټوک ګڼه:۲، دپاڼې ګڼه: ۶۷، دچاپ کال: ۲۰۰۲م، د چاپ ځای: دار العلم للملایین.

یوولسم: الترونیکي اخیستځایونه:

البابرتي، محمدبن محمد بن محمود اکمل الدین بن شیخ شمس الدین، العنایة شرح الهدایة، دخپرېدو سایت: http: //www.al-islam.com

العباد، عبدالمحسن بن حمد بن عبدالمحسن بن عبدالله، شرح سنن ابوداود، دخپرېدو سایت:

http://www.islamweb.net

نسمات في تراجم علماء و صلحاء تاونات- العلامة الدکتور محمدالتأویل
https://taounate.net/archives/۷۷۱

# The Research Summary

**This discussion is presented in three chapters, which are summarized below:**

**First Chapter:** In this chapter, I talked about the reality of the company and its legitimacy in Islamic jurisprudence, as well as the types of companies in Islamic jurisprudence and the types of companies in the statutory law, then the company during the definition and description of its general and private elements, in this chapter , I have mentioned the characteristics of a company and the characteristics of a joint-stock company in Islamic jurisprudence, and I also explained enough about the institutionalization of a joint-stock company.

**Second Chapter:** In this chapter, the ruling of the joint venture company in the light of Islamic jurisprudence and its compatibility with companies in Islamic jurisprudence, and the administrative provisions of joint venture company in Islamic jurisprudence, and the salary of the manager in this company. The manager’s responsibilities, and then this chapter also includes the rules of the partnership company in Islamic jurisprudence, and the effect of the share of the partners of the same company, and at the end of this chapter, the distribution of the company’s profits and losses was discussed.

**Third Chapter:** In the last chapter, I have pointed out the reasons for the termination of the joint venture in the light of Islamic jurisprudence and commercial law, and the termination provisions of the joint venture and the division of the contracts on the basis of necessity and non-necessity, and also the liquidation of this company has been described, and the effect of the dissolution of the joint-stock company and finally the effect of the termination of this company in the light of Islamic jurisprudence has been mentioned.

**Discussion Conclusion:** This conclusion is based on the most important results and some recommendations

Salam University

Faculty of Sharia and Law

Jurisprudence and Law Master's Program

Afghanistan Islamic Emirate

Ministry Of Higher Education

# Provisions of Joint Ventures from the Point Of View of Jurisprudence and Law

**(Master Treatise)**

**Student/Pupil: Ahmadullah "Ahmadi"**

**Guide Teacher: Wazir Mohammad "Sayedi"**

**Year: ٢٠١٩**

Salam University

Faculty of Sharia and Law

Jurisprudence and Law Master's

Program

Afghanistan Islamic Emirate

Ministry Of Higher Education

The Meaning of Scientific Affairs

# Provisions of Joint Ventures from the Point Of View of Jurisprudence and Law

(Master Treatise)

**Student/Pupil: Ahmadullah "Ahmadi"**

**Guide Teacher: Wazir Mohammad "Sayedi"**

**Year: 2019**